د سرحدونو قومونو او قبايلو چارو وزارت
Ministry of Borders and Tribal Affairs

# جرګه

## علمي، سياسي، څېړنيزه او ادبي مجله

نن په افغانستان کې د تنظيم، قوم، سيمې او نژاد په نومونو هېڅ ډول وېش شتون نه لري، ټول قومونه پر يو ميز راټول دي او يو نظام چلوي.

الحاج ملا نورالله نوري
د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو سرپرست وزير

درېيمه دوره: ۱۴۴۵ هـ ق رمضان المبارک – ذوالقعدة الحرام    د تأسيس کال (۱۳۶۱)

# Jirga
## Magazine

April - June 2024



د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست

mobta.gov.af
درېيم مکروريان، د هوايي ډګر سړک، کابل
+93 (0) 20 231 1711
info@mobta.gov.af

## د لیکنو نوملړ


| | |
|---|---|
| سرمقاله | ۲ |
| خبرونه او راپورونه | ۳ |
| په یووالي ټینګار | ۹ |
| یو ودان افغانستان؛ پرېکنده هڅو، ډېر زیار او... | ۱۲ |
| په افغاني ټولنه کې ناوړه دودونه | ۱۴ |
| د ابوبکر درېڅه(دریچه) | ۲۰ |
| په افغاني ټولنه کې د جرګو ارزښت | ۲۱ |
| پرکورنۍ او بهرنۍ سوداګرۍ د واخان دهلېز اغېزې | ۲۴ |
| د لومړۍ او دویمې نړیوالې جګړې پر مهال د افغانستان... | ۲۷ |
| د افغان کلمې تاریخي ریښه او په افغانستان کې یې کارول | ۳۷ |
| په تېرشل کلن جهاد کې د ترنم او ترانو نقش | ۴۲ |
| د سویلي پښتونخوا په لنډو کیسو کې د نوو توکو اړتیا شته؟ | ۴۵ |
| په شخصیت جوړونه کې د ښځې ونډه او رول | ۵۴ |
| عملي مېراته | ۵۷ |
| د افضل خان خټک ژوند او علمي هڅې | ٦٠ |



## کتنپلاوی

ښاغلی مولوي محمد اسماعیل «غزنوي»
ښاغلی مفتي شفیع الله «ثاقب»
ښاغلی ملا حمد الله «فطرت»
ښاغلی مفتي تسلیم الله «حقاني»
ښاغلی اکاډمیسین سید محی الدین «هاشمي»
ښاغلی څېړنپوه دوکتورمحمدشریف «ځدراڼ»
ښاغلی څېړنوال سید نظیم «سیدي»
ښاغلی شفیع الله «محمدي»
ښاغلی څېړندوی وجیه الله «ظهیر»
ښاغلی شریف الله شرافت «ویاړ»

## کار ډله

مسوول مدیر: عزت الله «مینه ناک»
مسوول سکرتر: محمد موسی «ستانکزی»
ګرافکس ډیزاینر: فضل مالک «دولت زی»


mobta.gov.af

یادونه: اداره یوازې د سرمقالې مسوولیت لري

د ولس سرلوړي او نیکمرغي په یووالي، حریت، امنیت، پرمختګ او له خپلو ملي او اسلامي ارزښتونوسره سم ژوند او په دې برخه کې په کار او هڅو کولو کې ده، چې هېڅکله مغرض هېوادونه، کړۍ او ورسره د دوی د موخو تطبیق کوونکي مزدورې رسنۍ نه غواړي چې زموږ هېواد او میړنی ولس له هغې څخه برخمن وي، هڅه کوي چې وضعیت نا امنه وښیي او په خپلو کاذبو او درواغجنو څرګندونو او خپرونوسره اندېښـــنې را وپاروي ، بې باوري رامنځته کړي او د لارې خنډ مو وګرځي، چې افغان ولس د دوی په مغرضانه هڅو او دا چې غواړي د کرکې ، نفاق او شقاق تخمونه وشیندي ښه پوهیږي. له همدې امله د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت له خوا د زرګونو مشرانو په ګډون غونډو کې وېناوالو او ګډونوالو په یووالي ټینګار کړی دی او له ولس څخه یې غوښتي دي چې د دوی د شومو اغراضو پروړاندې هوښیار او بیدار اوسي.

د ولس دا ډول دریځ نېول هغوی ته دا پیغام ورکوي چې هېڅ ډول چلوټې مو ځای نه نیسي او دا ولس په یووالي د خپلو شته ستونزو د حل لپاره ګام په ګام مخته ځي او د پر مختګ پرلورخپل یون ته دوام ورکوي.

په رښتیا هم چې یو موټې ملیتونه تر نورو ښه کولای شي په خپله خاوره کې امنیت تامین، له خپلې خاورې د پردیو لاسونه لنډ او د پرمختګ لارې چارې ولټوي، له خپلو شته امکاناتو کار واخلي او د خپلو ملي اواسلامي ارزښـتونو په رڼا کې چارې سمبال او مخکې تګ ته دوام ورکړي.

نننۍ له امن نه ډک حالات چې لسیزې وروسته د افغانستان د اسلامي امارت په بریالیتوب سره رامنځته شوي دي دا د هر افغان لپاره یو فرصت دی چې په استفادې یې د هېواد په ودانولو کې ونډه واخلي او خپل اسلامي او ملي مسـولیت د خپل هېواد اوولس په وړاندې ترسره کړي. د افغانستان اسلامي امارت د هېواد ابادۍ ته ژمن دی او دغه ژمنتیا یې ثابته کړې هم ده، له پانګوالو ملاتړ کوي، د پانګې د جذبولو لپاره یې کار کوي او هم ورته د لازمو اسـانتیااوو د برابرولو هڅه کوي. نن تر بل هر وخت هېواد کې پراختیایي لویې او وړې پروژې تر کار لاندې دي او د ورځې په تېرېدو سره یې شمېر لا ډېرېږي، دا ټولې هڅې یوازې د هېواد د بســــاینې او افغان ولس د هوساینې لپاره ترسره کېږي او دا بهیر به هغه مهال لا ګړندی شي چې په یووالي له خپلو شــــته امکاناتوسره برابر د پراختیا او پرمختیا پړاو کې برخه واخلو. د هېواد ودانول یوازې د دولتونو دنده نه، بلکې د ټولو هېوادوالو په ځانګړې توګه د هغو هېوادوالو دنده هم ده چې د دې هېواد د یو وګړي په توګه بېلابېلو برخو کې د پانګونې امکانات او صلاحیت لري، باید د خپل هېواد د خیر او فلاح لپاره لاس پکار شي لکه یوشمېر هېوادوالو چې په هېواد کې د ننه یې پانګونه کړې ده او ګڼ شمېر ځوانان یې له ځان سره په کاربوخت کړي دي ، په تولید ، سوداګرۍ او نورو برخو کې یې کار واقعاً د قدر وړ دی، ځومره به ښــــه وي چې نوردرانه هېوادوال هم خپلې پانګې هېواد کې د ننه پکار واچوي او په خپل یو وړوکي کار هم د پرمختګ په لور روان بهیر کې ونده واخلي.موخه معلومه ده هغه دا چې باید خپله ټولنه پخپلو پښـو ودرو، صـادرونکی هېواد شـــو او د نورو له احتیاجې تر یوه حده د خود کفایي خواته په روان حرکت کې شریک شـــو او دې موخې ته د رسـېدو لپاره یووالی وسـاتو یعنې د خپل ګران هېواد د ودانولو لپاره سره لاسونه ورکړو اوله توپیرونو پرته یو د بل ترڅنګ د خپلې ټولنې د سالمیت، پرمختګ او هوسـاینې لپاره په ډېرې لېوالتیا عملي کار وکړو او پردیو ته د تل په څېر ثابته کړوچې افغان ولس یوموټی ولس دی، یرغلونه هم ددې ولس ترمنځ په یووالي مات شـــــوي او خپل هېواد به هم په یووالي ودانوو. ان شاءالله

# خبرونه او راپورونه

## د اسلامي نظام او ملي یووالي د استحکام ستره ولسي غونډه

۱۴۴۵/۸/۱۲۶ هـ ق

ننګرهار ولایت کې د ختیځ زون په کچه (د اسلامي نظام او ملي یووالي د استحکام) تر عنوان لاندې یوه ستره ولسي غونډه ترسره شوه، په یاد ه غونډه کې د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت سرپرست الحاج ملا نور الله نوري، د امر بالمعروف نهی عن المنکر او د شکایتونو د اوریدو سرپرست وزیر شیخ محمد خالد الحنفي، د یاد وزارت معینانو، د اسلامي امارت مسؤلینو، دیني علماوو، قومي مشرانو او عامو خلکو ګډون کړی وو.

قومي مشرانو د خبرو پر مهال وویل: دا د شکر ځای دی، چې د هېواد په کچه داسې ناستې جوړېږي، چې ولسونه یو له بل سره خواله کوي اوخپلې ستونزې له خپل نظام سره شریکوي.

دوی زیاته کړه: نور دلته هیڅ چا ته اړتیا نشته، هیڅ پردی نور په دې خاوره کې ځای نه لري او موږ ټول ولسونه د دې نظام د بقا لپاره د نظام ملاتړي یو. ځکه چې مسؤلین یې د ولس خادمان دي نه آمرین، د دې نظام امیر المؤمنین د اسلام د بقاء لپاره خپل د کورنی غړي قرباني کړي.

قومي مشرانو وویل: له حکومت څخه غوښتنه کوو چې د کونړ سیند مهار شي، تر نورستان پورې دې لویه لار ورغول شي،دغه راز د ولسوالیو تر منځ یې د سړکونو، روغتیایي کلینیکونو، برېښنا بندونو د جوړولو او د شخړو د حل په برخه کې یې د پاملرنې غوښتنه وکړه.

د امربالمعروف او شکایتونو د اوربد و وزارت سرپرست شیخ محمد خالد الحنفي په خپلو خبرو کې وویل: د هېواد پرمختګ د ولسونو په اُخوت او وروری کې دی .

ښاغلي حنفي زیاته کړه: د دې هېواد یو څو کسه له بهرنیانوسره یو ځای ولاړل او اوس له هغه ځایه د هېواد پر ضد شوم تبلیغات کوي، خو دا هر څه دوی ته هیڅ ګټه نه رسوي، ځکه تاسې دا نظام وینئ او خپل نظام له نږدې مطالعه کوئ.

د جرګو او قبایلو چارو د همغږۍ معین مولوي محمد علي جان احمد وویل: نړیوالو ځواکونو افغان قومونه د قوم، ژبې او سمتونو په نومونوسره ووېشل، کور په کور او کلي په کلي یې بدی واچولې او د افغانانو وینې یې تویې کړې.

هغه زياته کړه: دې نظام ته د نورو حکومتونو په ستر گو مه گورئ، ولسه! دا ستاسې په برکت راغلی نظام دی، دا نظام د هیڅ یوه پردي په همکارۍ نه دی راغلی.
په پای کې د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت سرپرست الحاج ملا نور الله نوري پخپله وینا کې ولسونه او قومي مشران یې ټول مجاهدین یاد کړل ویې ویل چې تاسې د روس او انگریزانو پر وړاندې کلک جهاد کړی، ټول دنیاوال په دې قانع دي چې افغانانو د جهاد او قربانیو په نتیجه کې یو سوچه اسلامي نظام پایدار کړی .
ښاغلي نوري زیاته کړه: نه دا ډول ملت بل ځوک لري، نه له دا ډول حکومت څخه بل څوک برخمن دي، راځئ! له تېر جهاد څخه عبرت واخلو ، خپله خپلواکي وساتو او د غرب په تبلیغاتو ونه غولېږو، لکه پرون چې مو سنگر فریضه وه، نن مو د نظام ساتنه فریضه ده. نن داسې ورځ راغلې چې ځمکه ستا ده، نظام ستا دی، مسؤلین ستا دي او دفتر هم ستا دی. هغه زیاته کړه: موږ ستاسې مسؤلین نه، بلکې ستاسې خادمان یو، ستونزې او غوښتنې به مو د خپل وس په اندازه حل او تر لوړ پوړو چارواکو به یې رسوو..

## جنوب ختیځ زون کې د اسلامي نظام او ملي یووالي د استحکام ستره غونډه

۸/۱٤٤٥/۲۹ هـ ق

پکتیا ولایت کې هم د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت له خوا د جنوب ختیځ زون په کچه د اسلامي نظام او ملي یووالي استحکام تر عنوان لاندې لویه ولسي غونډه ترسره شوه.
په یاده غونډه کې د یاد وزارت سرپرست الحاج ملا نور الله نوري، د اوبو او برېښنا وزارت سرپرست مولوي عبد اللطیف منصور، د مهاجرینو، کډوالو او راستنېدونکو چارو وزیر الحاج مولوي محمد خلیل حقاني، د وزارت معینانو، د اسلامي امارت مسؤلینو، د جنوب ختیځ زون اړوند ولایتونو دیني عالمانو، قومي مشرانو او سلگونه هېوادوالو گډون کړی وو.
قومي مشرانو وویل: دا نظام داخلي مشروعیت لري، موږ د افغانستان د جنوب ختیځ زون په کچه ټول ولسونه له دې نظام سره همکار یو، په دې نظام کې مو پت او عزت خوندي دی، دا نظام په ولس کې محبوبیت لري.
دغه راز قومي مشرانو له حکومت څخه د یوشمېر ځایي ستونزو د حل غوښتنه وکړه.
د اوبو او برېښنا سرپرست وزیر الحاج مولوي عبداللطیف منصور د خبرو پر مهال وویل: زموږ سیاسي فضاء ازاده ده، جغرافیه مو خپلواکه ده، نظام مستقل او خپلواک دی، دا نظام یوازې د مجاهدینو نه دی، دا د دې ټولو خلکو نظام دی، چې قیادت یې د دیني علماوو په لاس کې دی، تاسې که هره غوښتنه لرئ، موږ یې په سر سترگو منو او تر وسه به یې د حل په برخه کې هڅې کوو.
د مهاجرینو، کډوالو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر الحاج مولوي محمد خلیل حقاني پخپله وینا کې وویل : دا هغه قومونه، ملتونه او اتلان دي چې په یوې پېړۍ کې یې درېو یرغلگرو قوتونو ته ماته ورکړه، دا خپلواکي د دې قومي مشرانو، دیني عالمانو او ځوانانو د سربښندنو او قربانیو په برکت راغلې ده، موږ ستاسې خادمان یو، تر خپله وسه به ستاسو ټولو ستونزو ته رسېدنه کوو.
په پای کې د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو سرپرست وزیر الحاج ملا نورالله نوري په خپلو خبرو کې وویل: دا د شکر ځای دی چې یوازې له مشرانوسره د ملاقات او قومونو د ستونزو اوریدلو لپاره را ټول شوي یو، ښاغلي نوري زیاته کړه: نن ترکمن، هزاره، پښتون، تاجک او هر چا ته خپل حقوق ورکول کېږي، ځکه په اسلام کې توپیر نشته، برتري یوازې په تقوا ده، زموږ دا مکلفیت دی چې د اسلامي نظام پالنه وکړو او په ساتنه کې یې خپل مسؤلیت اداء کړو.

## له یو شمېر بلوڅ قومي مشرانو سره کتنه

شنبه ۲۴ ذوالقعدة الحرام ۱۴۴۵

دسرحدونو، قومونو او قبایلو چارو سرپرست وزیر الحاج ملانورالله نوري په داسې حال کې چې د وزارت د اطلاعاتو او عامه اړیکورئیس مفتي تسلیم الله حقاني هم حضور درلود د هېواد له ۲۶ ولایتونوڅخه راغلیو بلوڅ قومي مشرانو ، دیني عالمانو، مخورو او ځوانانوسره د وزارت د کنفرانسونو په تالار کې و کتل.
په دې کتنه کې بلوڅ مشرانو په خپلو خبرو کې د اسلامي نظام په شتون خوښي څرګنده کړه ویې ویل چې یاد نظام له هر ډول تبعیض پرته د ټولو قومونو پر مخ د اداورورازې پرانیستې دي او نن د بلوڅو په شمول ټول افغانان کولای شي د افغانستان د اسلامي امارت له مسوولینوسره خپلې ستونزې اوغوښتنې شریکې کړي او دغه رازیې د هېواد په بلوڅ مېشتو سیموکې د روغتیایي مرکزونو د جوړولو، د خیریه مؤسیسولـه خوا د فعالیتونود پیلولو، د وزارت په اړوند تعلیمي مرکزونو کې د ځوانانو د جذبولو، ، د بلوڅي ژبې د بډاینې او اوپه ادارو کې یې د ځوانانو د ګمارنې په اړه یو لړ ستونزې او غوښتنې د حل په موخه شریکې کړې زیاته یې کړه چې بلوڅ ځوانان د اسلامي نظام هر ډول خدمت ته چمتو دي.
وروسـتــه سرپرست وزیر ښاغلي ملا نورالله نوري په خپلو خبرو کې وویل چې بلوڅ قومونو د تېر شل کلن جهاد په اوږدو کې د اشغالګرو پر وړاندې د خاورې د دفاع په خاطر ډېرې قرباني ورکړې دي چې اسلامي امارت ورته د قدر په سترګه ګوري.
ښاغلي نوري ډاډ ورکړچې په سیمو کې به یې د نورو ولایتونو په څېر ستونزو ته پاملرنه اورسېدنه وشي..

## د کوچیانو لوی ریاست خپل ترسره شوي کارونه و ارزول

۱۶/۹/۱۴۴۵ هـ ق

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت اړوند د کوچیانو چارو د ســـمون لوی رئیس الحاج مولوي ګل زرین کوچي د یوې ناستې په ترځ کې چې د یاد ریاست اړوند د کوچیانو د څرځایونو رئیس مفتي لعل محمد منیب، د کوچیانو د اسکانو رئیس مولوي محمد نادر سنګین او نورو کارکوونکو هم حضور درلود، د ۱۴۰۲ لمریز کال په اوږدو کې د ریاست له لوري ترسره شوي فعالیتونه او ترسره شوي کارونه و ارزول.
د غونډې په پیل کې د څرځایونو او اسکانو ریاستونو رئیسانو او کارکوونکو په تېر کال کې کوچیانو ته د عامه پوهاوي په برخه کې د ټریننګونو د ورکولو په پار د ورکشاپونو د جوړولو، حیواني او انساني کلینیکونو د فعالیتونو د څرنګوالي، د کوچیانو د اسکانو د تثبیت ، په اقتصادي برخه کې د کوچیانو تولیداتو ته د بازارموندنې او د څرځایونو د ساتنې په برخه کې د ترسره شویو خدمتونو او د هېواد په کوچي مېشتو ولایتونو کې د شته ستونزو په اړه معلومات وړاندې کړل. وروسته د ستونزو د حل په لارو چارو هر اړخیز بحث وشو. د کوچیانو چارو د سمون لوی رئیس ښاغلي مولوي ګلزرین کوچي د ترسره شویو خدمتونو ستاینه وکړه، د کوچیانو د مالدارۍ په خوندیتوب، د اسکانو او څرځایونو په تثبیت،زده کړوته یې په پاملرنې، د روغتیایي ستونزو پر حل او د چاروپر وخت ترسره کولو یې ټینګاروکړ .

## د یو شمېر مؤسسو له مسئولینو سره کتنه

یکشنبه ۷ رمضان المبارک ١٤٤٥

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو سرپرست وزیر الحاج ملا نورالله نوري د وزارت د کنفرانسونو په تالار کې دUNDP، OCHA، WFP، UNHCR او یو شمېر نورو مؤسسو له مسئولینوسره وکتل. د دې کتنې پر مهال د وزارت د جرګو او قبایلي چارو د همغږي مرستیال ښاغلي مولوي احمد علي جان احمد او د معلوماتي ټکنالوژۍ رئیس قاري عبد المتین رحیمزي هم حضور درلود .

په دې کتنه کې د OCHA مؤسسې مشرې اغلې اوچار سانبالي او WFP مؤسسې مسؤلې اغلې شاوي په خپلو خبرو کې د افغانستان د اسلامي امارت له همکاريو په مننې راتلونکي کال کې د خپلو برنامو او کاري لومړيتوبونو په اړه معلومات وړاندې کړل ويې ويل له افغانستان سره د يادو مؤسسو همکارۍ اوږده مخينه لري .

وروسته د جرگو او قبايلي چارو د همغږۍ مرستيال ښاغلي محمد علي جان احمد د يادو مؤسسو له مسؤلينو سره په خبرو کې وويل په افغانستان کې اوږدو جگړو، وچکاليو او طبيعي پېښو خلک له سختو ستونزو سره مخ کړي، اړتيا ده چې له دوی سره بشري مرستې ترسره شي او ستونزو ته يې په وخت رسېدنه وشي .

وروسته د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو سرپرست وزير الحاج ملا نورالله نوري د هېواد له گڼ شمېر خلکو سره د يادو مؤسسو له مرستو په مننې وويل: په افغانستان کې د بشپړ امنيت په راتگ سره د مرستندويه مؤسسو فعاليت ته تر بل هر وخت ښه زمينه برابره شوې ده، نوموړي دغه راز زياته کړه چې د افغانسان د اسلامي امارت مسؤلين ټولو همکارو مؤسسو ته ډاډ ورکوي چې په افغانستان کې خپلې چارې په ازادانه ډول له اسلامي اصولو سره سمې پر مخ وړلی شي، چې له دې سره به په راتلوونکي کې د لاغوره فعاليت زمينه برابره شي.

## په زابل ولايت کې شخړه حل شوه

٢٧/١٠/١۴۴۵

د زابل ولايت د ارغنداب ولسوالۍ د سر درې، دولت او امني کليو تر منځ د روژې په ٢٦ مه نېټه د ځمکو پر سر راپېښه شوې شخړه، چې له امله يې دوه کسه ژوبلېدلي او يو کس وژل شوی و، د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو سرپرست وزير الحاج ملا نورالله نوري په مشرۍ د يوه اصلاحي پلاوي په منځگړيتوب حل شوه .

په پلاوي کې د يادې ولسوالۍ ولسوال سيد نوراغا راحت، امنيه قومندان نورالله صديقي، ٦ تنه ځايي علماء او لس تنه قومي سپين ږيري د مصليحينوپه توگه ټاکل شوي وو، چې د موضوع په اړه يې له پوره تحقيق او څېړنې وروسته، عادلانه پرېکړه وکړه چې دواړه لوريو ته د منلو وړ او ورباندې راضي شول او يو بل ته يې د پخلاينې غېږه ورکړه. د يادولو ده چې د ١۴٠٣ لمريز کال په لومړيو دريو مياشتو کې د وزارت اړوند دويمو واحدونو د هېواد په بېلابېلو ولايتونو او ولسواليو کې د ديني عالمانو او قومي مشرانو په همکارۍ لسگونه شخړې حل او ښکېلې غاړې يې سره پخلا کړې دي.

## د کندهار ولايت سپين بولدک ولسوالۍ ته سفر

١۴۴۵/١٠/٢٦

د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو سرپرست وزير الحاج ملا نورالله نوري، چې د کندهار ولايت د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو رئيس ملا عبدالباري او مل پلاوي يې ملتيا کوله د کندهار ولايت د سپين بولدک ولسوالي ته سفر وکړ.

د ياد سفر په پيل کې ښاغلي نوري د بولدک ولسوالۍ د تخت پول په سيمه کې د راستنو شويو مهاجرينو د انځرگي کېمپ وکوت. او د را ستنو شويو مهاجرينو په پنډغالي کې يې د دوی له وضعيت څخه ډاډ ترلاسه کړ.

وروسته يې د بولدک له ولسوال ملا عبدالله بشير او کميسار ملا عبدالباقي احمد سره يوځای د سپين بولدک له دروازې څخه هم لېدنه وکړه او د راستنېدونکو مهاجرينو او مسافرو د ستونزو په اړه يې له کمېسار، ولسوال او نورو مسؤلينو څخه هر اړخيز معلومات ترلاسه او د حل ډاډ يې ورکړ.

## پنجشېر ولايت کې له ولسونو سره غونډه

١/١١/١۴۴۵

د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو سرپرست وزير الحاج ملا نورالله نوري په پنجشېر ولايت کې د رياست الوزراء د سياسي

مرستیال مولوي عبدالکبیر په مشرۍ له ولسونوسره د یووالي په جوړه شوې غونډه کې ګډون وکړ. د یادې غونډې پر مهال د ریاست الوزراء د سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر په شمول د امربالمعروف نهي عن المنکر او شکایتونو اورېدلو سرپرست وزیر شیخ محمد خالد الحنفي، د صنعت او سوداګرۍ سرپرست وزیرالحاج نورالدین عزیزي، د پنجشیر والي الحاج محمد اغا حکیم، ځایي ولایتي مسؤلینو او ولسي استازو ګډون کړی وو.

په پیل کې قومي سپین ږیرو، جهادي مشرانو او ولسي استازو د یاد ولایت د بېلابېلو سیمو د خلکو ستونزې له مسؤلینو سره د حل په موخه شریکې کړې او دغه راز د پنجشېر ولسونه یې د نظام کلک ملاتړي وبلل او له راغلیو لوړرتبه مسؤلینوسره یې د هر ډول همکارۍ ژمنه وکړه .

ورپسې د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر وویل: کوم نظام چې په افغانستان کې حاکم دی دا نه یوازې طالبانو او علماوو غوښت، بلکې د افغانستان ولس هم د داسې یوه نظام هیله درلوده چې د دوی عزت، ناموس، اسلامي مقدسات او ټول ارزښتونه پکې خوندي وي. وروسته د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو سرپرست وزیر ښاغلي نوري غونډې ته په خپله وینا کې د قومونو تر منځ په اتحاد ټینګار وکړ او د اشغال پر وړاندې د افغانانو د جهاد او مبارزې ستاینه یې وکړه، ښاغلي نوري همدارنګه په بېلابېلو برخو کې د افغانستان د اسلامي امارت ترسره شویو خدمتونو ته اشاره وکړه: ویې ویل: الله ج افغانانو ته له ډېرو ناخوالو څخه نجات ورکړ، افغانستان اوس پر قومونو، ګوندونو او سمتونو نه دی تقسیم، بلکې ټول قومونه تر یوه چتر لاندې په خپل هېواد کې آزاد ژوند کوي. د افغانستان د اسلامي امارت نورو مسؤلینو هم ویناوو کې په یووالي ټینګار وکړ او ستونزو ته د حل لارو پیدا کول یې خپل مکلفیت او فریضه وبلله.

## د بامیان، غزني او میدان وردګ ولایتونو له ولسي استازو سره کتنه

۱/۱۱/۱۴۴۵

د بامیانو، غزني او میدان وردګ ولایتونو ولسي مشرانو د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت د جرګو او قبایلو چارو له مرستیال مولوي محمد علي جان احمد سره د هغه په کاري دفتر کې وکتل.

د لیدنې په ترڅ کې راغلیو مشرانو د اسلامي امارت د مسؤلینو له لوري د ترسره شویو خدمتونو ستاینه وکړه او د کرنیزو ځمکو د ورکړې، د کوچیانو د څرځایونو د تثبیت او د خپلمنځي شخړو د حل په برخه کې یې د پاملرنې غوښتنه وکړه او د قومونو ترمنځ یې د اتحاد او یووالي په اړه ډاډ څرګند کړ .ورپسې د جرګو او قبایلو چارو د همغږۍ معین ښاغلي مولوي احمد د قومي مشرانو تر منځ په ولسي یووالي او اتحاد خوښي څرګنده کړه ویې ویل: نن لله الحمد د خلکو تر منځ نفرتونه ختم او تر منځ یې د یووالي فضاء ده. هغه زیاته کړه: اتحاد د ملتونو د بري لار ده، هغه کسان چې نفاق خپروي په دې خاوره کې به هیڅکله ځای پیدا نه کړي. نوموړي د ولسونو ستونزې د پام وړ وبللې او په یادو برخو کې یې د پوره همکارۍ ډاډ ورکړ..

## د پکتیکا ولایت له یو شمېر قومي سپین ږیرو سره ناسته

۲۷/۱۰/۱۴۴۵

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو سرپرست وزیر الحاج ملا نورالله نوري د پکتیکا ولایت برمل ولسوالۍ له قومي مشرانوسره وکتل.

د کتنې پر مهال قومي سپین ږیرو، برمل یوه له خدمتونو بې برخې او لرې پرته ولسوالۍ یاده کړه او د کلینیکونو، سړک او نورو اسانتیاوو نه شتون یې خپلې ستونزې وبللې. دغه راز یې د وروستي کال د زلزلې له کبله د پکتیکا ولایت برمل او ګیان ولسوالیو ته اوښتي زیانونه یاد کړل او یاد ولایت ته یې د روغتیا، ښوونې او روزنې او پراختیایي چارو په برخو کې د پاملرنې

غوښتنه وکړه.
ورپسې د یاد وزارت سرپرست ښاغلي نوري ، د اشغال پر وړاندې د ولس د مبارزې او سترپاوو یادونه وکړه ویې ویل: تاسې هغه ولسونه یاست چې د تېر اشغال پر وړاندې دربدلي واست او مجاهدین مو په خپلو کورونو کې ساتلي وو، اوس ستاسې حق دی چې پاملرنه او خدمت درته وشي. نوموړي راغلیو مشرانو ته ډاډ ورکړ چې ستونزې به یې له اړوندو ارګانونوسره د حل په موخه شریکوي…

## په تخار او بغلان ولایتونو کې له سېلاب ځپلو کورنیو سره مرسته وشوه ۱۰/۱۱/۱۴۴۵

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت (د افغان ماشومانو لپاره د جرمني د مرستو) مؤسیسې په مالي همکارۍ د تخار ولایت په چال ولسوالۍ کې له (۱۰۱) سېلاب ځپلو کورنیوسره د ۹ قلمه خوراکي توکو مرسته وکړه .
د یادې مرستې د وېش پر مهال د وزارت د معلوماتي تکنالوژۍ رئیس قاري عبدالمتین رحیمزی، د بشري سرچینو رئیس مولوي کریم شاه تیلوي، د تخار ولایت د پېښو پر وړاندې د مبارزې رئیس او د یادې مؤسیسې مسؤلینو حضور درلود .
پلاوي د ولایتي مسؤلینو په مرسته سېلاب ځپلو کورنیو ته په خېمو، کمپلو او فرشونو سربېره ٦ قلمه خوراکي توکې هم ووېشل. زیانمنو کورنیو له هېوادوالو او مرستندویه بنسټونو څخه د نورو بېړنیو مرستو غوښتنه هم وکړه .



۱۴۴۵/۱۱/۱۰
دغه راز د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت پلاوي د (افغان ماشومانو لپاره د جرمني د مرستې) مؤسیسې په مالي ملاتړ د بغلان ولایت په بورکې ولسوالۍ کې هم له ۱۵۰ کورنیوسره د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرسته وکړه .په دې مرسته کې د هرې زیانمنې کورنۍ لپاره یوه خېمه، دوه کمپلې، فرش، اوره، غوړي، چای او نور خوراکي توکي شامل وو. زیانمنو شویو کورنیو له هېوادوالو او مرستندویه بنسټونو څخه له دوی سره د مرستې له امله مننه وکړه ، په یاده سیمه کې یې خلکو ته د اوښتو زیانونو کچه لوړه وبلله او د لازیاتې همکارۍ غوښتنه یې وکړه.
یاده دې وي چې د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت پلاوي او د یادې مؤسیسې مسؤلینو د مشرانو په مرسته د سیمې اړمن کسان په نښه او وروسته یې هرې کورنۍ ته د دوی د اړتیا په اساس (۹) قلمه توکي ووېشل .




# په یووالي ټینګار

له کور، کلي نیولې د هېواد په کچه یووالی یوه ټولیزه اړتیا ده؛ هغه کورنۍ، کلی، ښار او هېواد به پخپلو چارو کې بریالی وي چې پخپلو کې یووالی ولري . د اسلامي امارت مسؤلین او دسرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت هم د هېواد د ورونو قومونو د یو مشخص ادرس په توګه ، یووالی لومړیتوب او د یووالي لپاره هڅې او کار کول مسؤلیت بولي .په همدې پار یاد وزارت د امیرالمؤمنین حفیظه الله د هدایت پر اساس کابل، ننګرهار او پکتیا ولایتونو کې ( د اسلامي نظام او ملي یووالي استحکام ) تر عنوان لاندې د زرګونه دیني عالمانو، قومي مشرانو ، مخورو او د اسلامي امارت د مسؤلینو په ګډون غونډې رابللې وې.

دولسونو په استازیتوب له ولایتونو څخه راغلیو مشرانو پخپلو ویناوو کې اسلامي نظام په عمومي او خصوصي توګه یو ضرورت یاد کړ وې ویل چې یوه اسلامي ټولنه باید اسلامي نظام ولري چې نن لله الحمد موږ د ګڼو قربانیو په پایله کې د اسلامي نظام تر چتر لاندې ځان وینو، دوی همدا راز وویل چې افغانان په دې پوهېدلي دي چې څه ډول سیاست وکړي، نورو ته ځای نشته دی چې زموږ په کورنیو چارو کې لاسوهنې وکړي، دغه راز یې پخپلو امکاناتو له ترسره شویو کارونو څخه چې د هېواد د بساینې لپاره ترسره شوي او ترسره کېږي خوښي څرګنده کړه او د نورو لویو او وړو پروژو د تطبیق غوښتنه یې وکړه ، دوی پخپلو څرګندونو کې دا هم وویل چې موږ یو ملت یو، هیڅوک نشي کولای چې موږ د قوم، سیمې او ژبې په نومونو یو له

بله ببېل کړي، خدمتونه د ټولو لپاره یو شان دي او هیڅ ډول توپیري چلند پکې نشته دی موږ باید د پردیو پروړاندې چې زموږ د بې اتفاقه کولو هڅې کوي بیدار او هوښیار اوسو .

دغه راز د امارت ځینو مسـؤلینو هم ویناوې واورولې، د امر باالمعروف او د شکایتونو د اورېدو وزیر ښاغلي شیخ محمد خالد الحنفي وویل: چې موږ ماضي کې له جهاد څخه دوه ځانګړي هدفونه درلودل: یو له هېواد څخه د متجاوزینو اېستل او دویم د اسلامي نظام قائمول، لومړی هدف مو په الهي نصـــرت، د شهیدانواو مجاهدینوپه قربانیو ترلاسه کړ اوپه دویم هدف کې موږاوتاسې همدا اوس قرار لرو،دوه نیم کاله وړاندې د کفارو پروړاندې جهاد فرض عین و، او اوس به د اسلامي نظام حفاظت هم فرض عین وي .نوموړي د اسلامي نظام په ګټو، برکتونو او ارزښت رڼا واچوله زیاته یې کړه: د نشـــه یي توکو د کرکیلې د مخنیوي، معتادینو د درملنې، د روږدېدو د مخنیوي لپاره یې د ځینو لارو چارو او د ســـــوالګرو د راټولولو، له هغوی سره د مرستې او په بېلابېلو برخو کې ځینو پرمختګونو ته چې د اسلامي نظام له برکته په داسې حال کې چې د ملیونونو ډالرو په شتون کې ترسره نه شوه او اوس عملي ر سېدنه ورته شوې او کېږي، یادونه وکړه ټینګار یې وکړ چې نظام به هله مســـتحکم شي چې موږ خپلو کې سره یو اوسو.

د افغانســـــتان د اسلامي امارت د ملي دفاع وزیر ښاغلي مولوي محمد یعقوب مجاهد هم د افغانانو د بې اتفاقه کولو لپاره د ترسره شویو هڅو اوپه دې اړه د پروژو د پلې کېدو، چې له امله یې غچ اخیســــــتنې او جګړې رامنځته شوې، اشاره وکړه وې ویل: چې د وی په دې پوهېدل که دا قوم یو وي، لوری یې یو وي اورهبر یې یو وي موږ خپلو اهدافو ته نه شـو رسـېدلای، د ا زموږ ګډ مســؤلیت دی چې په ډېر قوت باید د ملي یووالي د رامنځته کېدو په موخه هڅې وکړو او ملي یووالی یوازې تر شعار پر ښېږدو .

دغه راز د رئیس الوزراء سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر هم پخپلو خبرو کې وویل : افغانســــــتان د بېلابېلو قومونو جوړ ملک دی، اسلامي امارت ټولو محترمو قومونوته د قدر په سترګه ګوري، او ټول یو ورونه بولي.د افغانســتان په ازادۍ کې دغه ولس رغنده رول لوبولی ، کوم هدف چې موږ لرلو نن له اســـلامي نظام څخه برخمن یو، تر یو قیادت لاندې اســـلامي نظام شتون لري او د شـهیدانو ارمانونو تحقق پیدا کړی دی، اوسـنی اسـلامي نظام چې د شـل کلنې قربانۍ په نتیجه کې منځ ته راغلی دا د افغانستان د مسلمانانو شریک نظام دی، که پرون مو د اسلامي نظام د بریا لپاره مبارزه کوله نن به یې د استحکام او دفاع لپاره په شریکه مبارزه کوو.

سیاسي مرستیال په ډېره کمه موده کې د وړو اولویو پروژو پلي کېدو ته هم اشاره وکړه وې ویل چې اسلامي امارت کرار ناست نه دی ان شاءالله په نورو پروژو به هم کار کېږي او د خود کفایي خواته به ځو.دا یې هم وویل چې موږ متوازن سیاست پر مخ وړو او له ټولې دنیاسره احسن تعامل غواړو، دنیا دې تشویش نه لري که امن د ځان لپاره غواړو د نورو لپاره یې هم غواړو او د دوحې په راتلونکې ناسته کې یې هم له اسلامي امارت سره د دنیا د تعامل خبره وکړه.

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزیر ښاغلي الحاج ملا نورالله نوري پخپله وینا کې وویل چې نن د پرون په څېر قومونوته د

لږ کیو اصطلاح نه کارول کېږي، د قوم ، سیمې او ژبې په نوم هیڅ توپیر شتون نه لري ټولې پرګنې او اقشار په یوه محور راټول شوې دي

د اوبو او برېښنا سرپرست وزیر الحاج مولوي عبداللطیف منصور د خبرو پر مهال وویل: زموږ سیاسي فضـاء ازاده ده، جغرافیه مو خپلواکه ده، نظام مســتقل او خپلواک دی، دا نظام یوازې د مجاهدینو نه دی، دا د دې ټولو خلکو نظام دی، چې قیادت یې د دیني علماوو په لاس کې دی، تاسـې که هره غوښـتنه لرئ، موږ یې په سر سترګو منو او د امکان تر حده به یې د حل په برخه کې شریکوو.

سیاسي شنونکي ښاغلي حمید الله »هوتک «یووالی یو ضرورت وباله ټینګار یې وکړچې باید د یووالي لپاره کار وکړو.

په دې غونډه کې ولس هم د ملي یووالي د ټینګښـــــت په لارو چارو او هم د اسلامي امارت د استحکام په اړه خپل نظریات وړاندې کړل او دغه راز د اسلامي امارت مسؤلینو هم دا په ډاګه کړه چې دا نظام په ټولو افغانانو پورې اړه لري، کوم مسـؤلیت چې د خلکو پروړاندې لري هغه پر وخت ترسره کوي، ستونزو ته هم ځیر دی، له نړۍ سره احسن تعامل هم غواړي او د ټولنې د اقتصـادي حالت د پیاوړي کولو لپاره لګیا دی کار کوي. زموږ په نظر ملي یوه اړتیا او یووالی د نورو چارو د ترسره کولو لپاره یو لومړیتوب دی د یووالي له امله بهرني مغرض لاسـونه لنډېږي، امن تامینېږي، د یووالي او امن په صـورت کې ټولې چارې رونق اخلي، خوځښـــت پکې رامنځته کېږي او دلته ده چې له ستونزو څخه د وتلو یو تکاملي پړاو ته لارهواریږي، بوختیاوې ډېرېږي، کاري فرصتونه را منځته کېږي، اقتصادي ستونزې چې د هر ډول اندېښنې او جرمونو زېږنده ده تر یوه بریده ورو ورو د حل په لوري ځي، وګړي خپلو بوختیاوو ته په کتو یو ډول د مسـؤلیت احســـاس کوي، او ځان د پر مختګ اوترقۍ په روان بهیر کې شریک بولي او په دغه کاروان کې د ګډون احساس کوي، نو په دې پسې ورو ورو هغه شرعي او مشروع حقونه چې د یوې ټولنې وګړي یې لري تامینېږي. د محرومیت احســــاس یې له منځه ځي، مثبت لور ته د چارو تګ او په هغې کې د یو وګړي ځان موندل د خلکو او نظام تر منځ د اوبدل کېدو یوه کړۍ رامنځته کوي هغه کړۍ چـې هغه د کورنیو ، کلیو او د ټول هېواد په کچه له یووالي او یو ځای والي سره مرسته کوي. نو دا ډول ناستې دې ته زمینه برابروي چې ولس خپلې غوښـتنې او مســـــؤلین خپلې برنامې چې د پرمختګ او ولس د هوساینې په منظور ترسره کېږي یا یې ترسره کوي له یو بل سره شریک کړي. دا ښکاره خبره ده چې په یو وروسـته پاتې حالت کې سـتونزې او نیمګړتیاوې وي خو کله چې یوه ټولنه یومو ټی کیږي پخپلو پښو درېږي هغه دی چې بیا ګڼو ستونزو، غوښتنو او پوښتنو ته ځواب موندل کېږي.

د اسلامي نظام د پیاوړتیا، ملي یووالي او ټول اسلامي امت د چټک پرمختګ په هیله



# یو وдان افغانستان؛ پرېکنده هڅو، ډېر زیار او دوامداره کار ته اړتیا لري

لیکوال: ګل علم ناصري

په بشـــــري ټولنو کې حالات او شرایط په یو ډول نه دي. ځکه چې د وخت په تېرېدو سره په بېلابېلو برخو کې په ټولنه کې لوړې او ژورې د یو لړ بدلونونو لامل شوِي دي، خو انســـــان تل د خپل فطرت او طبیعت له مخې د دې هڅه او کوښښ کړی چې خپل ځان او ټولنې لپاره نېکمرغي ترلاسه کړي، پرمختګ وکړي او ښه ژوند ته ځان ورسوي.
دغه کړنې په ټوله کې د هر انسان د وس کار نه دی، بلکې په ټوله معنا رښتیني او عالي انسانان یاد فکر پالي او د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره په دوامداره توګه خپلې هڅې او کوښښونه جاري ساتي، دغسې د کار او زیار خلک چې په بشر-ي ټولنو او ټولنیز ژوند کې شتون ولري، د هر اړخیزو هڅو، کوښښـــــونو، زیار او قربانیو په پایله کې یې له شک پرته په ټولنو کې مثبت بدلون، ښېرازي او بریاوې رامنځته کېږي.
د اسلام په مبارک دین کې هم یاد موارد او د انسانانو دغسې فطري او طبیعي غوښتنې هم د تایید وړ ګڼل شوي، نه یوازې دا چې انســـانانو ته یې اجازه ورکړې، بلکې په دې مکلف ګڼل شوي چې د خپل عقل، علم او پوهې په وسیله له دنیاوي اسبابو، طبیعي منابعو او آلهي موهبو چې د انســـــانانو د ګټې اخیســـــتنې لپاره خلق شوي، ګټه پورته کړي او له مخې یې ځانونو او ټولنې ته پرمختللی ژوند برابر کړي. دغه ډول د اسلام مقدس دین ځینو مواردو کې په دې اړه غوښتې او قاطع لارښوونې هم کړې، چې انســـانان باید لاس په کار شي او خپل ناوړه، درکود، پرېشـــانی بد حالت په ښه او مثبت حالت بدل کړي او خپله ټولنه په خپلو متو په خپلو پښو ودروي.
دغه برخه او نکته د اسلام په مبارک دین کې په ښه ډول روښانه شوې چې بد حالت (نامطلوبه وضع) د انســـانانو د حرکت او مبارزې په پایله کې د تغییر او بدلون وړ ده او په دې لاره کې د اسبابو او امکاناتو په کار اچول ضروري او اړین دي. همدغه

سبب دی چې د اسلام مبارک دین په دې اړه خپلو پیروانو ته څرګند حکم او لارښوونه کوي چې انســـــانان باید د ښه ژوند جوړولو لپاره خپله لاس په کار شي او خپله کوښښ وکړي. په دې لاره کې د نورو د اوږو بار نه شي. کله دې هم خپل موړال له لاسه نه ورکوي. د خپل ځان او ټولنې ګټې دې په پام کې ونیسي او له ستونزوسره دې په میړانه مقابله وکړي.

په یو مبارک آیت کې راغلي چې خدای )ج ( فرمایلي:«کله هم خدای )ج( د یو قوم حالت نه بدلوي، تـر هغـې پورې چـې هغه قوم خپل حالت په خپله بدل نه کړي». دغه سپېڅلی روایت د انسانانو د ژوند په ډېرو برخو کې صدق کوي. د بشر-ي ټولنو دا دنده ده چې د بدبختیو د ټولو لاملونو، ماتې او ذلت پر وړاندې په کلکه مبارزه وکړي، د یادو ستونزو لاملونه درک او تشخیص کړي او د له منځه وړلو لپاره یې لاس په کار شي.

جهل، ناپوهي، بېوزلي او نورې بېلا بېلې ټولنيزې ستونزې له شک پرته ربښتینو او زیارکښـو انســانانو لپاره د تحمل وړ نه دي او د ټولنې د هر انســان دیني او انســاني وجیبه جوړېږي چې د یادو خنډونو د له منځه وړلو لپاره خپل ټول توان او ځواک په کار واچوي او دغې لاره کې خپل ګامونه پورته کړي.

دغه راز د اسلام په مبارک دین کې ظلم، بې عدالتي او واقعیت ته نه پاملرنه تل غندل شوې او د دغو پېښـــو پر وړاندې تل مبارزې صورت نیولی. همدا ډول ناپوهي او بېسوادي یو ډول بد مرغي یاده شوې. بېوزلي او لوږه د ټولنیزو او اخلاقي ستونزو او فسادونو لاملونه ګڼل شوي. دغه رنګ پر خودخواهی، نژادي، سمتي، قومي او طبقاتي توپیرونو د بطلان کرښه کش شوې او دغه مبارک دین خپلو پیروانو ته توصیه کړې چې د دغو ټولو(کوم چې پورته ذکر شـول )رنځونو او ټولنیزو سـترو سـتونزو پر وړاندې د وس مطابق مبارزه وکړي او له منځه یې یوسي.

همدارنګه د هر هېواد د فرهنګي، اقتصادي او ټولنيزو اړیکو ثمره(شیره ) د هماغه هېواد دوګړو او انسانانو د کوښښـونو، هڅو او زیارونو پورې تړل شوې. که چېرې موږ د خپل هېواد او خلکو پر وړاندې په ربښتېني ډول سره فکر وکړو، پرمختګ او لوړوالي کې یې انرژي او ځواک مصـرف کړو، خپل ځان د یو مســوول او متعهد ښاري شخص په توګه وګڼو، د خپلو خلکو پر وړاندې ربښتیني او صادق و اوسو او حق خپل حقدار ته وسپارو، نو په یقین سره ویلای شو چې موږ خپل مسـوولیت او ستره ستونزمنه دنده په صداقت او تقوأسره ترسره کړې. په دغه صورت کې ویلای شـو چې موږ یو پرمختللې او مترقي ټولنه او هېواد لرو، پرته له یادو کړنو څخه د پرمختګ او هوساینې راوستل له یو خوب او خیال څخه پرته بل څه نه شي کېدلای.

په ډېرو پرمختللو او مترقي ټولنو کې لیدل شوي چې خلکو یې د خپلو ټولنو د پرمختګ، ودې او انکشـــاف لپاره ډېرې هلې ځلې کړې او د یادو هلو ځلو او کوښښـــونو پرمټ یې ټولنه د پرمختګ لوړو پوړیو ته رسولې. همدارنګه د یادو پرمختللو ټولنو خلک دې پایلې ته رسېدلي چې د ټولنې او ټولنیز ژوند سمون ، پرمختګ او د خلکو آرامي په کار او زیار کې نغښــــــتې او همدغه سبب دی چې هغوی تل زیار باسي او په ډېر شوق او لیوالتیاسره خپلې موخې تعقیبوي.

دې کې شک نشــــته چې په پرمختللو ټولنو او د تکنالوژۍ په برخه کې رسېدلو هېوادونو خلکو کې هم کله ناکله ناتواني، کمزوري او ناراستي رامنځته کېږي، خو د تدبیر، صبر او ســالمو مثبتو فکرونو په پایله کې یې خپله لاره کې پراته خنډونه او ســتونزې له منځه وړي، خپلو ځانونو او د ټولنې غړو ته یې یو پرمختللی ســالم ژوند، پرته له کومو جنجالونو څخه په آرام ډول رامنځته کړی.

نو که دا او دې ورته مسایل په پام کې ونیول شي، بې له شکه به یو پرمختللی ، آباد او ښېراز افغانستان ولرو.

# په افغاني ټولنه کې ناوړه دودونه

څېړنیار: سیدمحمد صادق سادات

ناوړه دودونه زیات دي چې په ترتیب به یې ځینوته په لاندې توګه اشاره وکړو

**الف ـ د ناوړه دود پېژندنه:**

په پښتـــــــــو ژبه کې دود ، دري ژبه کې رواج او په عربي ژبه کې ورته عرف ویل کېږي، دود په لغت کې پېژندلو ته وایي او په اصـطلاح کې د ټولنې خلک یې په معاملاتو کې کاروي او د ټولنې د عامو خلکو تر منځ په ټولنیزه توګه پر مخ وړل کېږي. دود په انســـاني ټولنه کې لوړ حیثیت او مقام لري چې همدا دودونه د هرې ټولنې د کلتور برخه ګڼل کېږي. په ټولنه کې د ژوند کولو لپاره لارې چارې جوړول او پرمخ وړل یې دودونه ګڼل کېږي. دغه راز موږ ویلای شـــو چې دودونه هغه ټولنیز قراردادونه دي چې د ټولنې وګړي یې د ژوند د بېلابېلو چارو لپاره ټاکي او په منظم ډول یې د ژوند په چارو کې عملي کوي.(۷: ۲۵مخ)

ناوړه دودونه هغو دودونو ته ویل کېږي چې د اسلام د مبارک دین له اصولوسره په ټکر وي او د ټولنې د یو شـمېر خلکو له خوا د مادي ګټو پر بنســـټ رامنځ ته کېږي او په هره ټولنه او کورنۍ کې یې منفي اغېزې کړې وي. دغه دودونه په بېلابېلو ډولونو او بېلابېلو نومونوسره موجود دي چې دلته یې په دې مقاله کې د ځینو هغو دودونو یادونه ضروري بولم کوم چې اوســـمهال زموږ په ټولنه کې دود دي اوزموږ د ټولنې وګړو ته یې په مادي او معنوي لحاظ ستونزې او ناخوالې جوړې کړې دي.

**ب ـــ ولور**

ولور هغو پیســـــــو ته ویل کېږي چې د نجلۍ پلار د خپل لور د واده کولو (نکاح) د ورکړې پر مهال د هلک له پلار څخه یې اخلي. د دې پیســـو اندازه هغه مهال ټاکل کېږي، چې کله د هلک کورنۍ د خپل زوی د راتلونکي ژوند لپاره د نجلۍ کور ته ورځي. زموږ د هېواد په ځینو سیمو کې داسې دود هم شته چې د ښځې پر سر د پیســــــــــو لپاره د هلک او انجلۍ کورنۍ چنې(بې بقاله) کوي او د دې پر ځای چې د اسلام د مبارک دین او شریعت مطابق د نکاح شروط په پام کې ونیسي‌ــ، دواړه مادي ګټو ته په کتو د ولور په بدل کې دوســـتي کوي او هغه شرایط چې د اســـلام مبارک دین د نکاح لپاره ټاکلي دي له پام

ځخه غورځول کېږي.(۲: ۱۰۰مخ)

د افغانستان په بېلابېلو سيمو او ولايتونو کې د ولور اندازه توپير لري، د دې پيسو اندازه له دوه لکه افغانيو نېولې تر شل لکو افغانيو پورې رسېږي، چې دا توپير د هرې سيمې او قوم په دود او کلتور پورې اړوند دی. ولور په افغانستان کې د غير اسلامي او ناوړه دودونو له جملې څخه دی چې زياتې منفي پايلې لري، چې له امله يې زموږ د ټولنې ځوانان نشي کولای چې په خپل وخت واده وکړي او يوه اسلامي کورنۍ رامنځ ته کړي. دغه راز د ټولنې ځوان قشر مو د يادو پيسو د تر لاسه کولو لپاره بهرنيو هېوادونو ته مخ کوي تر څو د لاس په مزدورۍ پيسې وګټي او خپله ناوې خپل کور ته راوړي.(۵: ۱۷۴مخ)

**ج ـ د بدل نکاح**

د افغانستان په زيات شمېر ولايتونو او قومونو کې يو بل ناوړه دود د بدل نکاح ده، که څه هم چې د بدل نکاح د اسلام له مبارک دين څخه مخکې د بدل نکاح څخه توپير لري او په دې نکاح کې دواړو ښځو ته په جلا ډول محر ټاکل کېږي او ټول مراسم يې د اسلامي شريعت مطابق ترسره کېږي، خو ستونزه يې په دې کې ده چې ياده نکاح زموږ په ټولنه کې يې ډېرې منفي پايلې لرلې دي. د بېلګې په توګه که چېرې د دواړو کورنيو تر منځ کومه کورنۍ ستونزه را ولاړېږي او د دې کورنيو څخه کومه يوه يې پر را واده شوې ښځه باندې ظلم زياتی وکړي، نو د دې ظلم او زياتي په مقابل کې غچ له هغې ښځې څخه اخيستل کېږي کوم چې د يادې ښځې په بدل کې واده شوې وي. دغه راز په کورني ژوند، راشه درشه او ټولو چارو کې ستونزې او مشکلات د همدې دوو ښځو پر غاړه وي کوم چې د بدل واده په پايله کې واده شوي وي.(۸)

زموږ په ټولنه کې دې ته ورته لسګونه نورې پېښې شته چې ښځې د دې ناوړه دود له امله قرباني شوي دي او پايله يې په کورنۍ کې ستونزې بدبختۍ او ناخوالې دي. دغه راز موږ ويلای شو چې دا ناوړه دود د افغاني ټولنې د خپلمځي شخړو او کورنيو ستونزو لويه مرجع ده.

**د ـ ښځې په بدو کې ورکول**

د افغانستان وګړي په ټولنيز ژوند کې د خپل قبيلوي دود او دستور له مخې داسې ناوړه کړنې ترسره کوي چې نه يوازې د اسلام د مبارک دين له اصولو او قواعدوسره په ټکر کې دي، بلکې د ټولنې او کورنۍ د بربادۍ او ګڼو نورو ناخوالو سبب هم ګرځي، چې يو له دغه ناوړه دودونوپه بدو کې د ښځو ورکول دي.

د افغانستان په زيات شمېر ولايتونو کې داسې يو لرغونی دود موجود دی چې کله د يوې کورنۍ غړی د ټولنيزو ستونزو له امله د يوې بلې کورنۍ يووګړی په قتل ورسوي، نو له دې پېښې وروسته د دې دوو کورنيو تر منځ دښمنۍ پيل شي، چې په ځينو وختونو کې د يادې دښمنۍ له امله زيات شمېر خلک د دواړو خواو څخه وژل کېږي، تر څو چې د قومي مشرانو له خوا د دې کورنيو تر منځ سوله وشي. د دې سولې تر ټولو دروند او سخت بار چې په هغه کورنۍ باندې اچول کوم چې په قتل باندې متهم وي، دا دی چې د دې کورنۍ څخه يوه او يا هم څو ښځې هغې بلې کورنۍ ته کوم چې د کورنۍ غړي يې په قتل رسول شوي وي. د پور (بد) په توګه ورکول کېږي. کومې ښځې چې په بدو کې ورکول کېږي، زياتره يې پېغلې وي او ځينې بيا داسې هم پېښېږي چې د قاتل کورنۍ پېغله لور ونه لري، نو په دې صورت کې ماشومې نجونې د دې کار قرباني ګرځي او

په زوره د مقتول کورنۍ ته ورکول کېږي. د مقتول کورنۍ هم د قبیلوي دود او دستور له مخې یادې ښځې د خپلې کورنۍ وروسته پاتې کس ته په نامه کوي او پرته له دې چې له ښځې پوښتنه وکړي، په زوره یې د یو کس په نامه کوي، چې له دې ورځې وروسته پر دې ښځه باندې د خسر- په کور کې ظلم او ناروا وې پیل کېږي او د ښځې له مېړه نه نیولې د یادې کورنۍ تر نورو غړو پورې ټول دې ښځې ته په سپکه سترګه ګوري او داسې کردار ورسره کېږي چې نه د اسلام مبارک دین او نه هم د انساني کرامت له مخې د منلو وړ وي.(۵: ۱۷۵ــ۱۷۶ مخونه)

که څه هم قتل او ظلم د نارینه له خوا ترسره شوی وي، خو د دې پېښــــــې قرباني ښځه وي او د ظلم او ناروا جبران ښځه ورکوي. له همدې امله د ښځو په بدو کې ورکول زموږ د افغاني ټولنې یوه له ناوړه او غیر اسلامي کړنو او دود څخه دی چې د ټولنې د هر وګړي دنده ده تر څو د دې ناوړه دود پر وړاندې خپل اسلامي او انساني دنده‌سرته ورسوي او د خپل وس او توان تر حده یې په خپله ټولنه کې مخه ونیسي.

دا چې د وخت په تېرېدو سره بشرـي ټولنې پرمختګ کوي او په ټولنه کې د علم اوزده کړې د کچې له پراخېدو سره د ټولنې وګړي د اسلام د مبارک دین په اصولو او قواعدو ځان پوهوي او هغه کړنې چې د اسلام مبارک دین، موږ ته ناروا ښودلي ځان ساتي، دغه راز د انساني کرامت احترام چې د اسلام د مبارک دین له اساسي اصولو او بنسټونو څخه شمېرل کېږي درناوی کوي. خو بیا هم زموږ د هېواد په یو شمېر سیمو کې دا ناوړه دود په خپل حال پاتې دی او ښځې د ټولنې د دې ناوړه دود قرباني ګرځي.

**هــ- دواده او د ماشوم زېږون په خوشحالۍ کې ډزې کول**

دا یوه طبیعي خبره ده، هر کله چې په یوه کورنۍ کې نارینه ماشوم نړۍ ته سترګې غړوي د یادې کورنۍ د خوښۍ سبب ګرځي او یاده کورنۍ د خپل نوي ماشــوم خوښــۍ په بېلابېلو ډولونو نمانځي، خو یو ناوړه دود دا دی چې د نجلۍ د زېږون خوښي په هیڅ کور کې نه نمانځل کېږي.

زما د سترګو لیدل حال دا دی چې زموږ د کلي د تن په کور کې لور پیدا شوې وه، ما د ماشومې پلار ته مبارکي ورکړه، خو د نجلۍ پلار د دې پر ځای چې مبارکي واخلي او له ما څخه  مننه وکړي،زما په مبارکۍ باندې غوسه شو او تندی یې تریو کړ. په دې کارسره زه سخت ناهیلی شــوم او له ځان سره مې وویل چې څه وخت له دې ناوړه دود او ناوړه کړنو څخه خلاصېږو. داسې ورته پېښــې په لســګونه نور هم شته چې زه خپله یې شاهد یم او یا هم د ټولنې د خلکو له خولې مې اورېدلي چې د نجلۍ زېږون‌سره کورنۍ یې خپګان ښیي او ځینې وخت داسې هم پېښــېږي چې مېړه له خپلې ښځې‌سره ناوړه چلند پیل کوي او ورته وایي چې ته بد بخته یې ځکه هر وخت لور ګانې دنیا ته راوړې. په هر صــورت راځم خپل بحث ته چې د ماشــوم زېږون په خوشحالۍ کې ډزې کول و، خو پورته بحث مې په دې راوړ چې دا هم یو ناوړه دود ګڼلی شو چې د انجلۍ په زېږون سره کورنۍ خپګان ښکاره کوي او د هلک د زېږون پر مهال بیا بېلابېل ډول خوښۍ ترسره کوي.

د افغانســــــتان په زیاتره سیمو او قومونو کې داسې یو لرغونی دود موجود دی چې کله په یوه کورنۍ کې خوښي وي، نو دا خوښــي د ټوپک په ډزو باندې نمانځي. چې د هغو له جملې څخه یو هم د نارینه (هلک) زېږون یا هم پیدا کېدل دي، چې د

هېواد په بېلابېلو سیمو او قومونو کې په بېلابېلو ډولونوسره لمانځل کېږي. په ځینو سیمو داسې دود وي چې کله په یوه کورنۍ کې ماشوم نرې ته راشي نو د یادې کورنۍ غړي د خپل کور په بام او یا هم د کلي په لوړ ځای کې ډزې کوي تر څو خلکو ته دا وښیي چې زموږ په کور کې ښادي شوې، وروسته د کلي خلک د ډزو په اورېدوسره یادې کورنۍ ته ورځي او د ماشوم مبارکي ورکوي. کله هم داسې پېښېږي چې د یادو ډزو له امله په کلي او کور کې ځینې کسان ټپي او یا هم وژل کېږي.(۱: ۹۳مخ)

**کونډې ته د واده انتخاب نه ورکول**

زموږ د ټولنې د ناوړه دودونو له جملې څخه یو بل ناوړه دود چې تر اوسه موجود دی اوزموږ ټولنه یې له ستونزوسره مخامخ کړې، کونډې ته د واده انتخاب نه ورکول دي. د اسلام د مبارک دین د اصولو له مخې کله چې د یوې ښځې مېړه مړ شي، نو دا ښځه د راتلونکي ژوند لپاره باید پخپله تصمیم ونیسي او دغه راز د مېړه په کور کې د میراث حق هم لري. د کونډې د میراث اوراتلونکي ژوند په اړه په قرآنکریم او نبوي احادیثو کې زیات شمېر احکام راغلي دي، هغه ښځه چې مېړه یې مړ شي، د مېړه د کورنۍ میراث نه دی او نه یې د میراث په توګه کارولی شي، هغې ته د راتلونکي ژوند په اړه یې باید خوښه ورکړل شي او څرنګه یې چې خوښه وه راتلونکی ژوند دې جوړ کړي.
د اسلامي احکامو له مخې ښځه د عدت دورې تر پوره کېدو پورې نه شي کولای چې بل مېړه وکړي، د مېړه له کوره ووځي، سینګار وکړي او بل چاسره د راتلونکي ژوند په اړه تصمیم ونیسي، خو د عدت مودې له پوره کېدو وروسته کولای شي چې په خپله خوښه واده وکړي او خپل راتلونکي ژوند لپاره ملګری انتخاب کړي.(۳: ۶۴ـ۶۵مخونه)
له بده مرغه باید ووایم چې زموږ په ټولنه کې د دې پرځای چې کونډې ښځې ته په درنه سترګه وکتل شي اود اسلام د مبارک دین د اصولو له مخې یې ټول حقوق خوندي کړي، هغې ته د ناموس، ننګ او میراث په سترګه ګوري او کونډه د خپلې کورنۍ مال ګڼي او د هغې د خوښې او اجازې پرته یې د خپلې کورنۍ یو تن ته که هغه واده ولري او که یې ونه لري ځوان وي که سپین ګیری، ماشوم وي او که بالغ په نکاح ورکوي. او بل کور ته یې ودېدل عار (شرم) ګڼي.
په داسې حال چې د اسلام مبارک دین موږ ته د نکاح شرایط بیان کړي دي چې یو له هغو څخه د جانبینورضایت دی، دا په دې معنی چې که چېرې د ښځې او مېړه تر منځ د نکاح پر مهال یو تن له دغو څخه د نکاح پر عقد باندې رضایت ونه لري نو یاده نکاح باطله ده او د دې دواړو یو ځای کېدل شرعي حکم نه لري، نو په همدې اساس په کار ده چې موږ ټول د دې ناوړه دود پر وړاندې خپله مبارزه پیل کړو تر څو دا ناوړه دود مو له ټولنې لرې شي، په دې سره به مو له یوې خوا د اسلام د مبارک دین اصول پر ځای کړي وي او له بلې خوا به مو ټولنه له بد مرغیو او ناخوالو څخه پاکه شي.(۷: ۶۸ـ۶۹مخونه)

**تربګنۍ او بې ځایه سیالۍ**

تربګني په ټولنه کې د پلرینه د تربور تر منځ سیالۍ ته تربګني ویل کېږي دا په دې معنی چې موږ د ټولنپوهنې د مضمون له مخې د یو نارینه او ښځې د یو ځای کېدو په پایله کې کوم چې د نکاح په عقدسره یو ځای کېږي، کورنۍ رامنځ ته کېږي، د څو کورنیو له یو ځای کېدو څخه طایفه رامنځ ته کېږي... په همدې طایفه کې د تره د زامنو او یا هم د پلار د تره او د تره د

زامنو ترمنځ سيالۍ اورقابتونو ته تربګني ويل کېږي.

تربګنۍ زمونږ په ټولنه کې خورا زيات دود دی او دا ناوړه دود په ټولنه کې د ستونزو او ټولنيزو لانجو منشـــــاء ګڼل کېږي، د بېلګې په ډول په پښـــتو کې يو متل دی چې (د تربور خواږه پور دی که ور يې نه کړې غټ پېغور دی) دې متل ته ورته داسې هم شته چې د تربورسره په ټولنه کې له کينې ځخه ډک چلند کېږي او بده خولا دا ده چې مخامخ بهسره ښه دوستان وي خو په زړه کې به يو بل ته چړې تيرې کوي او د يو بل وينو ته به ناست وي. دغه راز تربور د تربور په خوښۍ نه خوشحاله کېږي او په غم يې نه غمجن کېږي. دغه راز تربور د تربور پرمختګ هم نه غواړي او هڅه کوي چې د هغه د پرمختګ مخه ونيسي. دا ټول هغه څه دي چې زمونږ په ټولنه کې معمول دي او د ټولنې هر وګړی ورسره لاس او ګريوان دی.(۱:۹۱ـ۹۲مخونه)

دغه راز بې ځايه سيالۍ زمونږ د ټولنې بل ناوړه دود دی چې د ټولنې وګړي يې د خوښــې، غم او داسې نورو دوديزو مراسمو کې سرته رسوي. د بېلګې په توګه د خوښــې په مراسمو کې په بېلابېلو نومونو مراســم ترسره کول، لکه د کوژدې اوله ورځ خپلوان او کليوال راټولول، د شــيريني خورۍ مراســـم، د نجلۍ کورته د جوړې په نامه کالي او ســـوغاتونه وړل، د واده په مراسمو کې بې ځايه پيسې لګول او داسې نور... هغه څه دي چې زمونږ د ټولنې هر قوم او هره کورنۍ ورسره لاس او ګريوان ده . د دې تر څنګ نه يوازې دا چې يادې سيالۍ د خوښــې په مراسمو کې ترسره کېږي بلکې د غم او خپګان په حالت کې هم زمونږ ټولنه بې ځايه ســـيالۍ او مراســـم مخته وړي چې دې چارې له يوې خوا زمونږ د ټولنې د خپلمنځي تربګنيو او لانجو سبب ګرځېدلی او له بلې خوا د کورنيو د اقتصاد د کمزورتيا لامل ګرځي. (۱:۹۳ـ۹۵مخونه)

مونږ ته په کار ده چې د اسلام د مبارک دين د اصولو په رڼا کې خپل دوديز مراســم ترسره کړو او له ناوړه ســـيالۍ او تربګنيو څخه نه يوازې دا چې ځان وساتو، بلکې د ټولنې نورو وګړي هم له يادو کړنو څخه منع کړو. په دې سره به مو اسلامي، ايماني او انساني وجيبه سرته رسولي وي.

**پايله**

په پايله کې بايده ووايم چې ناوړه دودونه هغه څه دي چې زمونږ د ټولنې ټولې برخې يې زيانمنــې کـړي دي او د همدې ناوړه دودونو له امله زمونږ د ټولنې ټول وګړي او په ځانګړې ډول ځوان قشر له سختو ستونزوسره مخامخ دی. همدارنګه مونږ ويلای شو چې ټول هغه دودونه چې د اسلام د مبارک دين له اصولو او قواعدوسره په ټکر کې دي ناوړه دودونه بلل کېږي.

د بېلګې په توګه ولور او د واده په مراسمو کې بې ځايه سيالۍ او لګښـــــــتونه د دې سبب شوي دي چې ځوانان مو د يادو لګښـــــتونو د پوره کولو لپاره خپلې زده کړې پرېږدي او بهرنيو هېوادونو ته د مزدورۍ او سختو کارونو لپاره په ستونزمنو لارو ســفرونه کوي، چې په پايله کې يې يو شـــمېر ځوانان په همدې لارو کې خپل ژوند له لاســـه ورکوي. دغه راز د همدې ناوړه سياليو او دودونو له امله زمونږ د ټولنې په هره کورنۍ کې داســې پېغلې شـــته چې د همدې ناوړه دودونو له امله د پلار په کور ناستې دي او د ټولنې ځوانان يې د واده کولو لپاره جوګه نه دي.

دغه رازمونږ د ټولنې دوګړو تر منځ قبيلوي، قومي او سمتي لرغوني ناوړه دودونه د دې سـبب شـوي چې زمونږ په ټولنه کې د وګړو، کورنيو او ټولنيز ژوند له ننګونوسره مخامخ کړي او زيات شـمېر داســې ناخوالې يې زېږولې دي چې د ټولنې هر وګړی

ترې اغېزمن شوی دی.

وړاندیزونه

دا چې په افغاني ټولنه کې د ناوړه دودونو له منځه وړل زمونږ د هېواد او ټولنې د هر وګړي ایماني، اســـلامي او وجداني دنده ګڼل کېږي، نو پر همدې اســـاس غواړم چې د دې ناوړه دود د له منځه وړلو لپاره دولتي ادارو او عامو وګړو ته یو شـــمېر وړاندیزونه وکړم چې په لاندې ډول دي.

۱ـ د حج او اوقافو وزارت ته مې وړاندیز دی تر څو د هېواد په مساجدو کې دیني عالمانو ته دنده ورکړي چې د ټولنې خلک د ناوړه دودونو په اسلامي او ټولنیزو زیانونو باندې وپوهوي او د اسلام د مبارک دین د اصولو له مخې ورته لارښوونې وکړي او د حل لارې چارې ولټوي.

۲ـ د هېواد علمي بنســـټونو ته مې وړاندیز دی چې د ټولنې د ناوړه دودونو د پېژندلو او له منځه وړلو لپاره علمي سیمینارونه او کنفرانسونه وړاندې کړي، تر څو هغه ناوړه دودونه چې زمونږ په ټولنه کې موجود دي له منځه یوړل شي.

## مأخذونه


۱ـ توحید مل، شـهزاده. «تربګنی، منفي سـیالی او پیغورونه» ناوړه دودونه او د اصلاح لارې چارې، ریاسـت فرهنګ مردم، وزارت اطلاعات و فرهنګ: مطابع آزادي (امارتی) کابل، ۱۴۰۱ هـ ش.

۲ـ ثابت، محمد ابراهیم. «د غزني او شاوخوا سیمو دودونه» پښتنی دودونه، پر لپسـې ګڼه ۱۳۰، د پښـتو ټولنې د ادبیاتو د څانګې لخوا: ۱۳۳۶ هـ ش.

۳ـ ځدراڼ، محمد شریف. «کونډه په کورنی کې» ناوړه دودونه او د اصـــلاح لارې چارې، ریاســـت فرهنګ مردم، وزارت اطلاعات و فرهنګ: مطابع آزادي (امارتی) کابل، ۱۴۰۱ هـ ش.

۴ـ رسولي، محمد امان. «ناوړه دودونه د اسلام په رڼا کې او د دیني علماوو مســـؤلیت» ناوړه دودونه او د اصلاح لارې چارې، ریاست فرهنګ مردم، وزارت اطلاعات و فرهنګ: مطابع آزادي (امارتي) کابل، ۱۴۰۱ هـ ش.

۵ـ صلاحي، محمدنبي. ښځه د ناوړه دودونو د قرباني په لومړی لیکه کې «د ناوړه دودونو لاملونه» ناوړه دودونه او د اصلاح لارې چارې، ریاست فرهنګ مردم، وزارت اطلاعات و فرهنګ: مطابع آزادي (امارتی) کابل، ۱۴۰۱ هـ ش.

٦ـ عطایي، محمد ابراهیم. د پښتني قبیلو اصطلاحي قاموس، دسرحدونو او قبایلو چارو وزارت: ۱۳۹۴ هـ ش.

۷ـ همدرد، حضرـــت آغا. «د ناوړه دودونو عوامل او د حل لارې چارې» ناوړه دودونه او د اصلاح لارې چارې، ریاست فرهنګ مردم، وزارت اطلاعات و فرهنګ: مطابع آزادي (امارتی) کابل، ۱۴۰۱ هـ ش.

۸ـ د حیله اسقاط شرعی حیثیت او د مروجه طریقې لنډه ارزونه د مفتي محمد نبي لیکنه.



# د ابوبکر دریڅه (دریچه)

لیکوال: حمد الله فطرت

کله چې په نبوي مســــجد کې ولاړ یې او دا درته معلوم شي چې دا ځای د رسول اللهﷺ د هجرت د سترې سفر او غار ثور د ملګري او خلیفه ابوبکر صدیق رضي الله عنه کور دی!

نو یقینا یو بیل کیفیت پیدا شي د هغو شپو ورځو حالت انسان ته مستحضر شي او د بدن ویښتان یې شخ شي.ددې کړکۍ یا دریڅې کیسه هم ډېره په زړه پورې ده.

رسول اللهﷺ تر وفات څه موده مخکې یوه خطبه وکړه چې له دې خطبې وروسته بیا ناروغ شو او ناروغي یې اوږده شوه او رحلت یې وکړ.

په دې خطبه کې یې د ابوبکر صــــدیق رضي الله عنه په اړه وفرمایل: که مې د ځمکې پر مخ خلیل یا دوســـت انتخابولی نو ابوبکر  به مې غوره کړی وو.

د نبوي مسجد لوري ته ټولې دروازې او دریڅې به تړل کیږي خو یوازې د ابوبکر دریچه (دریڅه) به نه تړل کیږي.

د نبوي مسجد لوېدیځ لوري ته د باب السلام او باب رحمت (دروازو) تر منځ د باب ابوبکر صدیق رضي الله عنه په نوم دروازه شته چې کله له همدې لارې مسجد نبوي ته  دننه شې نو پاس چې وګورې لیکلي به وي(هذه خوخة سیدنا ابي بكر الصدیق رضي الله عنه).

په عربي کې خوخة تر دروازې وړوکی او تر کړکۍ لږ غټې لارې یا منفذ ته ویل کیږي موږ په سیمه ییزه اصطلاح ورته دریچه وایو چې ښایي (دریڅه) یې اوښتی شکل وي.



# په افغاني ټولنه کې د جرګو ارزښت

لیکوال: پوهنمل حکیم الله (کوچی)

سریزه:

د دې لپاره چې خپل لرغونی افغاني دود او کلتور وساتو او د خپلو منل شویو دودونو په رڼا کې د نننۍ نړۍ له پرمختګ سره ځان یو او په دې ګړندي یون سره ځان غاړه غړۍ کړو، نو اړینه ده چې د خپلې ټولنې دود او دستور ترپښولاندې نه کړو.

جرګې او مرکې په افغاني دود او کلتور کې ځانګړی ځای لري او د افغانانو یو له خورا ارزښتنا که دودونو څخه شمېرل کېږي، همدغه جرګې او مرکې دي چې د خلګوستونزې حل اوترډېره بریده د امنیت په تآمین اوسراسري سوله کې رغنده رول لوبولای شي اولوبولی یې هم دی، چې زموږ تاریخ د جرګو له لارې د ستونزو او یوشمېر ملي مسایلو د حل لپاره ډېره ښه مرجع ثابته شوې هم ده.

جرګه یوه پښتو کلمه ده چې د څو یا ډېرو خلکو د را غونډېدو او یو ځای کېدو په ما نا ده. د جرګې په هکله ښاغلی پوهاند صدیق الله "رښتین" په پښتني لارښود کې داسې لیکلي دي:

په پښتني دود کې جرګې او مرکې ډېر اوچت ځای لري. د جرګې پرېکړه او فیصله په پښتو کې د قانون حکم لري هر څوک

چې د جرګې له حکم سرغړونه کوي، سربېره پر دې چې پړاو ملامت ګڼل کېږي، لازمه سزا هم ورته ورکول کېږي، که چېرې د دوو تنو یا ولس په منځ کې یوه غټه لانجه او دعوه پېښــــه شي، نو د دې کار لپاره د کلي یا ولس له خوا قومي جرګه جوړېږي، کله چې جرګه جوړه شي، نو له دواړو خواوو څخه واک اخلي او په منځ کې یوه مچلګه هم اخیستل کیږی) .مچلګه د ټوپک او پیسو ضمانت ته وایي (که چا د جرګې پرېکړه و نه منله، نو مچلګه یې هم له منځه ځي او د جرګې له خوا ورسره تګ را تګ هم بندېږي. جرګه کله ناکله د دوو مدعیانو په غوښتنه هم راغونډېږي. لویه جرګه د غټو او لویو قومي مسأٔلو لپاره جوړېږي او وړه جرګه د کلي او ســیمې د لانجو او دعوو په اړه د پرېکړې لپاره منځ ته راځي. په کومه جرګه کې، که څوک واک نه ورکوي، نو جرګه خپله فېصـله اوروي. مګر د نه منلو په صورت کې بیا بله جرګه جوړېږي او جرګه کوښښ کوي چې خامخا د دواړو خواوو تر منځ روغه او جوړه وکړي. لویه جرګه په افغاني تاریخ کې ډېر ارزښت لري او په پښــتني قانون کې د ولســي جرګې ځای لري، خو دومره ده چې د یوې ټاکلې نېټې لپاره وي او یوازې د یوې موضوع او پېښې د پرېکړې لپاره جوړېږي. جرګه د پښتنو ټولنې یوه غوره نمونه ده. په جرګه کې مشران او کشران ، سپین ږیري او ځوانان ټول برخه اخلي خو زیات واک د مشرانو او سپین ږیرو په لاس کې وي، څوک چې له پښتني قانون څخه ښه خبر وي او تر ټولو زیات مشـر او پوه وي د هغې جرګې مشر وي، خو پرېکړه د رایو په ډېرښت کېږي. پوه سړي ته جرګه مار او نورو غړو ته جرګه تیان وایي. په جرګه کې زیات کسـان خپل مطلب په متلونو او نکلونو ثابتوي.

هر څوک چې په دغه خوا کې تکړه وي د هغه خبره غوره وي. په حقوقي او جزایـي معاملو کـې د جرګـې د ډوډۍ او خوراک خرڅ او تاوان دواړه لوري په شریک ډول ورکوي. مګر په لویو ولســي جرګو کې د ډوډۍ او خوراک انتظام د ولس او قوم لخوا کېږي"

در ښـــــــتین له پورتنیو خبرو څخه موږ د پړ، مچلګه، پرېکړه، وړه جرګه، لویه جرګه، مرکه، جرګه مار او جرګه تیانو ویوکي یادکړي دي، چې په تفصیل یې معلومات ددې مقالې له توانه لرې ده،زه ورته یوازې له لغوي نظره اشاره کوم.

(پړیعنې ملامت، مچلګه ( د ټوپک او پیســوضمانت) پرېکړه ( فیصـله)وړه جرګه ) دکوچنیوستونزود حل لپاره( لویه جرګه د لویو ملي اوقومي مسایلو د حل لپاره، مرکه یعنې جرګه، اما ترجرګې کوچنې، جرګه مار) د جرګې مشر( جرګه تیان ) دجرګې ګډونوال.)

ښاغلی حبیب الله "رفیع" وایي جرګه هغه تاریخي او عنعنوي بنســټ ده او یا هم د افغانانو هغه راغونډېدنه ده کومې چې له پېړیو پېړیوزمونږ ملي، قومي، سیاسي، ټولنیز، اقتصـــادي، عنعنوي او مذهبي ټکرونه یې د واکمنو پرېکړو په مټ حل کړي دي. روښان "یوسفزی" له وحدت ورځپاڼې څخه په را اخېستنه لیکي:

په جرګه کې ټول هغه کسـان حق لري کښېني چې د جرګې په ټولو قوانینو او ادب پوه وي. زیاتره جرګې په زیارتونو، د لویو خانانو په حجرو کې سرته رسېږي، مګر د جرګې ټول مشرـان د یوې ګردې (دایرې) په ډول سره کښېني چې په لاس کې یې وړې وړې ګټکۍ (تیرې) زبرمه کړې وي او په خپل مخ کې د دې ګټکیو نه یو څلې جوړوي که چېرته جرګه ناکامه شي، نو بیا دغه څلی ورانوي او جرګه د ناکامۍ طرف ته ځي او د څلي پرېښـــــــودل د جرګې د بریالیتوب مانا ورکوي. همدا راز د یوې دایرې په ډول د ټولو سپین ږیرو ناسته دا مانا ورکوي چې یو بل ته په عزت او احترام قایل دي او هیڅ یو ته په بل باندې کومه لوړتیا نشته او نه د نسب او قوم له مخې په یو بل باندې برتري لري، بلکې ټول سره یو برابر دي، چې هر یوه ته د خپلې خبرې

او مشورې د ښکاره کولو پوره حق او اختیار دی چې خپله خبره په یوه ځانګړې سلیقه اوتګلاره د جرګې له ګډون کوونکوسره شریکه کړي، ځکه چې په جرګه باندې د یو ځانګړي کس یا ډلې واک او تسلط نشته، یوازې هر یوه ته د ویلو او پرېکړې کولو حق حاصل دی او بس، د بل څه حق ورته نشته او د بل چا له خبرې سره به په خپل زور او بې منطقه مخالفت هم نه کوي او نه به خپله خبره په بل باندې په زور تحمیل او مني، بلکې هر څه به د دلایلو او قناعت په نسبت ترسره کېږي او د یو بل دلایلو او خبرو ته به غوږ نیسي.

نو په دې پورته دلایلو جرګه د پښتنو د ټولنې یوه ستره نښه ده چې په دې کې زیاتره کسان خپلې خبرې په پوره مهارت، متلونو راوړلو او نکلونوسره داسې پیل کوي چې د ټولې جرګې مخ د خپل ځان خواته راګرځوي چې داسې اشخاص په جرګوکې تر ټولو پوه او هوښیار کسان بلل کېږي.

دجرګې پرېکړه سمه او ټولو ته د منلو وړ وي، د دې هیڅ امکان نشته چې څوک د جرګې د پرېکړې نه مخ وګرځوي او یا په کې چون او چرا وکړي، د جرګې د نه منلو او یا په هغې د اعتراض خوهیڅ پوښتنه نه پیدا کېږي او نه څوک دغه پرېکړه بل ځای ته وړلی شي د هر ځای، هرې کورنۍ، قبیلې او قوم د ستونزو د حل ښه کړنلاره جرګه ده، په دې شرط چې په جرګه کې ګډ مشران د خپلو ذاتي ګټو، فشار، خپل پروری، خپلې خوښې او ناخوښۍ نه ځان وساتي او یوازې د خدای رضا او د خلکو د خدمت د جذبې او اخلاص لاندې جرګه سرته ورسوي.

بل ځای کې یو ختیځ پوه وایي:

کله چې پرېکړه وشوه، د جرګې غړي په مالګه یا توره او یا هم قرآن پاک باندې قسم کوي او دغه پرېکړه د لاسونو پر یو بل سره ښودلو لمانځي او له دې لارې ژمنه کوي چې دا پرېکړه به په ټوله وفادارۍ سره ترسره کوي.

وړاندې لیکي: جرګه د پټانانو(افغانانو) تر ټولو ولسواکه او په زړه پورې بنسټ دی د جرګې د غړیتوب لپاره غوراوی ساده ده، د جرګې غړي باید د سلیم عقل لرونکي او معتبر سړي وي، د عمر، علمي وړتیا او د قانوني پوهې له پلوه کوم بندیز نشته، په ځینو قبیلو کې کېدای شي یو ډېر ځوان د جرګې غړی شي، پرېکړه د ټولو په خوښه او همفکرۍ سره ترسره کېږي.

پایله:

پښتانه چې د نننۍ او پرونۍ نړۍ د اریایي توکم یوه مشهوره څانګه ده او په یوه سره ترلې او نښتې سیمه کې ژوند کوي، ډېر داسې دودونه او رواجونه لري چې ډېرو یې په نړیواله کچه د پښتنو تدبر او تعقل زیات کړی، په پښتنو کې کوچنۍ دعوې او معاملې، لکه پور، ښکنځل کول، لویې دعوې لکه د مړي، ځمکې او داسې نورې ورته مسالې د جرګو په وسیله حل کېږي.

د دغو مرکو او جرګو ارزښت او اهمیت د پښتنو په قبیلو او قومونو کې دومره ډېر دی چې په خپلو منځونو کې یې د ټولو ګډوډیو او نا رامیو مخه نیولې ده او په قبایلو کې یې دا ډول سیستم جوړ کړی دی چې د هر سړي حقونه او ازادي ساتي.

سرچینې:

1.رفیع، حبیب الله، دجرګې تاریخي څېره ، درسی لکچر کال ۱۳۹۱ه ش

۲.ارشاد، اورنګزېب، افغانستان پېژندنه: دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۴ هجري لمریز کال.

۳.عزیزالرحمن(عمر) پایان نامه جرګه ومرکه سال۱۳۸۸ هجری شمسي

٤.د لیکوال تجربه



# پرکورنۍ او بهرنۍ سوداګري د واخان دهلېز اغېزې

لیکوال: ثناءالله عمران

یوه مهمه مسأله او پرمختګ چې نن سبا په سیمه ییز، جیوپولیټیکو بحثونو کې ډېر مطرح کېږي، د واخان دهلېز دی. په افغانستان کې د څولسیزو جګړو او دربدرۍ وروسته د سراسري امنیت ټینګېدو سره د واخان دهلېز په اړه بحثونه د عملي کېدلو په درشل کې دي. دا مهم پرمختګ د ورېښمو سړک جوړېدلو په تړاو دی چې د افغانستان له واخان ولسوالۍ څخه د چین تر پولې غځول کېږي. د بدخشان په سیمه کې دغه مځکنۍ ۳۵۰ کیلومتره اوږده تړانګه د نړۍ د درېیو لویو غرونو لړۍ لکه هندوکش، قراقرم او پامیر د نښلولو ځای دی.

د دغه د هلېز د رغاونې چارې چې لا له وړاندې د کلیو بیا رغاونې او پراختیا وزارت له لوري پیل شوې، په بشپړېدو به یې افغانستان مخامخ له چین سره وصل شي. ۲۰۲۳ ز کال کې د صنعت او سوداګرۍ وزارت ویلي وه چې له چین سره د سوداګرۍ زیاتېدو په هڅه کې دي څو د واخان له لارې له چین سره ونښلېږي. د یاد دهلیز په رغېدو سره به د دواړو هېوادونو تر منځ د ځمکنۍ واټن کمېدو تر څنګ د سوداګریزو وارداتي او صادراتي توکو د لګښت پر راټیټېدلو هم اغېز ولري.

په یا دې لار د وارداتو - صادراتو د پیاوړي کېدو سربېره تمه کېږي چې له امله به یې افغانستان د مالیاتو له درکه د پام وړ پراخ

عواید ترلاسه کړي.

د دهلېز اړوند د دواړو حکومتونو تر منځ جدي بحثونه خورا مهم دي چې په افغانستان او سیمه کې د سوداګرۍ او اقتصادي فعالیتونو د ودې لپاره د پام وړ فرصتونه رامنځته کوي او افغانستان به په بالقوه توګه له نورو سیمه ییزو قدرتونوسره د نېږدې اړیکو په تکل کې شي.

د واخان دهلېز په فعالېدوسره به نه یوازې د پاکستان - چین پر اقتصادي دهلېز، ورسره خوا کې ګوادر؛ کراچۍ او چابهار بندرونو باندې هم مثبتې اغېزې ولري او په وچه کې راګیره منځنۍ اسیا به د یاد دهلېز له لارې له یادو بندرونوسره ونښلول شي.

دغه لاره کولی شي د بېلابېلو توکو لکه، معدنیات، توکر، زراعتي محصولاتو او تولیداتو سوداګري اسانه کړي. د منځنۍ اسیا هېوادونه کولی شي طبیعي زېرمې لکه تېل، ګاز او منرالونه صادر او یو شمېر نور توکي لکه توکر، ماشینري او بریښناییز توکي راوارد کړي.

له دې لارې د سوداګرۍ حجم به په بېلابېلو فکتورونو پورې اړه ولري لکه د بیخ بنسټونو ظرفیت، په سوداګریزو مقرراتو کې اسانتیا او د بازار تقاضا؛ په هرصورت د واخان سوداګریز دهلېز پرانیستلوسره به چابهار او کراچۍ بندرونو له لارې د هند سمندر ګرمو اوبو ته په لاسرسي سره به د سوداګرۍ حجم د پام وړ ډېر شي.

دا چې په اوسني عصر کې د چین تجارت د نړۍ په مارکیټونو کې ځانګړې ځای لري او د بېلابېلو هېوادونو لپاره په مختلفو نورمونو اجناس تولیدوي له همدې امله ایران او عربي هېوادونه هم لېواله دي چې له دې لارې له چین‌سره سوداګري ولري.

واخان د سوداګریزې لارې په توګه کولی شي د افغانستان ستراتیژیک او جیوپولیټیک موقعیت ارزښت نورهم لوړ کړي، د منځنۍ آسیا بازارونوسره به یې اړیکې زیاتې او اقتصادي وده به یې لاپسې چټکه کړي. د دې لارې په اوږدو کې د بیخ بنسټونو پراختیا به اقتصادي وده وهڅوي، د کار فرصتونه به رامینځته کړي او د خلکو تر منځ اړیکې به وده ومومي چې دا په سیمه کې د لا زیات تفاهم او همکارۍ سره ګټور تمامېدلی شي.

سربېره پردې، یاد دهلېز د منځنۍ اسیا هېوادونو ته په ترتیب سره د چابهار؛ ګوادر بندرونو له لارې نړیوالو بازارونو ته د لاسرسي په موخه لنډه او اغېزناکه لاره چمتو کوي، ځکه دواړه بندرونه د هرمز تنګي په خوله کې له ستراتېژیک موقعیت څخه برخمن دي.

د چین لپاره د واخان پولې پرانیستل به د یوه کمربند او یوې لارې د نوښت د یوې برخې په توګه بېلابېلو بازارونو ته د چینایانو لاس رسي د پرمختګ لپاره زمینه برابره کړي.د دې لارې عملي پرانیستل تر ډېره بریده د افغان حکومت په وړتیا، افغانستان کې په ثبات او د چین په لېوالتیا پورې اړه لري. دا هغه څه دي چې نن سبا یې عملاً وینو او د افغان او چینایي چارواکو تر مینځ په لیدنو کې ترې یادونه کېږي.

تازه د افغانستان داسلامي امارت د ملي دفاع وزارت سرپرست وزیر مولوي محمد یعقوب مجاهد د چین سفیر جاوشینګ

سره د لېدني پر مهال د نورو مسائلو تر څنګ د دواړو لورو تر منځ د سرحدي مسايلو او واخان پروژې په اړه هم بحث در لود.

همدارنګه تېر کال سفیر ویلي وه چې چین او افغانستان لا زیاتو سوداګریزو او ترانزیټي همکاریو ته اړتیا لري. د هغه په خبره چین او افغانستان به د وربښمو لارې په وسیله سوداګري او ترانزیټ پراخ کړي او په دغه برخه کې ګټور پلانونه تر غور لاندې لري.

د دغې سوداګریزې لارې له پرانستلوسره به زیاتره د هغه توکو جریان چې له افغانستان څخه چین ته روان دي یا برعکس، هغه که د سمندر یا د وچې له لارې وي د واخان بندر له لارې ترسره شي. د دې لارې اهمیت چین ته ډېر دی ځکه چې بیجینګ په زیاتېدونکي توګه په افغانستان کې د قیمتي او نادرو کانونو د استخراج په برخه کې لېوالتیا ښیي. (۲۰۲۳) ز کال کې یوې چینایي کمپنۍ د لیتیم استخراج په برخه کې پر افغان کانونو د لس میلیارده ډالره پانګونې له پاره چمتووالی ښودلی وو. په ځینو مواردو کې په عملي توګه د کانونو په سکتور کې پانګونې ته داخل شوي دي. چې ښه بېلګه یې سرپل ولایت اړوند په قشقري نفتي حوزه کې د تېلو د استخراج په برخه کې پانګونه ده.

که په افغانستان کې د اوسپنې پټلۍ شبکه په ښه توګه وده وکړي او د واخان کوریډور له لارې له چین سره ونښلول شي، دا به د شرقي او غربي اسیا د اتصال په معنی وي چې په تاریخ کې به د عطف ټکی شي ځکه په اسیا کې بېلابېلې تجارتي، سیاسي او فرهنګي معاملې له یادې پروژې څخه اغېزمنېدای شي. افغان چارواکو هم ویلي چې په اوږد مهال کې د اوسپنې پټلۍ اسانتیاوې هم یاد دهلېز کې په پام کې نېول شوي دي.

د افغانستان ځانګړې جغرافیایي موقعیت د ختیځې او لوېدیځې اسیا تر منځ د سوداګریزو اړیکو جوړولو لپاره پام وړ مخینه او ظرفیت لري او د واخان دهلېز یو له هغو سیمو څخه دی چې کولی شي د پخوا په څېر د افغانستان دا ځانګړې جغرافیوي ظرفیت یو ځل بیا جوت کړي.

په ټولیزه توګه ویلی شو په هره اندازه چې افغانستان وکړی شي د سیمې او ګاونډیو هېوادونوسره په عصري ټکنالوجي سمبال ټرانزیټي او تجارتي لارې پرانیزي، په هماغه کچه به یې پر اقتصادي برخلیک مثبت اغېز وکړي.



# د لومړۍ او دويمې نړيوالې جګړې پر مهال د افغانستان د بې طرفۍ د سياست څرنګوالی او پايلې

ليکوال: څېړندوی وجيه الله ظهير

**لنډيز**

لومړۍ او دويمې نړيوالې جګړې پر مهال د افغانستان د بې طرفۍ سياست، له ډېرو مشورو او آن تر جرګو دايرېدلو وروسته نېول شوی. په دغو دواړو جګړو کې د جنګ او هم د بې طرفۍ پلويانو شتون درلود. دواړو ډلو مختلف نظريات او هم بېلا بېل دليلونه درلودل.

دغه دواړې جګړې هغه مهال پېښې شوې چې په لومړۍ کې امير حبيب الله او په دويمه کې پاچا محمد ظاهر په افغانستان کې د چارو واګې په لاس کې درلودې. امير حبيب الله ته د ترکيې عثماني خليفه په دې نيت يو هيأت راواستوه چې ګواکې امير جګړې ته وهڅوي او انګرېزانو ترې غوښتل چې بې طرفه پاتې شي. په دويمې جګړه کې هم بيا ورته موضوع وه، هغه داسې چې د افغانستان له پاچا، محمد ظاهر شخه انګرېزانو وغوښتل چې په جګړه کې خپله بې طرفي حفظ کړي او المانيانو پرې فشار راوړ چې ترڅنګ يې ودرېږي.

**سريزه**

لومړۍ او دويمه نړيواله جګړه هغه تباه کوونکي جنګونه ول چې د نړۍ پر مخ يې ډېر انسانان تباه کړل، فقر او نيستي يې را

منځته کړه او د دخیلو هېوادونو اقتصادونه یې له رکود او کمزورۍ سره مخامخ کړل. د دغو دوو جګړو د رامنځته کېدو سببونه که څه هم متفاوت دي، خو مرګ ژوبله او د لکونو وو انسانانو وژل کېدل بیا هغه څه و چې دې دواړو جګړو د ډالۍ په ډول نړۍ ته وړاندې کړل.

لومړۍ نړیواله جګړه چې د ۱۹۱۴ز. کال د اګست په لومړۍ نېټه پیل شوې وه د ۱۹۱۸ز. کال د جنورۍ د میاشتې تر ۱۱ مې نېټې پورې یې دوام وموند او دویمه نړیواله جګړه بیا د ۱۹۳۹ز. کال څخه پیل تر ۱۹۴۵ز. کال پورې یې دوام درلود.

په دغو دواړو جګړو کې افغانستان د یو بې طرفه هېواد په توګه پاتې شو، دلیل یې دا و چې د وخت حاکمانو ښه نه ګڼله چې افغانستان په دغسې تباه کوونکو جګړو کې ښکېل کړي چې پرته له زیان او وژنو څخه یې بله پایله نه درلوده. که څه هم یو لړ سیاسي شننوکي، پوهان او څېړونکي د افغانستان بې طرفي هغه مهال د افغانستان په زیان بولي، خو په ټوله کې بې طرفي د نورو څېړونکو په نظر د افغانستان په ګټه وه او دا دلیل نیسي چې جنګ تباهي زېږوي او افغانستان هغه مهال له یوې سترې تباهۍ څخه ساتل شوی و.

په دې څېړنه کې د دواړو نړیوالو جګړو پر مهال د افغانستان بهرنۍ سیاست او له جګړو وروسته د بې طرفۍ د سیاست پایلي (زیانونه – ګټې) څېړل شوي او دا په ډاګه شوې چې دغه سیاست او پالیسي- په رښتیني مانا د افغانستان په ګټه وه او که په زیان؟ همدغه‌سرلیکونه او پوښتنې ته په کې ځواب ویل شوی او کوښښ شوی چې د دې موضوع د څېړلو لپاره له غوره او معتبرو منابعو څخه ګټه واخیستل شي.

### د څېړنې مبرمیت

د څېړنې مبرمیت په دې کې دی چې د یادې موضوع د څېړلو په تړاو تر دې دمه کومه واحده لیکنه چې په دواړو جګړو کې یې د افغانستان دبې طرفۍ بهرنۍ سیاست څېړلی وي، نه ده تر سترګو شوې، په همدې اساس مې غوره وګڼله چې په اړه یې څېړنه ترسره کړم.

### د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه دا ده چې دا په کې زبات او وڅېړل شي چې د لومړۍ او دویمې نړیوالې جګړې پر مهال د افغانستان د بې طرفۍ (ناپېیلتوب) بهرنۍ سیاست د ولس، وخت اوشرایطو غوښتنه وه او که د وخت د حاکمانو هیله.

### د څېړنې مېتود

د دې څېړنې د پوره کېدو لپاره له تشریحي، توصیفي، تاریخي او تحلیلي مېتودونو څخه ګټه اخیستل شوې.

### د څېړنې پوښتنه

د لومړۍ او دویمې نړیوالې جګړې پر مهال د افغانستان ناپېیلۍ بهرنۍ سیاست د افغانستان په ګټه و او که په زیان؟

### ۱ – لومړۍ نړیواله جګړه

د دغې سترې جګړې عمده لامل د اروپا د استعماري هېوادونو حرص او د مستعمرو پر سر سیالۍ وې، خو په ظاهره کې په سربستان کې د اتریش د شهزاده او شهزادګۍ وژل کېدل هغه څه وو چې په پایله کې یې د ۱۹۹۴ز. کال د جولای په ۲۸ مه نېټه اتریش په سربستان برید وکړ. وروسته المان د اتریش – مجارستان په طرفدارۍ روسیې ته چې د سربستان طرفداري یې کوله د ۱۹۱۴ز. کال د اګست په لومړۍ نېټه د جګړې اعلان وکړ. له همدې نېټې څخه لومړۍ نړیواله جګړه پیل او د ۱۹۱۸ز. کال د جنورۍ تر ۱۱ مې نېټې پورې یې دوام وکړ او د پاریس د سولې کنفرانس چې د امریکا جمهوررئیس

(ویلســـــــن) په کې ګډون کړی و، پای ته ورسېد. په دې جنګ کې متحدین(اتریش، مجارستان، المان، ترکیه، بلغاریا) او متفقین(انګلستان، فرانسه، روسیه، امریکا، ایټالیا، جاپان، رومانیا، سربستان، بلژیک، یونان او پرتګال) وو.(۴: ۱۶۱مخ)
په دې جګړه کې ډېر هېوادونه په مستقیم او غیر مستقیم ډول دخیل وو، خو یو تعداد هېوادونه لکه د افغانستان په څېر په دې جنګ کې بې طرفه پاتې شول. د لومړۍ نړیوالې جګړې اصلي لوري المان او اتریش وو چې د روس او انګلســـــتان په مقابل کې یې قرار درلود.
دغو هېوادونه خپل څنګ کې په لســـــګونه نور هېوادونه درلودل. عثماني ترکیه د المان په خوا کې ودرېده او دغه راز انګلستان د هندوچه له ځان سره درلوده. کله چې جګړه ونښته په افغانستان کې امیر حبیب الله حاکم و.(۸: ۲۷۲مخ)

## ۲- د لومړۍ نړیوالې جګړې پر مهال د افغانستان بې طرفي

له لومړۍ نړیوالې جګړې کم وخت وتلی و، چې المان او انګلستان جنګ کې د افغانستان د ننوتلو کوښښونه پیل کړل. د ۱۹۱۵ز. کال د اګست د میاشتې په ۱۴ مه نېټه د المان او ترکیې استازو، ورپســې ناراضه هندي مسلمانانو افغانستان ته مخه کړه، ترڅو امیر دې ته مجبور کړي چې په جګړه کې د المان په لوري ودرېږي. د ترکي اســـــتازو په ترکیب کې (کاظم بیګ) چې د عثماني خلیفه (پنځم سلطان محمد) استازی و او د الماني هیأت په ترکیب کې (اسکار فن نیدرمایر) او (اتوفن هنتیک) دوه استازي او (ویلهلم دوم) د المان سفیر شامل وو.
همدارنګه یو تعداد د هندي مبارزینو له ډلې چې رهبري یې (راجا مهندرا پراتاب) او (مولوي برکت الله) کوله، وروســته یادو اســتازوسره ملګري شــول. ورته مهال کې د برتانوي هند اســتازو هم کابل ته تګ راتګ پیل کړ، ترڅو په دې وتوانیږي چې امیر دې ته مجبور کړي چې د دوی په لوري ودرېږي او یا له جنګ څخه لاس په سر شي او بې طرفه پاتې شي.(۵: ۳۴مخ)
په کابل کې له امیرسره د یادو استازو مذاکرات دومره وځنډېدل چې میاشتې پرې واوختې، تر دې پورې چې د امیر په دربار کې هم خلک په دوه ډلو ووېشـــــل شول او یاده موضوع د اختلاف سبب شوه. یوې ډلې ملي ګرایانو(محمود طرزي کورنۍ) امیر دې ته هڅوه چې د عثماني خلافت او المان په ګټه د انګرېزانو پر ضـد جګړې ته داخل شي. محمود طرزي په دربار کې ډېر نفوذ درلود او همدارنګه یې د «سراج الأخبار» جریده په واک کې وه.
دغه راز یوه بله ډله د امیر حلقه وه چې په دربار کې یې شـتون درلود او نه یې غوښـتل چې امیر د انګرېزانو پر ضـد جګړې ته مخه کړي. دغې ډلې له یو لوري د انګرېزانو پر ضـــــد د جنګ توان په ځان کې نه لیده او له بل لوري یې فکر کوه، که چېرې امیر د انګرېزانو پر ضد په جګړې لاس پورې کړي، نو د انګرېزانو هغه دوامداره مرسته به په امیر قطع شي.
بالاخره امیر دې ته مجبور شو چې د یوې عنعنوي جرګې په ترڅ کې چې سپین ږیرو او دولتي چارواکو په کې ګډون کړی و او شمېر یې ۵۴۰ تنو ته رسېده، د ۱۹۱۵ز. کال د اکتوبرپه میاشت کې وروسته له مشـــــــورو او خبرو اترو اعلان وکړي چې افغانستان په یاد جنګ کې بې طرفه دی.
دغه تصــــــمیم او پرېکړې د المان او ترکیې استازي خفه او د انګرېزانو استازي خوشحاله کړل. کله چې د انګرېزانو پاچا له دغې پرېکړې خبر شــو، له امیر څخه یې مننه وکړه او دا یې په ځان ومنله چې د کال دوه میلیونه او ۴۰۰ زره هندي کالدارې له افغانستان سره همکاري کوي او له دې نه پرته به د امیر دربار ته په کال کې ۶۰ ملیونه هندی کالداري ورکوي.(۸: ۲۷۲مخ)
د لومړۍ نړیوالې جګړې په لومړیو کې انګلستان په ترکیې برید وکړ، دې کار په هند کې چې د انګرېزانو مستعمره و، ډېره اغېزه وکړه. په هند کې د انګرېزانو پر ضد هغه وخت عکس العمل شدید شو، کله چې شیخ الهند(محمود الحســـن) پښـتنو

قبایلو ته لاس را وغځوه. دې کار انګرېزان په تشویش کې واچول، ځکه چې پښتنو قبایلو او دیني علماوو له (امیر حبیب الله) څخه غوښتنه کوله چې د دیني لاربنود په توګه دې د انګرېزانو پر ضد جهاد اعلان کړي. امیر دا مسأله په دربار کې مطرح کړه. خلک په دوو ډلو ووېشل شول، یوې ډلې د جګړې پلوي کوله او بلې ډلې د امیر په خوښه د بې طرفۍ خوا ونیوله. انګرېزانو هم امیر دې ته هڅوه چې بې طرفه پاتې شي، ځکه چې ترکیه متحدینوسره یو ځای شوې وه او افغانستان ته یې یو هیأت را واستوه او هڅه یې کوله چې امیر د انګرېزانو پر ضد جګړه کې برخه واخلي، خو امیر هغه په ماهرانه ډول غافل وساتل او په خپلې پوهې او تدبیر سره یې وکولی شول چې افغانستان په دې جګړه کې بې طرفه پاتې شي.
(٦: ١٥١-١٥٢ مخونه)

له هغې وروسته چې عثماني ترکانو په دغه جګړه کې ګډون وکړ، هڅه یې وکړه ترڅو په هند او منځنۍ اسیا کې د روسیې او انګرېزانو پر وړاندې د مسلمانانو احساسات را وپاروي، نو د همدې موخې لپاره د افغانستان په ګډون د ترکانو پلاوي، نورو اسلامي هېوادونو ته ولاړل چې د ترکیې په پلوي توب په دغه جګړه کې برخه واخلي.
کله چې ترکي پلاوی افغانستان ته را ورسېد، د افغانانو له لوري په ښه توګه بدرګه شو، دا ځکه چې ترکانو ته د اسلامي ورونو خطاب کېده او له بل لوري د اسلامي خلافت په مرکز یادېده او پر همدې بنسټ له هغوی څخه ملاتړ کېده. دغه پلاوی چې د ترکانو، المانیانو او د هند د دوه ازادي غوښتونکو (موهندرا پرتاب او برکت الله خان) په ګډون اتیا غړي درلودل، کابل ته راغلل او دوه ځلې یې له امیر حبیب الله خان سره ولېدل.
دغه پلاوي له امیر څخه وغوښتل، تر څو د انګرېزانو او د هغو د متحدینو پر وړاندې د جهاد اعلان وکړي او له هغوسره یو ځای شي. سره له دې چې د افغانستان د عالمانو او د امیر د کورنۍ د غړو په ګډون امان الله خان، نصر الله خان، عنایت الله خان، محمود طرزي او یو شمېر نورو کسانو له المان او د هغو له متحدینوسره د یو ځای کېدو غوښتنه کوله، خو یو شمېر انګرېز پلوه کسان چې د وخت د صدراعظم (عبدالقدوس خان) شاوخوا راټول وو، د دغه ملاتړ مخالفت کاوه. امیر چې کله د دوی سلا مشورو ته غوږ کېښود، ویې منله چې د ۱۹۱۶ ز. کال په ۲۹ مه نېټه، په دغې جګړه کې د افغانستان د بې طرفۍ اعلان وکړي چې بیا هماغسې وشول او پلاوی یې له مثبت ځواب پرته او په تش لاس بېرته خپل هېواد ته ستون کړ.
(٧: ٢٣٣-٤٣٤ مخونه)

اډامیک د امیر د پرېکړې او د بې طرفۍ په اړه بیا متفاوت نظر لري، هغه لیکي چې د افغانستان د بې طرفۍ اعلامیه څه ناڅه دوه اونۍ مخکې د ۱۹۱۴ ز. کال د اکتوبر پر ۲۱ مه په سراج الأخبار کې خپره شوې وه، کومه کې چې په غوځ ډول روښانه شوې وه چې افغانستان به له هېڅ کوم جګړه وال سره نه همکاري کوي او نه به یې هم پر ملا ټپوي. همدارنګه نه به د هغوی پر خاوره د تیري خیال په مغز کې لري، هغه هم په دې شرط چې د هېواد ګټې به یې خوندي وي او هېڅ خطر به ورته نه پېښېږي. (۱: ۴۹ مخ)
امیر په بهرنیو چارو کې د برتانیې غلامي نه خوښوله او د پولې هغه غاړه پښتنو او د افغانستان د خلکو په ګډو واکونو باندې یې پوخ یقین درلود. همدغه سبب و چې د اکثریت رایو له اخیستلو څخه وروسته یې دا پرېکړه وکړه چې د افغانستان ګټه په دې کې ده چې لږ تر لږه په دې وخت کې بې طرفه پاتې شي.
امیر دا هم نه غوښتل او نه یې مناسبه ګڼله چې د برتانیې له مصروفیت څخه دې ګټه پورته کړي او هغه غوښتنې دې وکړي چې د نه منلو په صورت کې د هغه شان ته زیان ورسوي. د یوې باوري سرچینې په قول، برتانیې په کابل کې د خپل استوګن

(حافظ سیف الله خان) په ذریعه امیر ته دا باور ورکړی و، که هغه بې طرفه پاتې شي او ملګرتیا وپالي، نو هغوی به د جنګ په ختمېدوسره د افغانستان پوره خپلواکي ومني.
د امیر لپاره بې طرفي ساتل څه اسانه کار نه و. له کورني فشارونو سربېره دا حقیقت هم و چې مرکزي ځواکونو په جدي توګه هڅه کوله چې امیر خان ته راوکاږي. هغوی ته معلومات وو چې په نیمه وچه کې د بـریتانوي حاکمیت د کمـزوري کولو لپاره د افغانانو نفوذ نه کار اخیستلی شو او د هغوی د وس نه یې ګټه اخیستل غوښتل.(۵: ۳۳-۳۴ مخونه)
کله چې په ۱۹۱۴ز. کال لومړی نړیوال جنګ ونښـــــت، امیر حبیب الله لاس ترلی د انګریزانو د دوستۍ او ملګرتیا په هیله کېناست او په دغه حال کې یې یوه ورځ په یو لوی دربار کې چې د بهرنیو چارو وزارت د «استور» په قصر کې چې د ۱۳۳۲هـ ق. کال د رمضـان المبارک د میاشتې وروسته د کمکي اختر په ورځو کې یې د انګلسـتان د فوق العاده استازي په مخکې وویل: « خط وایسرا صاحب هند به نام لاردهاردنګ در خصوص اخبار کیفیت حرب عمومی اروپا و داخل بودن دولت معظمه بریتانیه در این حرب به حضـور مارسیده، وضمناً به طور اشعار دوستانه نوشته اند که: چون دولت عالی افغانسـتان اززمان اعلیحضـــــــرت ضیأ الملت والدین مرحوم با دولت معظمه بریتانیا عهد دوستی و پیمان مودت داشته و دارد و در مهمات و عظمات امور خارجه پرسیدن رای و استشـــاره دولت بریتانیا از جمله مواد عهدنامه قرارداد شده و تجدید هم شده است. از آنرو بیطرفی دولت علیه افغانسـتان را در این حرب حاضره مناسب تر و موافقتر دانسـته، به اشعار دوستانه و اظهار مخالصت کارانه ابتدا ورزیده است. بعد از آن امیر اضافه کرد که: هدف و مفهوم از تحریرات دوستانه جناب وایســـرا نوشتم که: واقعا دولت علیه ما با دولت بهیه شـما تا به وقتیکه به شرف و حیثیت و اسـتقلال و حریت آن هیچ تعرضـــی از هیچ طرف به وقوع نیامده باشد وشرایط معهوذ خلل پذیرنشده باشد، کما کان بر عهد و پیمان دوستی خود پایدار و استوار است و کذالک تا به هنگامیکه بر منافع حاکمیت و حقوق ملکیه او از هیچ طرف هیچ تجاوزی به وقوع نیامده باشد، از مسـلک بیطرفی انحراف نخواهد ورزید».(۳: ۱۴۸مخ)
همدغې مســــألې ته بیا افغان مؤرخ ابراهیم عطایي داسې اشاره کوي، د بریتانیې پاچا امیر ته لیک را واستوه او په نومورې لیک کې د افغانســـتان په بې طرفۍ ټینګار شوی و. امیر د یاد لیک ځواب وځنډاوه، تر څو د ۱۹۱۵ز. کال د سپټمبر په ۱۲ مه نېټه د برتانوي هند د بهرنیو چارو سکرتر ترې ګیله وکړه او مکتوبې یې امیر ته ولیکل چې دا کار د دوستۍ شیوه نه ده.
وروسته له دې امیر سمدستي په کابل کې د انګریزانو استازي(سیف الله) ته وویل چې ته د یو مسلمان او افغان په توګه چې دلته څه وینې هغه باید په رښتیني ډول هند ته ولیکې. دلته لوی بحران دی اوزه هغه آرامول غواړم او هغوی باید په دې قانع کړې چې زه د انګرېز یورښتینی دوست یم او د افغانســــــتان بې طرفي به تر هغه وخته چې زموږ داخلي ګټې له خطرسره مخامخ نه شي، ساتو به یې.
بالاخره د ۱۹۱۶ز. کال د جنورۍ په ۱۶ مه امیر د بریتانیا د پاچا او د هند د ویســـرای لیکونو ته ځواب واستوه او په هغه کې یې د هغه د مستمرې د زیاتوالي په باب ولیکل چې دا د افغانسـتان د خپلواکۍ او عزت لپاره یو تحقیر دی. بې طرفي باید په داخلي اقداماتو غښتلې شي او دا کار ډېرې پیسې غواړي.
امیر د بریتانیا له پاچا څخه تشـــکر وکړ او څرګنده یې کړه چې تر هغه وخته چې افغانســــتان ته کوم خطر مخامخ نه وي د افغانسـتان رفیع او خداداد دولت به خپلې بې طرفۍ ته دوام ورکوي او هغې دوستۍ ته چې تاسې یاده کړې، تل به د قدر په ستر ګه ګوري.

د جنګ په پای کې امیر هیله درلوده چې د سولې په کنفرانس کې به افغانستان ته هم دعوت ورکړي، خوولې لندن امیر ته په ځواب کې ولیکل چې د سولې په کنفرانس کې هغه هېوادونه ګډون کولی شي چې په جګړه کې یې ګډون کړی وي. په دې توګه د امیر لاس په یخو اوبو ووينځل شو او د افغانستان په دننه کې هم ورته عکس العملونه پیدا شول.(۴: ۱۶۲مخ)

**۳- له جګړې وروسته د بې طرفۍ د سیاست پایلې**

لومړۍ نړیواله جګړه کې د افغانستان بې طرفي هغه موضوع ده چې پورته پرې یو څه بحث وشو. دې کې شک نشته چې بې طرفي یو څه ګټې او هم زیانونه درلودل. په دې جګړه کې د افغانستان یوه ګټه دا وه چې له ورانۍ، وېجاړۍ او بربادۍ څخه وژغورل شو. ځکه جګړې سره وحشت ملګری او بربادي زېږوي. بله ګټه یې په اقتصادي ډګر کې وه، هغه داسې چې هغه مهال اکثره هېوادونه د جګړو له امله اقتصادي ستونزو سره مخامخ شول او اقتصادي ستونزې بیا هغه څه دي چې ټولنې او هېوادونه له بدسرنوشت سره مخامخ کوي، خو افغانستان بیا د بې طرفۍ د سیاست له مخې وکولی شول چې له اقتصادي خطرونو څخه ځان مصئون کړي او پرېنږدي چې له اقتصادي رکود سره مخامخ شي.

دغه راز دبې طرفۍ د سیاست له امله افغانستان د امیر حبیب الله خان په مشرۍ وکولی شول چې له انګرېزانو څخه په کال کې دوه میلیونه او ۴۰۰ زره هندي کالدارې ملي خزانې ته او د خپل دربار لپاره ۶۰ ملیونه هندي کالدارې په لاس راوړي، چې دغه عاید په ټوله کې هغه مهال ډېر څه و.(۷: ۲۳۴مخ)

دغه راز د بې طرفۍ سیاست که له یو لوري د افغانستان په ګټه و، خو له بل لوري بیا د ځینو څېړونکو او مؤرخینو په قول له زیانونو او تشو څخه خالي هم نه و. د څېړونکو په قول لومړۍ نړیوالې جګړې کې ممکن و چې د برتانیې پوځي ځواکونه له ماتې سره مخامخ شي، هغه داسې که چېرې افغانستان په جګړه کې بې طرفه نه وی پاتې شوی او د المان او عثماني ترکیې سره ولاړ وی، په داسې حال کې افغانستان کولی شوی چې د قبایلو د سیمو ببلا بېل وګړي د انګرېزانو پر وړاندې قیام ته وهڅوي، په دې حالت کې بیا انګلستان مجبور و چې خپل هغه نظامیان چې له هند څخه یې بین النهرین ته استولي وو، بېرته هند ته را وغواړي او ترڅنګ یې په دې هم مکلف وو چې نور نظامي ځواکونه له اروپا څخه را وغواړي او د قبایلو جنګ ته یې واستوي.

دغسې یوه حالت کولی شول چې د جګړې لوری بدل کړي ، خو کله چې افغانستان په جنګ کې د بې طرفۍ سیاست غوره کړ، انګرېزانو د آرام ساه ووېسته، د اروپا جبهې یې غښتلې کړې او پایله کې یې المان ته ماتې ورکړه.

بل زیان د بې طرفۍ د سیاست دا و چې امیر د انګرېزانو پر وړاندې د خوش باورۍ ښکار و، امیر سره انګرېزانوژمنه کړې وه که چېرې په جګړه کې بې طرفه پاتې شي، نو له جګړې وروسته به یې خپلواکي په رسمیت ومني، خو کله چې جنګ پای ته ورسېد، نه یوازې دا چې خپلواکي یې په رسمیت ونه منل شوه، بلکې د پاریس د سولې په کنفرانس کې افغانستان ګډون ونه شو کړی، ځکه چې د انګرېزانو استدلال امیر ته دا و چې دې کنفرانس کې هغه هېوادونه ګډون کولی شي، چا چې جګړه کې برخه اخیستې وي.(۵: ۳۳مخ)

**۴- دویمه نړیواله جګړه**

دویم نړیوال جنګ چې په ۱۹۳۹ز. کال پیل شوی و، په ۱۹۴۵ز. کال کې پای ته ورسېد. د دې جنګ لمبې چې له اروپا څخه پورته شوې وې، ډېرې ژر آسیا او د نړۍ نورو برخو ته ورسېدې.

د دې جنګ دوه لوري د متحدینو او متفقینو په نامه یادېدل. په متحدینو کې المان، ایټالیا، جاپان او دختیځې اروپا

کوچني هېوادونه شامل وو او په متفقینو کې انگلســـتان، فرانســـه، شوروي اتحاد، د امریکا متحده ایالات او یو شمېر نور اروپايي هېوادونه شامل وو.
دا یو خطرناک جنگ و. په دې جنگ کې چې په مستقیم ډول کوم هېوادونه شامل وو، ډېر مالي او ځاني تاوانونه یې وگالل او هغه چې په کې شامل نه وو، هم بې تېپه پاتې نه شول. د دې جنگ په دوران کې د افغانســتان په شمال کې شوروي روسیه، په لویدیځ کې ایران او په جنوب او ختیځ کې برتانوي هند و او ټول په کې رانسکور شول.
دغه مهال په افغانستان کې محمد ظاهر شاه، پاچا و اوسردار محمد هاشم خان صدراعظم و. محمد هاشم خان په ډېر لوی تدبیر نه یوازې افغانســـتان د جنگ له لمبو څخه وژغوره او هېواد ته یې کوم زیان ونه رسېد، بلکې د اقتصــاد له اړخه یې د سپما لپاره کافي ډالر هم ذخیره کړل، کوم چې وروسته په پراختیایي پروژو کې کار ورڅخه واخیســـتل شو. کله چې دویمه نړیواله جگړه په ۱۹۳۹ ز. کال کې پیل شوه، نو هماغه وخت افغانســـتان د بې طرفۍ اعلان وکړ او په پاچایي فرمان سره په جگړه کې دخیل نه شو.(۴: ۲۳۸مخ)
د ۱۹۴۰ ز. کال د اگست په ۱۷ مه نېټه افغانستان په دویم نړیواله جنگ کې د بېطرفه پاتې کېدو اعلان وکړ. د افغانستان یو شـمېر سـیاسي کړیو او روښـانفکرانو د المان پلوي کوله او دا یې ښـه وخت او موقع بلله چې په دې جگړه کې د ښـکېلو انگرېزانو له ستوني څخه د هغوی تر اشغال لاندې د هېواد ځمکې بېرته خپلې کړي.
د نړیوالې دویمې جگړې له پیل څخه مخکې د افغانستان او المان ترمنځ اړیکې خورا ښې او نږدې وې. د افغانستان لپاره په ټوله معنا دا طبیعي خبره وه چې له برتانیې سره د هغې د استعماري سـابقې په رڼا کې له المان سره ښـې اړیکې ولري. دا په دې چې المان په سیمه کې نه استعماري سابقه لرله او نه یې په افغانســـــــــتان کې د ناروا گټو ادعا لرله. هغه مهال په افغانســـتان کې گڼ شمېر الماني ماهرینو په بېلا بېلو اقتصـادي ډگرونو کې کار کاوه او د دواړو ولسـونو ترمنځ په خورا لوړه کچه سوداگري روانه وه.
که چېرې دویم نړیوال جنگ نه و پیل شـوی، نو دا اړیکې به له شـک پرته نورې هم غوړېدلې وې، خو جگړې یادو اړیکو ته ناڅاپي د پای ټکی کېښود. دا چې په دې جگړه کې د برتانیې ماتې حتمي وه، بیا هم د افغانسـتان پاچا، محمد ظاهر شاه د ناپېیلتوب اعلان وکړ چې دغه اعلان په خپل ذات کې د برتانیې لپاره په سخت حالت کې یو خوږ زېری و.
د زرملوال په قول، پاچا محمد ظاهر خو د خپل ولس د هیلو او غوښتنو پر خلاف دا «ښایسـته ډالۍ» برتانیې ته ورکړه، خو آیا برتانیې د دې ښایسته او خوږې ډالۍ په ځواب کې څه وکړل؟ د برتانیې چلن متکبرانه او کټ مټ هغه شان و لکه د تاریخ په اوږدو کې یې چې درلوده. (۲: ۲۵۶مخ)
کله چې په ۱۹۳۹ ز. کال د سپټمبر په ٦ مه د پاچا د یو فرمان په ترڅ کې د افغانســتان بې طرفي اعلان شوه، همدغه مهال جگړې زور واخیســـت. د متحدینو(محور) پوځونه شوروي اتحاد ته ننوتل. دواړو خواوو(متحدینو – متفقینو) غوښتل چې د ایران په څېر افغانستان کې هم نظامي اډه جوړه کړي، خو افغانستان د دویم ځل لپاره د ۱۹۴۱ ز. کال د جولای په ۲۸ مه یو ځل بیا خپله بې طرفي اعلان او تائید کړه. د افغانســـتان بې طرفي د ۱۹۴۱ ز. کال د نوامبر په میاشت کې د لویې جرگې له خوا هم تائید شوه.
د افغانســتان حکومت یو شمېر الماني او ایټالوي انجنیران د شوروي او انگلســتان له غوښتنې وروسته په ډېر عزت سره خپلو هېوادونو ته واستول.(٦: ۲۲۵مخ)

اډامیک لیکي، افغان واکمنان له لومړی نړیوالې جگړې څخه په تجربې سره په دې تکل کې وو چې یا خو به له دویمې نړیوالې جگړې څخه ځانونه ژغوري او یا به یوازې د افغانستان تر ټولو ښو گټو د گټلو په صورت کې به پرې ور گډېږي.

افغان پاچا، محمد ظاهر شاه له افغاني پارلمان سره تر یو لړ سلا مشـــورو وروسته د ۱۹۳۹ ز. کال د سپټمبر په ٦ مه نېټه یو فرمان صادر کړ او په هغه کې یې د افغانستان د ناپېیلتوب اعلان وکړ. دې اعلان د جگړه والو ځواکونو د اتباعو پر خوځښتونو هم بندیز ولگوه او هم یــې د تبلیغاتو هـر ډول فعالیتونه تم کـړل او بل دا چـې د خبرونو خپرول یـې د جگـړه والو ځواکونو د حکومتونو په رسمي نشـــــر پورې محدود کړل. همدارنگه په پام کې وه چې یوازې به د کابل د اصلاح د ورځپاڼې له لارې خپرېږي.

پر شوروي اتحاد د المان له برید نه یوه ورځ وروسته د افغانســـتان دبهرنیو چارو وزیر (علي محمد خان) په کابل کې د المان سفیر ته وویل، کله چې شوروي اتحاد او برتانیه ملگري شـوي دي، د نړۍ سیاسي وضعې ته یې پوره تغییر ورکړی دی، دغه وخت افغانستان نه شي کولی چې خپل یو گاونډي هم مشغول وساتي. د بهرنیو چارو وزیر وویل: اوس د افغانستان حکومت نه د المان ملگری دی او نه د برتانیې ملگرتیا کوي، بلکې یوازې د افغانستان ملگرتیا کوي.(۱: ۴۴۴، ۴۵۱مخونه)

د ۱۹۳۹ – ۱۹۴۱ ز. کلونو تر نیمایي پورې د افغانســـتان بې طرفي انگرېزانو ته گټه رسوله، ځکه چې افغانســـتان هغوی ته تسلي ورکړې وه چې د افغانســتان حکومت به د پاخون لپاره د قبایلو لمسولو نه ځان وژغوري. دغه ډول انگرېزانو د بېطرفۍ ارزښت ته په پام کې نیولوسره د هغې دوام غوښته او بل لوري ته المان، ایټالیې او شورویانو هڅه کوله چې افغانســتان خپل ځان لوري ته را کش کړي.

په مقابل کې المانیانو په افغان حکومت زور راوړه چې بېطرفي نه واوړي او د افغانســـــتان جذباتي ادعا بیا تازه کړي. ډېر افغانان د بې طرفۍ نه د اوږدلو طرفداران وو، یو زیات شمېر نوښتیان او ملتپالان د افغانســـتان د ادعاگانو د تاثیر لاندې المان ته مخ اړوه، د هغوی دا یقین و چې برتانیه به هېڅکله افغانســـــتان ته خپله بایللې ځمکه بېرته ورنکړي او د المان د بریالیتوب په حال کې د دې امکان و.(۵: ۷۲ – ۷۳مخونه)

د دویمې نړیوالې جگړې له پای ته رسېدلو څخه مخکې د افغانســتان حکومت د پرنگیانو(انگرېزانو) انصـاف ته هیله مند وو، خو په ۱۹۴۴ ز. کال د برتانیې حکومت ته د انگرېزانو تر اشغال لاندې سیمو خلکو د خپل برخلیک په اړه یو لیک واستوه. د افغانســتان د حکومت هیله دا وه چې برتانیه به له دې کبله چې افغانســتان په جگړه کې بېطرفه پاتې شوی، د افغانانو نیولې ځمکې بېرته ور وسپاري، خو داسې نه وه.

په ځواب کې یې انگرېزانو ولیکل چې د دوی په اند د دوی له لوري تحمیل شوی «ډېورند لاین» نړیواله پوله ده. هماغه و چې په دې اړه خبرې او شکایتونه په نړیواله کچه کله ناکله په ټیټه کچه پورته کېدل، خو په عمل کې د افغانســتان حکومت د تل په شان د خپل ملت په ملتو اتکا نه شوی کولی او نه یې د خپل ولس د راتلونکې په اړه غوڅ اقدام کوه، همدغه سـبب و چې د جگړې تر پایه پورې بې طرفه پاتې شو.(۲: ۲۵۹مخ)

### ٦– له جگړې وروسته د بې طرفۍ د سیاست پایلې

له دویمې نړیوالې جگړې وروسته د افغانســـــتان د بې طرفۍ(ناپېیلتوب) سیاست په اړه څېړونکي او مؤرخین بېلا بېل نظریات لري. یوه ډله دغه د بې طرفۍ سیاست ښـه او پرځای اقدام بولي او بله ډله یې منفي عمل بولي. دا چې دلته بحث د همدغه سیاست د ارزونې دی، لومړی د مثبت لوري نظر او بیا د مخالف لوري نظر د موضوع د بشپړتیا لپاره را اخلو.

دا جنګ يو خطرناک جنګ و، هغه چې په مسـتقيم ډول په دې جګړه کې دخيل وو، ډېر مالي او ځاني زيانونه يې وليدل. د دې جنګ په دوران کې محمد ظاهر شاه په افغانسـتان کې واکمن و او سردار محمد هاشم خان صدراعظم و. محمد هاشم خان وکولی شول چې په ډېر لوی تدبير نه يوازې افغانســـتان د جنګ له لمبو څخه وژغوري او هېواد ته زيان ونه رسوي، بلکې د اقتصاد له اړخه يې کافي ډالر هم سپما کړل چې بيا وروسته يې په پراختيايي پروژو کې ورځينې کار واخيست.

د دغه جنګ سنګيني له شک پرته پر افغانستان هم پرېوته او يو شمېر ستونزې يې رامنځته کړې، خو مدبر صدراعظم (هاشم خان) چې په عين زمان کې يو مســـتبد شخص و، په جدي توګه يې د افغانســـتان اوضاع نورماله وساتله او د هغه وخت له شرايطوسره په مطابقت کې يې نوموړی کار د ستاينې او د قدر وړ دی. (۴: ۲۳۸مخ)

پورتنی نظر چې اکثره څېړونکي په ځانګړې ډول د هېواد نوموتـی مؤرخ ابراهيم عطايـي تائيدوي، موخه يـې ورځينـې دا ده چې جنګ او جګړه له وژنو سربېره ګڼې نورې ستونزې زېږوي. اقتصـــــاد له رکود سره مخامخ کوي، امنيت يې پر سبب خرابېږي، وېجاړي رامنځته کوي او انســانان وږي کوي، دا ټول هغه څه دي چې د وخت د حکومت په ښه سياست او د ښې پالیسۍ په پايله کې رامنځته نه شول او محمد هاشم خان خپل مسؤليت هغه مهال په ښه ډول درک کړ.

له بل لوري بيا نور څېړونکي مخالف نظر لري. وايي چې د بې طرفۍ (ناپېيلتوب) سياست په ټوله کې د افغانســـتان په خير نه، بلکې په شر و. استدلال کوي چې دغه پاليســي په هغه سخت مهال کې د برتانيې لپاره د تاريخ تر ټولو ښه، غوره او خوږه ډالۍ وه.

وايي، د افغانســـتان پاچا خو د خپل ولس او ملت د هيلو او غوښتنو پر خلاف دا ښکلې ډالۍ انګلســـتان ته ورکړه، خو آيا انګرېزانو د دغې ډالۍ په مقابل کې افغانســـــتان ته څه ورکړل؟ پرته له دې چې چلند يې د پخوا په څېر متکبرانه و او د افغانستان په حکومت يې زور واچوه چې المانيان له خپل هېواده وباسي او په جګړه کې بې طرفه پاتې شي.

د افغان حکومت هيله دا وه چې برتانيا به له دې کبله چې افغانســـــتان په جګړه کې بې طرفه پاتې شوی، د افغانانو نيولې ځمکې ور وسپاري، خو داسې نه وه. په ځواب کې انګرېزانو داسې ورته وليکل چې د دوی په اند د دوی له خوا تحميل شـوی «ډېورند لاين» نړيواله پوله ده او موږ نه شو کولی چې نړيواله پوله ستاســو حکومت ته وسپارو. هماغه و چې په دې اړه خبرې او شـکايتونه په ټيټه کچه کېدلې، خو په پايله کې افغان حکومت د تل په څېر د خپل ملت په مټو اتکا نه شـوه کولی، پرته له دې چې د خپل ولس د راتلونکې په اړه غوڅ اقدام وکړي د جګړې تر پايه بې طرفه پاتې شو. (۲: ۲۵۹مخ)

**پايله**

د څېړنې په پای کې ويلی شو چې د لومړۍ او دويمې نړيوالې جګړې پر مهال د افغانســتان د بې طرفۍ سياست هغه بحث دی چې په اړه يې څېړونکو او مؤرخينو بېلا بېل نظريات وړاندې کړي. دا چې په دې دواړو جګړو کې افغان حکومت بې طرفي غوره کړې، هغه سياست دی چې د وخت حاکمانو وروسته له ډېرو مشورو او نظرياتو اورېدلو نيولی.

د لومړۍ نړيوالې جګړې پر مهال د افغان حکومت مشـــــــري امير حبيب الله خان کوله او دويم نړيوال جنګ کې بيا د افغانســتان د حکومت واګې د محمد ظاهر شاه په لاس کې وې، دواړو مشرـانو پرېکړه وکړه چې بايد افغانســتان له جګړې وساتي او د بې طرفۍ سياست د حل لار وبولي.

دا چې نوموړی سياست د افغانســتان په زيان و او که په ګټه، په دې اړه بيا څېړونکي او تاريخ پوهان د نظرياتو اختلاف لري. هغه ډله چې بې طرفي ښه بولي خپل دلايل لري او څوک چې يې په زيان ګڼي خپل استدلال کوي.

د دواړو جګړو د ګټې بحث څېړونکو دا کړی چې افغانســـتان د جګړو پر مهال له ورانۍ، وېجاړۍ او له وژنو ساتل شوی او آن په دواړو جګړو کې افغان حکومت په مالي برخه کې د وخت پیسې د هېواد د آبادۍ لپاره سپما کړي.

دغه راز د دویمې ډلې نظر بیا متفاوت دی، هغوی ادعا لري که چېرې په دغو جګړو کې افغان حکومت بې طرفه نه وی پاتې شوی، په لومړي قدم کې افغان حکومت له اســتعمار څخه د تل لپاره خلاصــېده، د خپلواکۍ له ســتر نعمت څخه برخمن کېده او هم یې هغه سیمې بیا ځل لاســته راتللې کومې چې یې په بېلا بېلو حالاتو کې له لاســه ورکړې وې او په ټوله کې په راتلونکي کې د انګرېزانو د شرارت او د دسیسو ښکار نه ګرځېده.

**وړاندیزونه**

د پورته څېړنې په پای کې د افغانستان اسلامي امارت ته لاندې وړاندیزونه لرم:

۱ – که چېرې د لومړۍ او دویمې نړیوالې جګړې پر مهال د افغانســـتان د بې طرفۍ سیاست او پالیســـی ته وکتل شي، د اکثریت څېړونکو په نظر هغه مهال افغانســتان ګټه کړې، له رنګارنګ ستونزو ساتل شوی او په ټوله کې د دغې پالیســۍ په سبب په نړۍ کې ځلېدلی، نو اسلامي امارت ته هم په کار ده چې خپل بهرنی سیاســت د بې طرفۍ(ناپېیلیتوب) د اصل له مخې وټاکي او پر مخ ولاړ شي.

۲ – د رسمیت پېژندلو موضوع اسلامي امارت ته اړینه او مهمه موضوع ده، په نړیوالو مســـــایلو کې اوسمهال بې طرفي او چوپتیا کولی شي چې ګاونډیانو او په ټوله کې نړۍ سره یې له مخې اړیکې ښــې او ورغول شي، د اړیکو د ښــه والي په پایله کې خپله بیا د رسمیت پېژندنې بحث رامنځته کېږي.

**مأخذونه**


۱ – اډامیک، لوډویک. د شلمې پېړۍ تر نیمایي د افغانســـــتان د بهرنیو اړیکو تاریخ، لومړی چاپ، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۸۳ ل.

۲ – زرملوال، غلام محمد. افغانســـــتان تر وروستي افغانه(په سیاسي تاریخ کې لنډه څېړنه)، لومړی چاپ، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۸۳ ل.

۳ –زماني، خیرمحمد. تاریخ معاصر افغانستان(۱۷۴۷ – ۱۹۲۹ ز)، دویم چاپ، انتشارات عازم: کابل، ۱۳۹۲ ل.

۴ – عطایي، محمد ابراهیم. د افغانســـــتان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، لومړی چاپ، میوند خپرندویه ټولنه: پېښـــــور، ۱۳۸۳ ل.

۵ – غوث، عبدالصمد. د افغانستان سقوط، ژباړن: ډاکټر شېرزمان طایزی، لومړی چاپ، دانش خپرندویه ټولنه: ۱۳۷۸ ل.

٦ – ګریګوریان، وارتان. ظهور افغانستان نوین. لومړی چاپ، محمد ابراهیم شریعتی افغانستانی: تهران، ۱۳۸۸ ل.

۷ - منیب، عبدالعزیز. د افغانستان معاصر تاریخ. لومړی چاپ، محمدي خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۳۹۳ ل.

۸ – نیازی، مستعلي. د افغانستان معاصر تاریخ. لومړی چاپ، ختیځ خپرندویه ټولنه: ننګرهار، ۱۴۰۰ ل.



# د افغان کلمې تاریخي ریښه او په افغانســـتان کې یې کارول

## پاتې برخه

لیکوال:سرمحقق دوکتور محمد شریف ځدراڼ

**د افغانستان نور قومونه کله د افغان په نامه ونومول شول؟**

په (۱۴) میلادي پېړۍ کې د پښتنو ترڅنګ نور قومونه هم د افغان په نامه ونومول شول. لومړی اثر چې د پښــتنو ترڅنګ یې کردان افغانان وګڼل، هغه د ســــیفي هروي اثر ((تاریخ نامه هرات)) دی. په ((تاریخ نامه هرات)) کې راغلي چې د هرات محلي واکمن ملک شمس الدین په ٦٥٠ هجري کې د منکوخان د مشاور- جاهو او جمال الدین حســن په ګډون یو هیئت د منکوخان او امیر ارغون له فرمانونو سره افغانســـتان ته واستاوه او د افغان له سیمه ییزو واکمنو څخه یې وغوښتل چې د ده اطاعت وکړي، خو د مســتونګ واکمن ملک شهشــاه افغان د هغوی په ځواب کې وویل: موږ تر اوسه چنګیزخانیانو ته مال او مالیه نه ده ورکړې او په شرعي لحاظ لازمه نه ده چې موږ د هغوی خدمت او اطاعت وکړو، خو مســـلمان ملک شمس الدین کرت ته به د احترام له مخې یو څه مال ورکړو. زموږ وطن ته دې لښکرې نه را استوي د دوی په زیان به تمام شي. افغان اولس سخت بې باک، تالاکونکی، خوني، جګړه مار او وطن دوســت دی، په ځانګړې توګه دا کردان چې زما په خدمت کې دي، هر یو یې له رستم او سام نریمان سره ډغرې وهي او را پرځوی یې.....(۲۹: ۱۹۹- ۲۰۰) مخونه

محمود کتبي د هرات د تیموریانو د وخت لیکوال په خپل اثر ((تاریخ آل مظفر ۸۲۳هـ.)) کــې لیکــي چــې د یزد او کرمان د محلي واکمن امیر مبارزالدین مظفر او د جرما او اوغان طایفو ترمنځ جګړه وشـــوه. دغه جرما او اوغان قبایل د مغولو د قومونو له طایفو څخه وو چې د ارغون خان د سـلطنت پرمهال (٦٨٣- ٦٩٠هـ.) د کرمان د قراختایي پادشـاه سـلطان جلال الدین

سیورغتمش په غوښتنه د دې ولایت د ساتنې لپاره راغلي وو او دلته مېشت شوي وو. (۳۱: ۸۷)مخ
شیراز ته د آل مظفر واکمنانو- سلطان احمد زین العابدین په لښکر کښې (۷۹۳هـ.) کې ((هزاره اوغان)) یعنې افغان هزاره شامل وو. په یو بل ځای کې هم زیاتوي چې د امیر مبارزالدین محمد زوی شاه شجاع چې د آل مظفر کورنۍ واکمن و، سلطان احمد ته د یوه وصیت په ترڅ کې داسې وویل: د هزاره اوغانی او جرمایي په ژمنه او سوګند باور مه کوه، د سیاست پر بنسټ له دوی سره رفتاروکړه. (۳۱: ۱۹۸، ۲۳۵) مخونه
همدغه لیکوال د خپل اثر په دویم ټوک کې لیکي چې امیر مبارزالدین محمد په کرمان کې د خپلې واکمنۍ په پیل کې د مغولو د طایفو یعنې د جرمایانو او اوغانیانو له مخالفت سره مخامخ شو او د ده د سلطنت په ټوله دوره کې دې مخالفت دوام وموند. (۳۲: ص. ۲۰۷)
غیاث الدین خواند میر د هرات د تیموریانو د وخت نومیالی مؤرخ په خپل مشهور اثر ((حبیب السیر فی الاخبار اولادالبشر د ۱۵۲۰-۱۵۲۳م. کلونو تألیف) کې د کرمان په جګړو کې د دوه زره ((اوغاني مغولو)) د برخې اخیستنې بیان کوي او هم ځلې د هزاره اوغاني او جرمایي د طایفو یادونه کوي. (۳۳: ۲۸۳-۲۸۶، ۳۲۰ مخونه
دغه راز د هرات د تیموریانو د وخت یو بل مشهور مؤرخ میرخواند په خپل اثر ((تاریخ روضة الصفا)) کې افغانان او جرمایان له مغولوسره ګډوي او لیکي چې امیر محمد کرمان ته راغی او څو ورځې وروسته خبر راغی چې اوغان او جرما مغولانو د ولایت په شاوخوا کې بغاوت او چور پیل کړی. دغه راز د همدغه اثر په فهرست کې هم مغول او افغان سره ګډ شوي دي. دغه راز د هزاره اوغان ذکر هم کوي.(۳۴: ۴۷۳-۴۷۴)
عبدالرزاق سمرقندی هم څو ځایه افغانان او جرمایان له ترکانوسره ګډ کړي دي. لیکي چې امیر مبارزالدین مظفر په دې فکر و چې ښایي اوغان او جرمایي اتراک به د هغه تر مظفرانه بیرغ لاندې را ټول شي، د بم په لاره ولاړ او د جیرف په دښته کې یې واړول. دغه راز د آل مظفر د لړۍ د یوه بل واکمن – شاه شجاع په اړه لیکي، چې نوموړي هڅه وکړه د افغان او جرما پوځ تباه کړي. ((دوی ترک نژادو)). امیر سیورغتمش دا قوي احتمال ګاڼه چې سرګردانه قبایل او ترک افغانان به ورسره یوځای شي.
(۳۵: ۲۱) مخ په دې ډول ځینو مؤرخینو د یوې ځانګړې دورې د پېښو د بیان په ترڅ کې افغانان په ښکاره له مغولو او ترکانو سره ګډ کړي دي.
پښتون نومیالی مؤرخ ظفر کاکا خېل لیکي چې په دیارلسمه هجري پېړۍ کې د افغانستان د ټولو قبایلو (پښتنو او غیر پښتنو) لپاره د افغان نوم ویل پیل شول. پښتانه تراوسه پورې ځانته پښتانه وایي او نه افغان. پښتانه د افغان نوم یو ملي نوم ګڼي نه قومي، خو پښتون ډېر زوړ او پخوانی نوم دی، تاریخ یې تر ویدي دورې پورې رسېږي. (۳۶: ۸۷) مخ په داسې حال کې چې د اتمې هجري پېړۍ (۱۴ میلادي) راهیسې د افغانستان مغول، ترکان، هزاره او کرد قومونه د افغان او اوغان په نامه نومول شوي دي چې موږ مخکې بحث او څېړنه وربادې وکړه، خو یو شمېر نا خبره افغانان د ((افغان)) کلمه یوازې په پښتنو پورې تړي، چې بې له شکه دا خبره پر تاریخي حقیقت ولاړه نه ده .
امریکایي لیکوال ارنولد فلېچر په دې باوري دی چې په ډېر احتمال سره د افغان نوم په لومړي سر کې د یو شمېر پښتني قبیلو لپاره کارول کېده، خو وروسته ټولو افغان قومونو ته غوره شو. په خپله پښتانه د افغان له نامه سره د پارسي ژبې د لیکنو له لارې آشنا شول. دوی خپل قوم ته پښتون وایي چې جمع یې پښتانه کیږي. (۹: ص. ۱۵)

میر محمد صدیق فرهنګ لیکي چې په خپله پښـــتانه ترجیحاً ځانونو ته پښـــتون  وایي، په داسې حال  کې چې پارسي ژبو هغوی د افغان او هندیانو د پټان په نامه نومولي دي. (۳۷: ۳٦) مخ
دغه راز غبار تائیدوي چې پښتانه په اصل کې آریایان دي او ژبه یې پښتو ده، خو نورو د تاریخ په اوږدو کې د افغان او پټان په نامه نومولي دي. (۳۸:۲۱٦-۲٦۲) مخونه
غبار په یوه بل مهم اثر کې لیکي چې پښـتانه په سلګونو قبیلوي نومونه لري، خو عمومي نوم یې پښـتون او د جمع حالت یې پښتانه دي. دا چې ولې پښـــتانه ځانته پښـــتون یا پښـــتانه وایي، دلیل یې دا دی چې دغه نوم د ((افغان)) په پرتله لرغونی قدامت او مخینه لري. خو د ((افغان)) نوم د افغانسـتان  د لیکوالانو له خوا په لیکنو کې له لسـمې میلادي پېړۍ راهیسـې باب شوی او د ((حدودالعالم من المشـــرق الی المغرب)) اثر نامعلوم لیکوال، ابوریحان، فردوسي، بیهقي، ګردیزي، منهاج السراج او نورو د پښتنو لپاره کارولی دی او یو قدیمي نوم دی چې د هندي ریګویدا ((اپاکان)) له نامه سره سرخوري. پښـتنو د ((افغان) نوم په لومړي سر کې د ځان لپاره د یوه تحمیلي نامه په توګه تصور کاوه، چې د نورو له خوا پر دوی اېښـودل شوی دی. حتی پښـــتنو لیکوالانو ډېر وروسته په خپلو آثارو کې استعمال کړ چې د هغوی له جملې څخه یو هم خان جهان لودي (مړینه ۱٦۳۰م. کال) و. په اتلسمه پېړۍ  کې د ((افغان)) نوم دومره پراختیا وموندله چې احمد شاه ابدالي په حجاز  کې د افغاني حاجیانو د ودانۍ په ډېر لیک کې د افغانسـتان د ټولو قومونو لپاره وکاراوه. په نولسمه پېړۍ کې د ((افغان)) د نامه د کارولو ساحه دومره پراخه شوه چې دغه نوم  پر پښتنو سربېره پردری ، ترکي  او د افغانسـتان پر ټولو خلکو کېښـودل شو او په دې نامه وپېژندل شول. (۳۹: ۳۲۱ ) مخونه
د ((افغان)) نوم د نورو له خوا پر پښتنو اېښودل شوی، نو ځکه د پښتنو تر منځ د افغان د نامه مروجولو ډېر وخت واخیسـت او حتی پښـــتنو په لومړي سر کې فکر کاوه چې دا نوم یو خارجي نوم دی. همدا دلیل و چې پښـــتنو لیکوالانو ډېر وروسته په خپلو لیکنو کې قبول کړ. فرانسـوي لیکوال، فریه چې د نولسـمې پېړۍ په نیمایي کې افغانسـتان ته راغلی او ګرځېدلی لیکي چې په خپله پښـتانه، نه غواړي د افغان په نامه یاد شي. پښـــتنو د نولسـمې پېړۍ په اوږدو کې ځانونه خپلو قومونو او قبیلوته منسوبول، په کومو پورې چې تړلي وو، خو د نورو قومونو په وړاندې یې ځانونه  پښتون او پښتانه معرفي کول. د افغان نوم له ډېرې مودې راهیســـې په دومره اندازه عام شو چې نه یوازې پښـــتانه ځانته افغان وایي، بلکې نور قومونه هم پر ته له ژبني، دیني او مذهبي ملاحظې ځانونه افغان ګڼي .
یا په بل عبارت هر وګړی چې د افغانســـتان په سیاسي حدودو کې ژوند کوي او د دې هېواد تبعه وي، افغان ګڼل کیږي. د پښـتون له ځانګړي مفهوم څخه د افغان کلمې دغه  تحول یوه داسې مفهوم ته چې د هېواد ټول وګړي افغان وګڼل شول، په واقعیت کې د افغان ملت د مفهوم جامعوالی او کلي والی منعکسـوي او  د قبیلوي او نورو اختصـاصي مفاهیمو بې اهمیتي څرګندوي. (۴۰: ۲۱-۲۲)مخ
د ((افغان)) تاریخي نوم  د افغان او انګلیس په دریووجګړو کې چې بې له شـــکه افغانانو ګټلې، د یوه واحد، جنګیالي او مېړني ملت په توګه را څرګند شو. مېرمن لیدی سـیل چې د افغان او انګلیس د لومړۍ جګړې برخه واله وه، افغان  مېړانه او نژاد داسـې سـتایي: ((...افغانان یو ښـه او قوي نژاد دی، افغان بې له ویرې د توپ په مقابل کې ودرېږي، خپله چړه کاروي، کله چې یو سنګر ونیسي، بیا نو وروسته ورڅخه د هغه نیول مشکل دي.)) (۴۱:۲٦۲) مخ دغه راز جرمنی فیلسـوف فریدر ک انګلس د ۱۸۵۷م. کال په اګسـت کې د ((افغانســـتان)) په نامه په لیکلې مقاله کې د افغانانو د مېړانې او ځانګړنې په باب

داسې ليکي: ((افغانان مېړني، ځواکمن او آزادي خوښوونکي خلک دي)). (۳۹: ۴۹۴) مخ
تاريخي واقعيت دا دی چې په دغو درېيوو نا برابرو جګړوکې د افغانســــتان ټول قومونه تر يو واحد افغان بيرغ لاندې متحد شول او د برتانيې لويه امپراتوري يې په سيمه کې له ماتې سره مخ کړه او د سيمې آزادي بښـــوونکي غورځنګونه يې راولاړ کړل. دغو برياوو نه يوازې زموږ ملت نړۍ ته د افغان په نامه وروپېژاند، بلکې د افغان تر نامه لاندې زموږ ملت واحد شـو او په تاريخ کې د ګډ ملي هويت څښتن وګرځېد.
دکتور ترې ليکي د نولسمې پېړۍ له اوايلو نه رادې خوا ته زياترو ختيځ پېژندونکو د ((افغان)) کلمه په خاصه او قومي معنا د ((پښـتون)) مترادفه بللې ده؛ خو په عامه او سياسي معنا يې په مکرر او متواتر ډول د افغانسـتان د اتباعو په مفهوم استعمال کړې ده او په دې ډول يې د افغانستان ټول اوسېدونکي لکه څنګه چې ښايي، افغانان بللي دي. (۳۵: ۵۸) مخ
د افغان کلمه او نوم د غازي امان الله خان د واکمنۍ پرمهال لاپســـې ملي او د ټولو قومونو يو واحد او ملي هويت وګرځېد.
امان الله خان لومړی واکمن شخص و چې د افغان تعريف يې په ۱۳۰۴ ش. کال کندهار ته د سفر پر مهال داسې وکړ :
((هرڅوک چې په افغانســـتان کې اوسېږي او له هر مذهب او فرقې څخه چې وي، هر کار، هر صنعت او خدمت چې کوي، ټولو ته افغان ويل کيږي)) (۴۱: ۱۴۰) مخ
دغه راز د اماني دورې د لومړي اساسي قانون په اتمه ماده کې د افغان تعريف داسې شوی دی: ((د افغانستان د هېواد ټول وګړي پرته له ديني او مذهبي توپيره د افغانســتان اتباع ګڼل کيږي او افغانيه تابعيت د ځانګړې نظامنامې ترلاسه کوي.)) د همدغه قانون د لسې مادې له مخې ټول افغان وګړي د حقونو له مخې برابر وګڼل شول. (۴۲:۲) مخ همدارنګه د افغانستان د اساسي قانون په څلورمه ماده کې د افغان کلمه داسې تعريف شوې ده: ((د افغان کلمه د افغانســـتان د ملت پر هر فرد اطلاق کيږي)). (۴۳: ۴) مخ

**نتيجه:**

۱ -د پورتنۍ څېړنې په پايله کې ښکاره شوه چې د افغان کلمې رېښـه په هندي او سانسـکريت منابعو کې له مېلاد څخه څو پېړۍ پخوا راپيل شـوې چې د مهابارانه په تاريخي او مذهبي کتاب او د برې هت سـمهيتا په اثر کې د ((اسـواکا))، ((اسوه-غانا))، ((اوګانا)) يا ((اوغانا)) په بڼه ثبت شوې ده.
۲ -په درېيمه مېلادي پېړۍ کې د سـاسـانيانو د واکمنانو لومړي شـاپور او درېيم شـاپور د نقش رسـتم په ډبر ليکونو کې د ((ابګان)) او ((اپاکان)) په بڼه ثبت شـــوې ده. وروســـته په چيني منابعو کې د ((اوپوکين)) او په عربي او پارسي منابعو کې د ابغان، الافغانيه، افغان او اوغان په بڼه راغلې ده. د افغان دغه لرغوني بڼه او نوم تر څوارلســـمې ميلادي پېړۍ پورې يوازې د پښتون لپاره استعمال شوی دی. خو د څوارلسمې پېړۍ له پيل څخه د افغان يا اوغان کلمه او نوم د افغانستان د نورو قومونو لپاره هم کارول شوی دی .
۳ - له اتو پېړيو راهيسې د افغان نوم د افغانستان د ټولو قومونو يو مشترک ملي نوم او هويت دی. هېڅکله هم په يو قوم پورې اړه نه لري، په افغانستان کې هر قوم قومي هويت لري، خو ملي هويت يې د افغانستان او نړۍ په کچه ((افغان)) دی.
وړانديزونه:
۱ -بې له شکه افغان او افغانسـتان، زموږ د ټولو قومونو مشتـرک او تاريخي ميراث، ملي هويت او عزت دی، بايد هېڅ‌چاته اجازه ورنه کړو چې زموږ دغه څو زره کلن ميراث او تاريخي ملي هويت تخريب او بې ارزښته وښيي، ځکه افغان او افغانستان زموږ د

تاریخ یوه ځلانده او تکامل یافته پاڼه ده؛ زموږ د یووالی او ځواک بې ساري او تاریخي منبع اوسرچینه ده.

۲ -هیڅ قوم باید ځانته دغه حق ورنه کړي چې افغان او افغانستان یوازې د ځان لپاره ځانګړی کړي، دا د ټولو قومونو تاریخي، ملي او مشترک نوم او وطن دی.

یادونه : د ماخذونوشمېر ۴۴ ته رسېده چې ۲۰ یې په ۱۲۱ ګڼه اونور یې دلته په پرلپسې توګه راغلي دي.

**مأخذونه او منابع :**


۲۱ -گردیزی، ابوسعید عبدالحی. تاریخ گردیزی یا زین الاخبار، تهران؛ ۱۳۲۷ هـ ش کال.

۲۲ -خواجه ابوالفضل محمد بیهقی، تاریخ بیهقی، مشهد: ۱۳۵۰ هـ ش کال .

۲۳ -کهزاد، احمد علی. افغانستان در شاهنامه، کابل، دولتی مطبعه، ۱۳۵۵ هـ ش کال.

۲۴ -دیوان مسعود سعد سلمان (۴۳۸-۵۱۵هـ.ق.)، به تصحیح مرحوم رشید یاسمی، تهران، چاپخانه پیروز، سال نامعلوم.

۲۵ -ازرقی هروی، دیوان، د سعید نفیسی سمونه، مقابله او سریزه، تهران: ۱۳۳۶ هـ ش کال.

۲۶ -ماسون، وادیم میخایلویچ ورومادین، وادیم الکساندرویچ، تاریخ افغانستان، ترجمه دکتور اورمړ، نسخه قلمی.

۲۷ -محمد هوتک بن داود، پټه خزانه، دریم چاپ، کابل: دولتی مطبعه، ۱۳۵۴ هـ ش کال.

۲۸ -سلیمان ماکو، تذکرة الاولیا، کابل: دولتی مطبعه، ۱۳۶۱ هـ ش کال.

۲۹ -سیف بن محمد هروی، تاریخ نامه هرات، کلکته، گلشن افسټ چاپخونه، ۱۹۴۳ هـ ش کال.

۳۰ -عبدالحی حبیبي، جغرافیای تاریخی افغانستان، دوهم چاپ، پشاور: نشرات مرکز میوند،۱۳۷۸ هـ ش کال.

۳۱ -محمود کتبی، تاریخ آل مظفر، جلد اول، تهران: دانشگاه تهران، ۱۳۴۶ هـ ش کال.

۳۲ -هماغه اثر، دوهم ټوک، تهران: دانشگاه تهران، ۱۳۴۷ هـ ش کال.

۳۳ -خواندمیر، غیاث الدین. حبیب السیرفی الاخبار اولادالبشر، جلد سوم، نشرات کتابخانة خیام، تهران: ۱۳۳۳ هـ ش کال.

۳۴ -میرخواند، محمد بن خوند شاه. تاریخ روضةالصفا، څلورم ټوک، تهران: انتشارات کتابفروشی های خیام، ۱۳۳۹ هـ ش کال.

۳۵ -ترې، حبیب الله. پښتانه، پېښور: دانش کتابتون، ۱۳۷۷ هـ ش کال.

۳۶ -ظفر کاکاخېل، سید بهادرشاه. پښتانه د تاریخ په رڼا کې، پېښور، دانش کتابتون، ۱۳۷۷ هـ ش کال.

۳۷ -غبار، میرغلام محمد. جغرافیای تاریخی افغانستان، چاپ چهارم، کابل: بنگاه انتشارات میوند، ۱۳۸۳ هـ ش کال.

۳۸ -غبار، میرغلام محمد. افغانستان در مسیر تاریخ، جلد اول و دوم، پشاور: دارالسلام کتابخانه، ۱۳۸۸ هـ ش کال.

۳۹ -کاکړ، محمد حسن. افغان افغانستان، کابل، پوهنتون کابل، دیپارتمنت تاریخ،۱۳۵۷ هـ ش کال.

۴۰ -نطقهای اعلیحضرت امان الله خان غازی، قسمت دوم، تهیه و تدوین نصرالله سوبمن و فرهاد ظریفی. کابل: اکادمی علوم، ۱۳۷۰ هـ ش کال.

۴۱ -اصول اساسی دولت علیة افغانستان، کابل: مطبعه عمومی، ۱۳۱۱ هـ ش کال.

۴۲ -د افغانستان قانون، کابل: د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون، ۱۳۸۹ هـ ش کال.

۴۳ -ارشاد، اورنګزیب. افغانستان پېژندنه، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ هـ ش کال.

۴۴ -مندوخېل، عبدالرحیم خان. (اولس یار)، افغان او افغانستان، لومړی چاپ، کوټه: پښتونخوا ادبي ټانګه، ۲۰۱۵م کال .



# په تېرشل کلن جهاد کې د ترنم او ترانو نقش

لیکوال: قاري عبدالستار سعید

ترنم او ترانه خواني د امریکایي اشــــغال پر وړاندې زموږ د برمیال جهاد هغه برخه ده چې له مؤثریت او ټاکونکي کردار څخه یې هیڅوک سترګې نه شي پټولای. حتی اشغالګر او په ماته محکوم دښـمنان هم په پای کې دې پایلې ته ورسېدل چې د دوی د پراخ فکري جنګ، تبلیغاتي وســایلو او رواني کارزار په وړاندې د مجاهدینو دودیز تبلیغاتي مقاومت( چې عمده برخه یې حماسي ترانې وې) د ساړه جنګ میدان ګټلی او د افغان ولس دل او دماغ یې تســخیر کړی دی. د دې ادعا غوره دلیل هغه څېړنې او کتابونه دي چې د جهاد په وروســتیو کلونو کې د غربي څېړونکو له خوا زموږ د جهادي اشــعارو او ترانو په اړه لیکل شوي او خپاره شوي دي. چې هدف یې د مجاهدینو د بریا د یوه مهم عامل په حیث د حماسي اشعارو څېړنه ده.
د وخت محدودیت ته په پام سره جهادي ترانو او ترنم د مؤثریت ځینو اړخونو ته په لنډو ټکو کې اشاره کوم.

د بیدارۍ غږ:

کله چې یو ولس د رعب او وهم خپسه لاندې کړي. کله چې عمومي روحیه شکسـت وخوري، د ټولنې ارادې ځواک فلج شي او د حرکت او پاڅون سیک وبایلي. دغه وخت د صور د شپیلۍ په شان یوه ټکان ورکوونکي غږ ته اړتیا وي چې مړه احساسات را ژوندي او خوبولې پرګنې بیدارې کړي.

په افغانســــــتان د نړیوال کفري ایتلاف له یرغل، د اسلامي امارت له شاتګ او پر هېواد د امریکا له واکمنېدو سره همداسې حالت رامنځته شو. غربیان نه یوازې په نالیدلو او پرمختللو وسلو سمبال و، بلکې د خپل پراخ رواني ـ تبلیغاتي جنګ په مټ یې زموږ په عامه روان او ذهنیت دا منلې وه چې له امریکا سره نه کېږي، ولس د رعب او وهم تر طلســـم لاندې و، هر چا روان یرغل ته په ســـــاړه نظر کتل او یوازې ننداره یې کوله، په دې امتحاني حالاتو کې که له یوې خوا الله تعالی ځینې اولو العزمه مجاهدین پیدا کړل، چې په تش لاس او لوږ تږې د امریکا د استدراجي قوت مقابلې ته ورمخکې شول. بل مهم عنصــر چې ولس ته یې ټکان ورکړ، زموږ د ترانه ویونکو هغه ویښـونکی غږ و، چې د شعر او ترانو په روح پاروونکو زمزمو یې د ولس میړانه را ونګوله.

په دې حساسه مرحله کې جهادي ترانو د (قم باذن الله) کردار اداء کړ، ولس يې ويښ کړ، پوه يې کړ او د دې توان يې ورکړ چې د ننداره چي په حيث نه، بلکې د يوه فعال فکتور په حيث د حوادثو ټکر ته را وړاندې شي.

**روحيه او مورال:**

وړاندې وويل شول چې حماسي ترانو زموږ ولس هغه وخت د ننګ او جنګ ډګر ته را وباله چې د جهادي داعيې لپاره نور ټول غږونه تقريباً خاموش شوي وو، خو جنګ نه يوازې وسله، بلکې روحيه هم غواړي. د تاريخ يو لوی جنګيالی او د اروپا نيواکګر ناپليون د خپلو اوږدو جنګي تجربو په پايله کې دې حقيقت ته رسيدلی، چې په جګړه کې وروستی پرېکړه ټوپک نه، بلکې مورال او روحيه کوي.

زما په نظر د جهادي ترانو تر ټولو بارز او مؤثر نقش د مجاهدينو د مورال او روحيې د ساتنې او پالنې په برخه کې و. دا چې د دښمن له هر ډول پوځي، مادي او تخنيکي برترۍ او د جهاد د لارې له هر ډول تکليفونو، غربت، هجرت، لوږې، تندې، مشقتونو، زندانونو، زخمونو، شهادتونو او مظلوميتونو سره د مجاهدينو روحيه لوړه او نه ماتيدونکې وه، له ډېرو عواملو يې يو مهم عامل د جهادي ترانو هغه پيغامونه او تلقينات وو چې مجاهد يې په رواني لحاظ دلاسا او فعال ساته.

موږ لېدل چې مجاهد په سفر او حضر کې، په موټر سايکل او موټر کې حتی په اعداد او سنګر کې ترانه اورېده. ترانه ويونکی د زخمي، فلج شوي او حتی بندي طالب يوازينی راز دار و. ترانې وې چې د شهيد د بورې مور کی او کونډې ميرمنې زړه يې دلاسا کاوه.

ترانو د جهادي داعيې د حقانيت او برترۍ له ځلولو نه علاوه، مجاهد ته د دې زمانې د اتل کرکټر ورکړی و. د جهادي ژوند د بېلابېلو اړخونو، ديني او دنيوي فضائلو او حتی د مجاهد د ظاهري جذابيت او ښکلا په بيان او تعريف سره يې ځوان نسل په دې قانع کړی و چې د ميړانې او قهرمانۍ يوازينۍ لار د الله تعالی په لاره کې مقدس جهاد دی. چې شهادت، زخم، اسارت او هر څه يې کاميابي او افتخار دی.

**د فکري او ارزښتي مفاهيمو تلقين او تبليغ:**

دا به ومنو چې د جهاد په لومړيو کلونو کې موږ د خپلې جهادي داعيې د تبليغ او اشاعت لپاره کومه عامه رسنۍ په واک کې نه درلوده. کومه داسې راډيو او تلويزيون نه و چې د ولس فرد فرد، ښاري او کليوال، ښځې او نارينه، ماشوم، ځوان، بوډا، باسواد او بې سواد ته زموږ جهادي پيغام ورسوي. مجلې، ويډيويي نشرات او ويب سايټ هغه رسنۍ وې چې د ټولنې خاصو او محدودو خلکو ته يې پيغام رسولی شوای. اما يوازينۍ رسنۍ چې د جهاد له پيله تر پايه يې کور کور او فرد فرد ته زموږ پيغام رساوه هغه ترانې وې.

ترانو زموږ ارزښتي مفاهيم لکه اسلامي نظام، جهاد، شهادت او استشهاد، خپلواکي، د هېواد آزادي او اسلامي اخوت او نور په پراخه کچه تبليغ کړل. ځوان نسل چې د يرغلګرو له يو اړخيز فکري او تبليغاتي هجوم سره مخامخ و، د اذهانو د تنوير يوه اغيزناک عامل يې ترنم او ترانې وې. چې دوی ترې د خپل ديني او جهادي فرهنګ الفبازده کوله او په خپل اصالت ثبات او استقامت ته يې رابلل.

**د فکري او فرهنګي يرغل مقابله**

دا خبره بيا بيا شوې چې په افغانستان د امريکا يرغل څو اړخيز و، چې د پوځي، استخباراتي، سياسي، اقتصادي او رواني

جبهاتو تر څنګ يې يوه مهمه جبهه فکري او فرهنګي محاذ و. څرنګه چې د ټوپک مقابله په ټوپک او د فکر په فکر کيږي، د غرب د فرهنګي او فکري يرغل د مقابلې لوی بار هم د ليکوالو، شاعرانو او ترانه ويونکوخوانانو پر اوږو و.
په حماسي ترانو کې په خپل ديني او افغاني اصالت ټينګار، خپلو اصولو او مبادئو ته ژمنتيا، د ديانت، غيرت، حيا، حريت او نورو درنو اخلاقو مدحه، د غربي لغړ فرهنګ او لوېدلو اخلاقو سپکه، دغه راز د ديموکراسۍ، ليبراليزم، سيکولريزم او نورو غربي فکري ارزښتونو په عوض په اسلامي نظام او شريعت ټينګار هغه څه وچې د دښمن د فکري او فرهنګي يرغل پر وړاندې د مقاومت غوره بېلګې يې بللی شو.

**د جهادي ادب اساس جوړونه**

ادب خورا پراخ مفهوم دی، چې بېلابېلو ژانرونو، کتبي، شفاهي، منظومو او منثورو اثارو ته شامليږي. اما که موږ د تېرشل کلن جهاد اړوند د جهادي ادب خبره کوو، د دې ادب د اساس ډېره هم همدغه ترانې او حماسي اشعار دي. که موږ وګورو په تېرشل کلن جهاد کې په نورو ادبي ډګرونو کې خورا کم کار شوی دی. که د نثر برخې ته راشو د ناول، لنډې کيسې، طنز، ادبي ټوټې، سفرنامې، خاطراتو، ژوند ليکونو او نورو برخو کې څومره چې په کار و، فعاليت نه دی شوی. لا هم زموږ د شل کلنې حماسې کيسه نا ويلې او نا ليکلې پاته ده. اما د شعر په ځانګړي ډول د حماسي شعر او ترانو په برخه کې په دومره اندازه کار شوی چې که په منظم ډول راټولې او تدوين شي ګڼ شمېرمجلد کتابونه ترې جوړېدای شي.
بناً ويلای شو چې زموږ د جهاد ادب مانۍ هم د ترانو او ترنم په بنسټ ولاړه ده. که په راتلونکې زمانه کې کوم ليکوال، ادبي څېړونکی يا مؤرخ غواړي زموږ د جهاد او مبارزې په بېلابېلو اړخونو څېړنه وکړي شايد د معلوماتو يوه مهمه منبع يې همدا ترانې وي چې زموږ د جهاد بېلابېل حالات، کيفيات اورنګونه يې په پوره امانت دارۍ پکې خوندي کړي دي.

**د هنري ذوقونو تنده ماتول**

بايد ووايم چې زموږ ترانو او ترانه ويونکو يو بل ستر خدمت هم کړی دی. هغه دا چې په انسان کې الله تعالی په فطري ډول د ښه غږ او ترنم د اورېدلو تنده ايښې ده. په انسان کې يوه داسې غريزه هم شته چې د طبيعت بېلابېل خواږه غږونه، د مرغانو اوازونه او په مترنم انداز اشعار خوند ورکوي، روح يې ټکوروي او آرام وربښي. پخوا به ډېرو خلکو دغه تنده په ناروا موسيقۍ ماتوله، چې نه يوازې د ګناه باعث و، بلکې د اورېدونکي ذهن ته به يې منفي او شيطاني خيالات، افکار او مفاهيم هم ورانتقالول.
اما د ترانه خوانۍ له ترويج او پراختياسره اوس اکثره خلک خپل ذوق د ترانو اورېدلو له مشروع لارې خړوبوي. چې هم يې تنده پرې ماتيږي او هم ترې بېلابېل مثبت مفاهيم او محتويات ترلاسه کولای شي.
ترانه ويونکو په دې برخه کې يو پراخ انقلاب ته لاره پرانستې، په داسې ډول چې اوس بې سازه ترنم د سندرو او موسيقۍ په نسبت ډېر مينه وال موندلي او له خاصو قشرونو علاوه يې په ټولنه کې عمومي قبوليت هم ترلاسه کړی دی.
دا واقعاً مهم بدلون او د ټولنې د اصلاح په برخه کې لويه لاسته راوړنه ده.
په پای کې د شل کلن جهاد ټولو قلمي او فرهنګي مجاهدينو په ځانګړي ډول ترانه ليکونکو او ترانه ويونکو وروڼو ته له الله تعالی څخه د دوی د هڅو او مبارزې د قبوليت هيله کوم. الله تعالی دې د دوی ټولې جهادي ستړياوې او مبارزې قبولې او د آخرت توښه وګرځوي. آمين



# ایا د سویلي پښتونخوا په لنډو کیسو کې د نویو توکو اړتیا شته!؟

**پاتې برخه**

لیکوال: څېړنوال سید نظیم سیدي

په اوسني یا معاصر پېر کې بله نوې موضوع یا سوژه د مینې موضوع ده چې په افراطي ډول پالل کېږي او پایله یې د ځینو ځوانانو د ژوند د بدمرغۍ لامل کېږي. په پخوانیو کیسو کې د مینې کیسې وې، خو ډېرې کمې او د ګوتو په شمار او هغه هم کلیوالي کیسې وې چې یا به یې ورته له کوم کنډوه سر را ښکاره کاوه او یا به هم کومې زړې او مکارې ښځې د دوی ریباري کوله، خو تېښته را تېښته او یا کور پرېښودل په کې نه ول او که کومه یوه پېښه نیمه به داسې وشوه، نو هم به د هلک کورنۍ او هم به د نجلۍ کورنۍ د دواړو په مرګ پسې متې را نغښتې وې، خو په اوسنیو کیسو کې بیا داسې خبره نه شته او نجلۍ ډېر ژر غولېږي چې له امله یې خپل ژوند تباه کوي او یوه نیمه خو یې بیا له شرمه ځان سیند ته خطا کړي، یا یې له کوم ګړنګه غوځار کړي او یا هم ځان د موټر تر ټایر لاندې واچوي چې په همدې اړه ډاکټر نصیب الله سیماب یوه ډېره جالبه کیسه د «بنده دروازه» کیسو په ټولګه کې د «بدبختې» په نامه لیکلې ده، چې ځینو برخو ته به یې تم شو: "... څو سواریان هم په منډه له بس څخه شېوه سو، زه هم لاندې را شېوه سوم د بس مخ له چې راغلم، ډرائیور کنډیکټر یوه پېغله انجلۍ په ګډه سره را پورته کړه، انجلۍ چې نوره پچاو سوې وه پښه یې لېږ خوږ وه، انجلۍ چې یې را پورته کړه ډرائیور په خښم ورته

وویل: تا ته بل څه په نظر نه درغلو چې زما د بس و مخ ته را وغورځېدې، که داسې له ژوند تنګه یې هلته تر یو ځای ځان ایله که یا زار وخوره، ولې د ځان سره د نورو ژوند هم په عذاب کې اچوې، ته خو به له ژونده تنګه یې، د نورو ژوند ولې ور تنګوې.!! انجلۍ چې پر مخ یې وښکو لارې جوړې کړې وې غټې سترګې یې لکه سور آنار داسې سرې وې، هېڅ یې هم نه ویل.... ده [تانیدار] کاغذ را واخستئ سپاهیانو ته یې وویل راځئ، زه هم ورسره روان سوم هغه ځای ته چې ورغلو، ده له هغه دوکانداره څخه پوښتنه وکړه چې پرون، نن یا بله ورځ دلته تا یو ځوان و انجلۍ ولیدل؟

هغه ورته وویل، هو هغه انجلۍ تر ماښام دلته دې دیوال ته ناسته وه، بیا ما کور ته بوتله، نن سهار وختي چې ما پوښتنه وکړه دا نه وه. زما دوست ورته وویل هغه ځوان څه سو، ده ورته وویل هغه خو خبر نه یم، چې د انجلۍ راغله غوټه ورسره وه، ده له غوټې څخه یو بله کوشنۍ غوټه واخسته بیا یې دې ته اشاره وکړه چې ته کښېنه زه راځم بیا تر ماښام نه راغلئ، ما د انجلۍ څخه پوښتنه وکړه چې دا څوک وو، ولې نه راغلئ چې ته یې دلته یکړه پرېښوولې، دې نور هېڅ نه وویل تش یې دومره راته وویل دا زما د مینې بدبختي وه." (۸)

کیسه د یوې غولول شوې پښتنې پېغلې ده چې په افراطي شکل مینه یې کړې او آن دې ته چمتو شوې چې له هلک سره له کوره وتښتي، خپل لومړني وسایل یې هم را اخیستي او په دې نیامت یې له کوره تېښته کړې چې د وربځو اوښانو ته به ورسېږي، نوی ژوند به پیل کړي او نوي خوبونه او خیالونو به یې رښتیا شي، خو چمباز ځوان نه یوازې د دې له احساساتو سره لوبې کړي، بلکې د ژوند ځینو ارزښتونه یې هم ترې تروړلي دي، چې له بده مرغه په ټولنه کې د نجلۍ ژوند کول یې ستونزمن کړي، خو جالبه دا ده چې نجلۍ له دې دومره ستونزې سره سره بیا هم د ځوان عزت ساتلی، د هغه نوم یې پر خوله نه دی راوستی او نه یې هم کور ته ورغلې، نه یې د هغه کلیوال پرې خبر کړي او نه یې د هغه عزت النفس داغدار کړی، نه یې د امن کور ته پنا وړې او نه یې د کسات فکرونه په سر کې پاللې دي، بس یوازینۍ لار ورته له ژونده کوچېدل ښکاره شوي، خو څنګه کوچېدل؟

بیا هم په دې نه ده توانېدلې او د فلمي سناریوګانو په څېر یې ځان د موټر تر ټایر لاندې کړی دی، په داسې حال کې چې دغه کار یې په کور کې هم کولای شو، د موږکانو درمل وخوره، تنور ته ځان واچوه، له بامه ځان وغورځاوه، چاړه په خېټه ومنډه او داسې په لسګونو نورې خبرې، خو دې ته دا چم یا نه ورته یا همداسې ډیزاین شوې ده، نو دغه ډول نوښت پالونکي توکي او د عصریت نښې نښانې که له یوې خوا ګټه لري او موږ د کیسه لیکنې له نرۍ وال بهیر سره یو ځای کوي، نو له بلې خوا بیا زموږ په ټولنه کې په دغه ډول د منلو وړ هم نه دي، ځکه زموږ لپاره زموږ کلتوري او فرهنګي ارزښتونه مهم دي او هغه په افراطي بڼه نه، بلکې په حقیقي بڼه، خو له دې حقیقته هم سترګې نه شي پټېدلای چې موږ دا او دې ته ورته ډېرې بېلګې په خپلو کیسو او ټولنې کې لرو او را سپړل یې د یوې رښتیاینې زباتونه ده، نه د فرهنګ او کلتور سپکاوی.

که د ډاکټر سیماب له دغې کیسې را تېر شو، نو د سویلي پښتونخوا د نورو نوموتو کیسه لیکوالو په کیسو کې هم دا او دې ته ورته پېښې او سوژې لرو چې هم په کې د نوښت پالنې پر لور هڅې دي او هم په کې د نوو او عصري حالاتو توکي کارېدلې دي، چې یو په کې د ټېلیفون د وسیلې کارېدل، د انګرېزي لغاتو استعمال، د پښتنې دودونو تر پښو لاندې کول، عصري ژوند کول، د شپې تر ناوخته کښېناستل او د لوبو کتل او یا هم د قطو کول او بیا د سهار لمونځونه پرې قضا کول او دې ته ورته مسایل، چې له دې ډلې یوه هم د رحمت الله رحمت «د رحمت ډالۍ» د لنډو کیسو له ټولګې څخه د «بس ټلیفون کښېږدي» لنډه کیسه ده چې په کې پخوانی ژوند او دود ستایل شوی او اوسنی نقد شوی او د نقد وسیله هم د ټېلیفون مبایل، د ښاري عصري ژوند کول او بیا تر ناوخته د ټلویزیون سکرین ته د لوبو د ننداري لپاره کښېناستل او قطي کول دي چې ورته به تم شو: "پردل وویل، نوروز اکا په یاد دې دې زموږ د کلي څنګه ښه ژوند و، چا به لږ درلودل چا به کم، د چا به

لس د چا به شل زیاتې مېرې او وزې وې، شپانه به خپله رمه پر وخت د څړ لپاره بېوله، له رمې سره به دوه غښــتلي سپي هم وو چې یو لنډۍ او بل برګی نومیدئ...
وایم څه سر دې پر له ګرځوم پر یوه لویه سرګردانۍ واوښتې، په دغه حال کې هغه ستا قریب یا شناخته هم پر ځای نه وي، یو دوه منشیان، یو دوه کشران وي هغه هم چا پر اخبار سر ځړولی وي، چا یو کتاب یا د حساب ماشین مخې ته اېښی وي، چا بیا تیلفون غوږ ته نیولی وي، د الو الو (هیلو هیلو) نارې پکښې وهي او دا به سره وايي:
څنګه سو، در ورسېدې، بازار څنګه دی؟ بس درسره رایې نیســه، دستي شل لکه در حواله کوم، هو، هو بس صحیح دی ګټه کوي، دلته نو یو وار سره وخاندي په دغه حال کې بیا د ټلیفون یوه کیلۍ (بټن) ووهي اوس نو د هغه بل ســـړي خبري هم اورېدل کېږي، بیا ورته وایي ښه موسم څنګه دی؟
جواب: دباندې ګرمي ده، خو موږ ایرکنډېشن ته ناست یو.
پوښتنه: برایي مو خوک میلمه و؟
جواب: لنډو او پیرک، څنګه ورقي موو کړې، هو. بازۍ چا وګټله، موږ دوې بازۍ ځینې وګټلې، ښــې دوې بازۍ مو ځینې وګټلې، بیا خو نور زورور واست.
پوښتنه: څه وخت ویده شولاست؟
جواب: داسي د سهار خوا وه د سهار لمونځ هم راڅخه قضا سو، ښه د سهار لمونځ درڅخه قضا سو؟ هو!
پوښتنه: هغه نور چیري دي؟
جواب: هغه لا اوس هم ویده دي،زه اوس داسي ځانښت مهال ستا د ټلیفون په ږغ را ویښ سوم مخ مې لا نه دی پریولی.
پوښتنه: ناری (ناشته) خو مو هم نه دی کړی؟
جواب: هو اوس به مزدور راسي شیان به راوړي.
پوښتنه: نن ماښام چیري یاست؟
ځواب: نن هم د لې یو، نن نو بیا بازي ډېره ګرمه ده.
دلته بیا دا خبري سره وکړي او کې – اوکې بس ټلیفون کښېږدي.(9) "
سره له دې چې کیســه ډېره کمزورې او آن د کیســه لیکنې ځینې آرونه یې هم نه دي پوره کړي، خو په ټوله کې پرې د لنډې کیسې حکم کېدلای شي، ځکه ځینو داخلي جوړښتونو ته په کتلو سره یې د لنډې کیسې له چوکاټه ایستلای نه شو، خو که منځپانګې ته یې ځیر شــو، نو بیا هم د دود پالنې او نوښــت پالنې ترمنځ مبارزه روانه ده، یو ډله ســپین ږیري خپل پخواني ژوند، صداقت او ساده ژوند تر اوسـني رنګین او له امکاناتو ډک ژوند څخه غوره ګڼي، د دوی په وینا پخواني ژوند کې اخلاص او رښتینولي موجوده وه، خو اوسنی ژوند پر خپلو ګټو، شخصـــي منافعو او ځانځانۍ چورلي او په وینا یې یو به له مجبورې ورځې مور پلوري او بل به یې په پور غواړي یا هغه د مشـــــهور متل خبره چې د مړي تر سر لاندې پراټې لټوي، نو دوی هم د پخواني او اوســني ژوند توپیرونه همداســې کوي، په داســې حال کې چې معاصر، متمدن او مهذب ژوند په کافي اندازې ښېګڼې او خوبۍ لري، خو دا چې ځینې کسـان په کې لکه په کیســه کې چې یاد شول په افراطي توګه ژوند کوي هغوی یې رنګه بده کړې ده، خو ټول متمدن او عصري ژوند او عصري توکو ته همداسې خطاب نه شو کولای او نه یې په دې تله تللای شو، ځکه ټېلیفون چې د انسان ژوند ته څومره سهولتونه او اسانتیاوې رامنځته کړي او څومره یې د انســاني ژوند ستونزې او ناخوالې ورکې کړي، هغه بله پدیده نه شي ورکولای، همداسې کار و بار او په کور کې د نوکر ساتل چې انســـان څومره لوړو مدارجو او خپلو لویو موخو ته رسولای شي، هغه کلیوالي او محدود ژوند نه شي کولای، خو دغه ښــکارندې کله ناکله د ځینو

کوچنیو، ناروغو او عُقده یي انســـانانو له خوا داسې بدنامي شوي چې بیا ګټې یې هم په اسانۍ څوک درسره نه مني، نو دا کیســـه موږ له همداسې نزاکتونو څخه خبروي او موږ په دې پوه کوي چې له عصــــري حالاتو څخه باید څنګه ګټنه وشي، ایرکندېشـن کومې اسانتیاوې رامنځته کوي، ټیلیفون د انسان د ښېګڼې، پوښتنې او اسانۍ رامنځته کولو لپاره دی او که د نورو د ښکنځلو، وخت ضایع کولو، مزاحمت کولو او له املـه یې د نورو خپه کولو لپاره؟ ؟؟

انسان مستۍ، تفریح او ساعت تېرۍ ته اړتیا لري، خو معنا یې دا نه ده چې ته پرې د ژوند مهم ارزښتونه او آن اصلي دنده او فرایض هم ترک کړه، د شپې ناوخته ناسته ښه ده، خو د عبادت او یا هم رغنیز کار لپاره، نه د مستۍ، بې ځایه او بېهوده چارو لپاره چې بیا ترمیم یې هم ستا له واکه وتلې چاره وي.

په هر حال، که د سویلي پښتونخوا په لنډو کیسو کې د عصري حالاتو متفاوت ځرکونه او نښې نښانې وپلټو، نو بې له شکه د ښاغلي فاروق سرور، ډاکټر صادق ژړک، ډاکټر خلیل باور، اغلې شفا کاکړې، پروفیســـور راز محمد راز، ډاکټر نصـــیب الله سیماب او دې ته ورته‌سرلارو په کیســـــو کې یې موندلای شو، چې تر ډېره به مثبت او د ټولنې له حالاتوسره برابر وي، ځکه دوی ټولنه په افراطي او تفریطي توګه نه معرفي کوي، بلکې لکه څنګه چې ده هماغسې یې معرفي کوي او دا منلې خبره ده چې د حالاتو له بدلون او د پرمختګ له راتګ‌سره ټولنې ورځ تر بلې مخ پر بره او لوړه حرکت کوي، نوې غوښــــــتنې او نوې اړتیاوې پیدا کوي او دغه اړتیاوې په ټولو برخو کې اشـباع کېدل غواړي، خو دا چې د دود پالنې او نوښـت پالنې جګړه پیل شي، نو که موږ وغواړو او که نه ځینې مســـایل او خبرې او آن پدیدې د خودۍ پالنې ښکار کېږي چې زیان یې بیا هم ټولنې ته رسېږي. دغه ډول تاوتریخوالی د دې لامل کېږي چې ځینې پر دود پالنې ولاړ خلک له نوښت پالنې‌سره حساسیت او آن کینه پیدا کړي چې دغه کینه یې ډېر ځله پر ټولنې منفي اغېز ې ځکه پرېباسي چـې د دوی تبلیغاتي ژبه هم زهرجنه او هم چیچونکې وي چې ډېر ځله عام‌وګړي ترې ځان ساتي او له ټکر کولو یې ډډه کوي او دغه چار کله ناکله ولســـــــي ژوند او اسانتیاوې له ځنډ او خنډ‌سره مخامخوي، چې دغه ځنډ بیا په ټولو پښـــــــتني سیمو کې یو ډول د تطبیق وړ نه دی او موږ هېڅکله د زابل سیمه له چمن‌سره او د ارزګان سیمه له کوېټې یا سویلي پښتونخوا‌سره پرتله کولای نه شو، ځکه یو ځای کې پرمختګ په منډه‌را روان دی او بل ځای کې بیا نه یوازې ورو دی، بلکې پـر وړاندې یـې خنډونه او ځنډونه هم جوړېږي چې دغه چار په ټول داستاني ادب او په ځانګړې توګه پر لنډې کیسې باندې نېغ په نېغه اغېزه لري؛ یو ځای کې به لنډه کیسـه د نوښت پالنې پر لور سربېره سـیمبولیکه شـوې هم وي، خپل کوایف او ظرافتونه به یې په ټوله معنا موندلې وي او آن له نړۍ والو کیسوسره به یې سیالي پیل کړې وي، خو بل ځای کې به لا هم له فولکلوري کیسـې‌سره سر ښوروي او په ډېر تکلیف به یې ناقد یا کره کتونکی له مکتوبې یا معاصرې کیسې‌سره برید پولې معلوموي.

نو که خبره را ټوله کړم، زما په نظر د سویلي پښـــتونخوا لنډې کیســـې په ټوله کې پر پورته ځانګړنو سربېره لاندې عمده او اساسي ځانګړنې لري چې دغو ځانګړنو پر نوښت پالنې یا د نوو حالاتو ځرکونو باندې هم نېغ په نېغه اثرات ښندلي او‌زموږ په کیسو کې یې ځرکونه کله برېښنده او کله تت شوې دي، چې‌زما په نظر عمده لاملونه یې همدا دي:

د ټولو پښتنو په ځانګړې توګه د پښـتونخوا او کوېټې سیمې لومړنۍ کیسـې تر ډېره پر دود پالنې او انګرېز‌سره د مقابلې پر منځپانګې چورلېدې، کله به یې ولس د انګرېز پر وړاندې مقابلې ته هڅاوه او کله به یې هم د هغوی د ماتې په اړه داسـتانونه بیانول، خو دغه چار ورو ورو مات او ځای یې د خپلې سیمې د کلتوري ارزښـتونو لومړیتوب ونیو، په دې معنا د خپل دود یا د پښـتني دود ناخوالې، نادودې او زیاتیو ته یې پام شو، د ملک، خان، سیټ ظلمونه او د بېوزلو بې وسۍ یې را پورته کړې او په ډېر جرأت‌سره یې له داسې مســـــایلو پرده پورته کړه او په نږدې بهیر او آن اوس کې یې بیا بله موضوع چې هغه د ټولنې د اخلاقي پولو ماتول یا جنسي فقر دی وړاندې کوي.

د دغه ډول محتویاتو را سپړل او په هنري انداز یې د کیسې په بڼه وړاندې کول د سویلي پښتونخوا د لنډې کیسې عمده سوژې دي چې په ډېر جرأت سره یې وړاندې کوي، خو په ورته وخت کې بیا داسې نوښتي، ټولنیزو او د پرمختګ وسایلو ته هم نغوتې لري چې په پرتلیز لحاظ لوستونکی دغې پرتلې او انډول ته ګوته په غاښ کېږي.
د سویلي پښتونخوا سیمه تر پېښور یو څه وروسته ښاري شوې او دغه کار د دې سیمې پر فرهنګي او ادبي چاپېریال هم نېغ په نېغه اغېزه ښندلې ده، په دې معنا په کوټې سیمه کې تر ډېره د نوښت پالنې او دود پالنې ترمنځ جګړه روانه وه، خو سنجیده کیسه لیکوالو بیا دا مسئله په احساساتي او عاطفي نه، بلکې په تطبیقي توګه وړاندې کړې او ولس یې په دې توګه قانع کړی چې خلک چېرته ورسېدل او موږ لا په څه بوخت یو. د ساري په ډول د کاسي او علیخېل په ځینو کیسو کې لولو چې د نړۍ خلک سپوږمۍ ته پر ختېزنو سربېره د تفریح او مستۍ لپاره هم وختل، د خپلو سفرونو د لنډولو لپاره یې مېټروګانې او الوتکې جوړې کړې، د آرام او تفریح لپاره یې میله ځایونه، پارکونه، څښاک خونې او هوټلونه جوړ کړل، خو موږ لا هم نه پوخ سړک لرو، نه په کلیو کې عادي موټر لرو او نه هم د سفر پر مهال چېرته بلدي او شناخته لرو چې ور کره شپه تېره کړو او یا را سره تلونکې ښځمنه په ستر کې مخ پټې پاتې شي، چې نه یې څوک وګوري او نه یې له درده، زګیرویو او رنځه څوک خبر شي. که ماشوم زېږوي نو هم یې باید په کور کې وزېږوي، که نرسه ورته پیدا شوه، نو په رښتینې معنا به د ځمکې پر مخ طالعمنه وي او که نه نو د کلیو زړې ښځې خو چا وړې نه دي.
کوچني باید داسې بند په بند وتړل شي چې سبا د تربور د پېغور نه وي چې زه ګواکې مور په روښې او سوزنې کې سست تړلی یم، پمپر وروانه چول شي چې هغه د انګریزانو د شیطانۍ ځاله ده، خو که کوټه او کور شل ځایه بې لماځه کړي باک نه کوي.
د ګوزڼ (پولیو)، شري، څمځیاکي یا چیچک او دې ته ورته واکسینونه ځکه باید ونه کړل شي چې بیا بېغرته کېږي، خو که شل، ګوډ، کوړا، بوښیا او دې ته ورته وي باک نه کوي، ځکه چې غیرت خو یې لا پر ځای دی او دې ته ورته نور پښتني ناوړه دودونه د دوی په کیسو کې په تطبیقي او مقایسوي بڼې وړاندې کېږي چې په هغې کې هم د احساساتو او عواطفو رنګ ډېر پیکه وي، نو ځکه یې دا ډول کیسې خلک ډېرې خوښوي او د همدغو ننګونو پر اساس ځینو پرمختګونو او نوښت پالنې ته لار ور کوي.
د سویلي پښتونخوا د کیسو بله لویه ځانګړنه د ښځمنو د ژوند انځورول دي چې دا هم په مقایسوي توګه وړاندې شوي، په دې معنا د دغې سیمې سرلارو لیکوالو لومړی د غیرت، مېړانې، سرښندنې او کلیوالي دودونو په اړه کیسې لیکي، بیا یې د ښځمنو د ژوند انځور وړاندې کوي چې باید د دوی د عزت ساتنې لپاره په کور کې زېږون وکړي، باید د ورور د قتل په مقابل کې قرباني ور کړي او په بدو کې یې لاړې شي، باید که مېړه یې بینګړا، لېونی، چرسي، بنګي او چار عیب شرعي وي، هغه وزغمي او ژوند ورسره وکړي.
همداسې نرینه باید درې او څلور ښځې وکړي، ځکه حکمونه یې هم په قرآن کریم کې ثابت دي او هم زموږ د حضور مقبول (ص) سنت دی، خو دا چې حقونه یې ور کول کېږي، ساتل کېږي او پالل کېږي او که نه هغه بیا بېله خبره ده او دا چې د سنتو لپاره فرایض تر پښو لاندې کېږي هغه مهمه خبره نه ده، خو باید دا سنت پر ځای کړل شي.
تر دغو مسایلو وروسته بیا د نړۍ د ښځمنو ژوند انځوروي او خپل ولس ته یې وړاندې کوي، پر انسانیت، بشریت او خیر ښېګڼو لیکل کوي، په ټولنه کې د ښځو پر رول خبرې کوي، د ژوند پر خوندونو او اړخونو خبرې کوي او دې ته ورته مسایل بیا خپلو لوستونکو ته په مخ کې ږدي او په اصطلاح یو ډول داخل پالنې یا درون ګرایی سره یې مخامخوي چې د ځان ښامار او د وجود دوزخ یې په خپله مړ کړي چې دغه ډول کیسو ته رواني یا رواني پالنې او روان درملنې کیسې هم ویلای شو چې دغه

بېلګه بیا د ښاغلي فاروق سرور او په دې وروستیو کې د ډاکټر سیماب په بېلګو کې زیاتې موندلای شو او دا په ټوله معنا د نوي عصر ـ ځوک او موندنې دي، ځکه کیسه یوازې کیسه نه پاتې کېږي، بلکې یو بل علم یا تیوري هم ورسره ګډېږي چې دا په ټوله معنا نوې غوښتنه او نوې اړتیا ده.

د دغو مسایلو ترڅنګ د دغې سیمې معاصرو کیسو کې یوه بله خبره هم ډېره ځرګنده ده او هغه له خپل اصلي ټاټوبي افغانستان سره د بې شانه او بې کچې مینې لرل دي چې دا خبرې یې په اکثرو لنډو کیسو کې موندلای شو.

ما چې څومره هم د دغې سیمې د لویو لیکوالو لیکنې لوستي، نو په اکثریتو کې یې خپلې سیمې ته مقبوضه افغانستان سیمه لیکلې چې پر دې اساس ځان یې هم بندي او قابض شوی معرفي کړی او دا منلې خبره ده کله چې لیکوال، شاعر او څېړونکی دردولري، نو دغه درد یې په لیکنو او څېړنو کې هم ځان ښکاره کوي، خو داسې چې هم پخته ګۍ ته رسېږي او هم لوستونکی متاثر کولای شي، خو که دغه عواطف او احساسات بیا په هنري نثر او داستاني ادب کې ځای شي، نو هله بیا سړی د لیکوال د قلم پر نزاکت، ظرافت او قوت پوهېدلای شي.

دقیقاً دغه خبره تر ډېره د دغې سیمې د ځینو مشرانو لیکوالو په کیسو کې محسوسېږي، په ځانګړې توګه کله چې د هېوادنۍ مینې، جذبې، پرمختګ او جګړې خبره راشي، کله چې د تمدن او فرهنګ خبره راشي او کله چې هېواد یې له بل هېواد سره پرتله کېږي، نو بیا د دوی اوښکې، سوز، ګداز او اورنۍ مینه محسوسېدلای شي، دوی د خپل لوی کور افغانستان هغه حالات او پرمختګونه یادوي چې په نړۍ کې یې ساری نه وي، خو ترڅنګ یې هغو ناخوالو او بدمرغیو ته هم نغوتې کوي چې له امله یې د دوی پر سینه کرغېړنه کربښه تېره شوې او له امله یې دا ښامار لا تر اوسه هم په دې سینې پروت دی او لوی وجود ته یې هر وخت ټکونه ورکوي چې نه ورغېږي او نه هم پوپنا شي، چې دغه ځانګړنه یې بیا ډېره عالي او پر عالي ذوق ولاړه ده.

د سویلي پښتونخوا په اوسنیو کیسو کې ډېر نوي توکي یا ښکارندې له دې امله هم راغلي چې معاصر لیکوال یې د رواني او سیمبولیکو کیسو مینه وال دي. کله چې د رواني یا سیمبولیک موضوع خبره کوو، نو دقیقاً بحث یو څه پراخېږي او رواني بنسټونو ته غځېږي، په دې معنا په رواني بحثونو کې تر ډېره بحث د انسان او د دوزخ دی، د نفس او د لېوه دی او بالاخره د ځانځانۍ او د ښامار دی. په رواني بحثونو کې ډېر ځله زړه یا نفس له ښامار، لېوه، دوزخ او دې ته ورته شیانو سره تشبېه شوی دی چې کله ناکله په رښتیا هم همداسې وي، د دوزخ ځانګړنه د هر شي را کاږل او بیا هم نه مړېدل او نه د لمبو کمېدل دي او انسان هم چې کله نفس وپالي، نو همداسې دوزخ ترې جوړ شي، هم خپله برخه خوري او هم د بل، هم خپل عزت النفس ورته ارزښت نه لري او هم د بل او هم...او دا ځکه چې د ده په وجود کې د شهواني غوښتنو او د نفس سوپر ایګو یا ځانځانۍ اور بل شوی چې د ښامار بڼه یې خپله کړې او باید ټول ښار تر ستونې تېر کاندي.

له بده مرغه زموږ ځینې دودونه او ځینې کړنې همداسې دي، د شخصیت په نامه او جامه، د پانګه والۍ په نامه او جامه او بالاخره د ښه سړیتوب، تقوا او... په نامه او جامه هغه کارونه کوو، چې سړی یې هډو فکر هم نه شي کولای.

ځینې کسان د پردې پر ناموس لاس اوږدېږي، د دووسې په نامه ښځه له کوره رټل کېږي او آن په آزاد بازار کې پلورل کېږي، خو بیا هم د ځینو مجبوریتونو له مخې دا شیان نه افشا کېږي او پټ پاتې کېږي.

د سویلي پښتونخوا په کیسو کې یوه بله ځانګړنه چې هم ډېره ژوره او هم ډېره ګوابښونکې ده هغه د ځینو کیسو فلسفي کېدل یا د فلسفي کیسو لیکل دي، چې دا چار هم د نړۍ د ټولو نوو او عصري کیسو ځانګړنې دي، ځکه نن سبا په نړۍ کې ټولنپوهنیزې، رواني او فلسفي کیسې ډېرې زیاتې لیکل کېږي، چې فلسفي یې کله ناکله عقیدوي ارزښتونو ته هم پوښتنې متوجه کوي؛ په دې معنا د انسان ځاندره یا وجود له یو ډول رواني ناارمتیاسره مخامخ دی او د سکون لپاره له خپله ځانه او د

خپل وجود له مطمینه او ملهمه نفســـــونو څخه پوښتنې کوي، چې زه څوک یم؟، چا پیدا کړی یم؟، څنګه پیدا شوی یم؟، اصلي مکان مې چېرې دی؟، د څه لپاره پیدا شوی یم؟، مختار یم که ترلی؟، وجود مې د جبر په واک کې دی او که د اختیار په ډیالیکتیک کې؟

او داسې په لســګونو نورې پوښتنې چې ډېر ځله کېدلای شي پر وړاندې یې موږ حســاسیت هم وښیو او لیکوال یې په ډېرو وولو، خو د فلســفې او منطق خاوندان بیا دغو پوښتنو ته نه یوازې مناسب او منطقي ځوابونه لري، بلکې د اسلامي معلوماتو او څېړنو لمن هم پرې پراخوي، ځکه هغوی پوهېږي چې کابو دغو ټولو پوښــتنو ته زموږ ســپېڅلي کتاب ځوابونه ورکړي، خو موږ ترې خبر نه لرو او باید ترې خبر شو.

نو د دغې سیمې اوسنی کیسې تر ډېره د فلسفې پر اوبو لمدې شوي چې کابو دغه ډول پوښتنې هم په کې یا په سېمبولیکه ژبه او یا هم د هنري ظرافتونو په ژبه ځواب شــوي چې ډېر ځله له تیزبینو لیدونکو پرته نور څوک ورته متوجه کېدلای نه شي، خو کوم کسان چې پرې پوهېږي، نو هغه د یاد لیکوال یا لیکوالو تر نورو کیســو پورې ورته د روږدو کســانو په څېر هره شېبه ټپرېږي چې کله به بیا د خپل وجود او ذهن خمار پرې ماتوي، نو دا هغه نوي او عصري توکي دي چې د دغې سیمې په لنډو کیسو کې زښت زیات تر سترګو کېږي. (۱۰)

نو په ټوله کې که خبره را ټوله کړم د دغې سیمې په کیســـو کې زښت زیات ارزښتونه پالل شوي، ډېر زیات نوي او عصـــري وسایل او مســایل په کې راغلي او ډېر زاړه ارزښتونه چې د سېمبول په توګه ګڼل کېدل، لرې او پر ځای یې د هماغو ارزښتونو لپاره نور آرونه وضع شوي. د ساري په ډول موږ ته د مشـــــرتوب وړ هغه سړی ښکارېده چې هغه به مېلمه پال، باتور، مېړنی، مینه ناک، دروند، د مال او حال خاوند، له ســـړیو موړ، د روب داب خاوند، پر توربرانو برلاســـــی، له بل کلي نه په هر لحاظ مخکې او داسې په لســـګونو نورې ورتیاوې به یې لرلې، خو که دا ورتیاوې به په کې نه وې یا به یې تر پښـــو لاندې کړې، نو دستار به ترې لرې اوسرتور به شو چې دا بیا نو په پښـتنو کې ډېره بده خبره وه، خو نن سبا مشران بیا دستار نه ترې او یوازې په شعاري توګه د دستار خبره کوي، چې دغه چار د مشرۍ معیارونه او اصول هم بدل کړي، نن سبا هغه سړی مشر-ي کوي، چې لســـــــتوني یې غوړ وي، پر کمزورو خپله خاني او ملکي وکړي، په هر ډول چې وي واک او ځواک لاس ته راوړي، ښه واغوندي، ښـــه وخوري، زورواکي او لویان مېلمانه کړي او د هغوی مېلمه شي، ډول ډول موټرې او ټوپکونه پیدا کړي، پاخه کورونه او بنګلې جوړې کړي او دې ته ورته مسایل، چې دغه ډول خلک نه څوک له ملکۍ لرې کولای شي او نه له وکالته، نو په داسې حالاتو کې به څوک ترې دستار خلاص کړي او څنګه به یې خلاص کړي، نو ځکه معیارونه نوي دي.

په اوسنیو داستانونو کې ګورو چې عالمان هم د جاهلانو تر لاس لاندې دي، ځینې یې د خپل نفسیاتي غرور له امله نوکري پرېږدي، خو ځینې یې د کورنۍ مجبوریت له امله وزغمي او هره ورځ ځان په برزخ کېویني، خو دربغه چې چاره یې نه وي.

د دې ترڅنګ نن سبا د پرمختګ او شخصیت کېدنې معیارونه غوړه مالي او بل ته د ټېټو او غورځېدلو غوښتنو پوره کول دي، چې له بده مرغه دا یوه کابو عامه چاره او کیســه ده، خوزموږ د دغې سیمې لیکوالو دا مسئله په زغرده او په ښکاره بیان کړې او آن ژوندۍ بېلګې یـې هم ورکـړي چـې دوی یـې لا نومونه هم نه دي یاد کـړي، خوولس او خلک یـې په نومونو پېژني چې څوک دي او څوک یادوي.

نو که خبره را ټوله کړم، د سویلي پښـتونخوا کیســه لیکوالو که له یوې خوا په کافي اندازې عقیدوي، شخصـیتي او عصـري ستونزې زېږولې، نو له بلې خوا یې په کافي اندازې ذوقونه او شخصــیتونه هم روزلي، هغه حقایق او واقعیتونه یې را سپړلي چې له بده مرغه تر اوسه پورې ورته چا یا د ډار او یا هم د نزاکت او بدنامۍ له امله ګوتې نه ور وړې، چې پورته یې بېلګې یادې شوې، همداسې دود پالنې او نوښت پالنې ترمنځ یې داسې د اتصـــــال کړۍ پیدا کړې چې بیا به یې څوک د پوپنا کېدلو

هڅې ونه کړي، څکه ګټې او زیانونه یې دواړه ولیدل، همداسې یې کیسه لیکنه پر ځان او خپل ګوتو په شمار کسانو پورې محدوده او منحصره نه کړه، بلکې د کیسې لیکنې پولې، آرونه او اصول یې دومره اسانه کړل چې ډېرو مبتدي لیکوالو یې هم په لیکلو پیل وکړ او له ښه مرغه مونږ نن د دوی ډېرې بریالۍ کیسې لرو، چې باید وغځول او وپالل شي.

په ټوله کې په دغه سیمه کې ډېرې اوچتې او نادرې کیسې شته چې له امله یې پښتو لنډې کیسې د ډېرو سیالو ژبو له کیسو سره سیالي کوي، خو دا چې ما یې ټول اړخونه روښانه نه کړای شول، نو څو لاملونه لري، یو دا چې ماسره د دغې سیمې څو د ګوتو په شمار لیکوالو اثار موجود ول، د دې ترڅنګ وخت راسره کم او موضوع پراخه وه او دریم هم دا موضوع دومره لویه ده چې آن کتابونه پرې لیکل کېدای شي، نو ځکه د داسې موضوعاتو د لنډېز وړاندې کول او بیا یې د مقالې په چوکاټ کې ځایول ښایي د موضوع حق لکه څنګه چې اړینه ده هغه ډول ادا نه کړای شي، خو خوښ به هله شم که ګوندې په دې برخه کې د بحث یوه لړۍ پیل کړای شم چې له امله یې زما دا ګډې وډې هم را منظمې او منسجمې شي.

**مأخذونه:**


۱. سیدي، سیدنظیم. پښتو لنډه کیسه او ادبي ټوټه: کابل، صمیم ادبي ټولنه، ۱۳۸۶ لمریز کال، ۹ مخ.

۲. وزیر، ډاکټر نصرالله جان او اقبال، جاوید اقبال. پښتو افسانه په سهیلي پښتونخوا کښې (د پښتو، ګلستان او اولس مجلو په رڼا کښې)، تکتو مجله، دویمه ګڼه، د ۲۰۰۹ زېږدیز کال جولاس او ډسمبر، ۴۵ مخ.

۳. انځور، زرین. د سهیل داستاني ستوري (د سهیلي پښتونخوا د داستاني ادبیاتو مخکښې څېرې): جلال آباد، هاشمي خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۹ لمریز کال، ۵–۶ مخونه.

۴. وزیر، ډاکټر نصرالله جان او اقبال، جاوید اقبال. پښتو افسانه په سهیلي پښتونخوا کښې (د پښتو، ګلستان او اولس مجلو په رڼا کښې)، تکتو مجله، دویمه ګڼه، د ۲۰۰۹ زېږدیز کال جولای او ډسمبر، ۴۱ او ۴۲ مخونه.

۵. پانیزی، نظر محمد. د آزادۍ کانړی: کوټه، سکام ادبي اکاډمي، ۱۳۸۶ لمریز کال، ۱۳-۱۷ مخونه.

۶. انځور، زرین. د سهیل داستاني ستوري (د سهیلي پښتونخوا د داستاني ادبیاتو مخکښې څېرې): جلال آباد، هاشمي خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۹ لمریز کال، ۵۸-۵۹ مخونه.

۷. صادق، ناظر. انتظار (لنډې کسې): شالکوټ، پښتو ادبي غورځنګ، ۲۰۱۸ زېږدیز کال، ۶۲-۶۶ مخونه.

۸. سیماب، نصیب الله. بنده دروازه (د لنډو کیسو ټولګه): کوټه، ملګري لیکوال خپرندویه ټولنه، ۲۰۰۳ زېږدیز کال، ۸۲-۹۲ مخونه.

۹. رحمت، رحمت الله. د رحمت ډالۍ (د لنډو کیسو ټولګه)، انلاین چاپ، مختار احمد احسان، د لر او بر ډاټ کام برېښنایي کتابتون، ۱۳۸۳ لمریز کال، ۲۲ مخ. www.Larawbar.net

۱۰. انځور، زرین. د سهیل داستاني ستوري (د سهیلي پښتونخوا د داستاني ادبیاتو مخکښې څېرې): جلال آباد، هاشمي خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۹ لمریز کال، ۱۶۲ مخ.

# غزل

راج د مینې له ټول کلي را ایسار کړه
نـفرتـو تـه الفــتونه پـه کـتار کــړه

مشکلات د وطن کم دي او که ډېر دي؟
راځه ته خو بې حل لارې ورته شمار کړه

په میدان د تیاري کې سـرې کــم دي
بیا را ودانګه په سر باندې دستار کړه

د احساس چیغه دې خپه مه شه ګرانه
ترنـم سره دې ژمن ولس خمار کــړه

یا (اقبال) شه چې عالم ور باندې ویاړي
یا لګیا شه رسالت کې ځان (ناګار) کړه

د وطن د جــوړولو هــیلې څــه دي؟
دغه زده د شهـیدانو لـه مـزار کړه

ترقي لـه علمـه پرته نا ممـکـن ده
تربیه او عـلـم دواړه دې روزګار کړه

مفتي وقایت الله وقار

# په شخصیت جوړونه کې د ښځې ونډه او رول

لیکوال: سیف الله ساعي د پوهنتون استاذ

که وکتل شي ډېر لږ شمېر شخصیتونه چې نړۍ ته راغلي او یا د تاریخ په اوږدو کې څومره بریالي انسانان تېر شوي دي، د هغوی تر شا به هرو مرو د کومې ښځې لاس، ملاتړ او په روزنه او هڅونه کې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې تر سترګو کېږي، کله د مور په بڼه، کله د مېرمنې، کله د خور او کله هم د لور په بڼه، معنا دا چې په شخصیت جوړونه او سمه روزنه کې باید د ښځې ونډه له پامه ونه غورځول شي چې له ځینو بېلګو یې په لاندې ډول یادونه کېدای شي:

**په شخصیت جوړونه کې د خدیجه رضي الله عنها ونډه:**

دا یو منل شوی حقیقت دی چې په بشریت په تاریخ کې د الله جل جلاله تر وروستي استازي محمد صلی الله علیه وسلم غوره انسان نړۍ ته نه راغلی او نه به تر پایه راشي، پر هغه صلی الله علیه وسلم چې کله لومړۍ وحیه کېږي، نو هغه سخت وېرېږي او کور ته راځي او وایي: پټ مې کړئ، پټ مې کړئ او زیاتوي زه پر ځان ووېرېدلم، همغه وخت خدیجه رضي الله عنها ډاډ ور کوي او ورته وایي: هېڅکله نه، پر الله قسم ته خپلوي پالې، مېلمه پالنه کوې، له چاسره چې هېڅ نه وي هغوی ته ور کړه کوې، د دین په چارو کې د نورو مرسته کوې، نو د دغو صفتونو له امله به الله تعالی هیڅکله تا ضایع نه کړي، د دغو خبرو له امله نبي صلی الله علیه وسلم ډاډه کېږي.

نو په داسې وېرېدلي او سخت حالت کې د نبي صلی الله علیه وسلم تر شا د مېرمنې په توګه د خدیجې رضي الله عنها ډاډګېرنه او مرسته تر سترګو کېږي، همغه و چې بیا ځان او مال یې ټول نبي صلی الله علیه وسلم ته وړاندې کړل او په داسې حالت کې یې مرستې او خدمت ته ور ودانګل چې خپلو خپلوانو یې یوازې پرېښی وو، ځکه خو د نبي صلی الله علیه وسلم د لوړ شخصیت تر شا د خدیجې رضي الله عنها بې ساري قرباني لېدل کیږي.

**په شخصیت جوړونه کې د فاطمه بنت خطاب رضي الله عنها ونډه:**

کله چې عمر رضي الله عنه له کوره د نبي صلی الله علیه وسلم د شهادت په تکل وځي، په لار کې له نعیم بن عبدالله رضي الله عنه سره مخ کیږي، پوښتنه ترې کوي چې چېرې روان یې؟ عمر رضي الله عنه د خپل هوډ په اړه ځواب ورکوي، هغه صحابي رضي الله عنه ورته وایي: لومړی د خپل کور حال واخله، ستا خور او اوښی هم مسلمانان شوي دي، عمر رضي الله عنه د دغې خبرې په اورېدو سره سخت په غوسه کیږي او سملاسي د خور او اوښي د کور په لوري را ګرځي، دروازې ته په را رسېدو د قرآن کریم د لوستلو اواز اوري چې حباب بن ارت رضي الله عنه یې هغوی ته ښیي، دروازه ټکوي، خور یې پوهیږي

چې عمر دی، نو ښوونکی او مېړه دواړه ترې پټ وي او په خپله ورځي دروازه ورته پرانيزي، عمر رضي الله عنه چې کور ته ننوځي د اوښي پوښتنه يې کوي، هغه د بېرون له خوا ورته راځي، همدغه مهال عمر رضي الله عنه پوښتنه ترې کوي چې ما اورېدلي تاسو مسلمانان شوي ياست؟ هغه ورته وايي: که اسلام رېښتينی دين وي بيا؟ د دغې خبرې په اورېدو سره عمر رضي الله عنه د خپل اوښـــي پر لور ورځي ترڅو يې ووهي، خور يې د ژغورلو په موخه ور مخته کيږي، خو عمر رضي الله عنه خپله خور پر مخ داسې څپېړه وهي چې پر ځمکه لويږي او له خولې يې وينې روانيږي، ٠ په سـيرت خلفای راشـيدين کې هم راغلي ، چې عمر رض خپلې خور فاطمه ته په غوږ څپېړه ورکړه چې له امله يې له خولې وينې روانې شـــوې) په همدې حالت کې هغه راپورته کيږي ورته وايي: اې عمره د کومې مور شېدې چې تا رودلې دي ما هم د همغې مور شېدې رودلې دي، زموږ له بدن څخه ساه ابستلی شې، خو له زړونو مو ايمان نه شې ايستلئ.
دغه توري د عمر بن خطاب رضي الله عنه پر زړه د برېښـــــنا غوندې پرېوزي، لوی بدلون پکې راولي او پوښتنه کوي چې لږ مخکې مو څه لوستل؟ خور يې ورته وايي: ته تر اوسه پاک نه يې، لومړی ځان ومينځه ترڅو د هغه سپېڅلي کتاب د لوستلو وړ شـــې، هغه هم ځي، ځان مينځي، همدغه مهال هغه پټ شـوی ښـــوونکی خباب بن ارث رضي الله عنه بېرون را وځي او وايي: اې عمره مبارک دې شـه! نبي صلی الله عليه وسلم څو ورځې مخکې داسـې دعا کوله چې اې الله ته خو يا په عمربن خطاب يا پر عمربن هشام اسلام ته ځواک ورکړې. الله ستا په حق کې هغه دعا قبوله کړه، نو مبارک دې شه.
بيا عمر رضي الله عنه د دار الارقم په لور بيايي چېرې چې نبي صلی الله عليه وسلم صحابه ورضي الله عنهم ته دين ښودلو، هلته په رسېدو دروازه ټکوي، يو صحابي رضي الله عنه يې له سوروي ويني چې عمر هم ورسره دی او په لاس کې يې توره ده، ژر نبي صلی الله عليه وسلم ته ورځي چې عمر د غوسـې په حالت کې توره په لاس ولاړ دی، حمزه رضي الله عنه ور مخکې کيږي او وايي: عمر ته دروازه پرانېزئ که په ښه نيت راغلی وي، نو راتگ دې مبارک شي او که يې نيت ښه نه وي، نو حمزه به د ده په خپله توره سر ور بېل کړي، کله چې دراوزه پرانيســــــــتل کيږي، د عمر حالت بدل ښکاري، عاجزي له ورايه پکې ښکاري، د نبي صلی الله عليه وسلم مخې ته په گونډو کښـــــــېني او وايي: اې د الله رسوله! ستا دربار ته راغلی يم او کومه پېرزوينه دې چې د الله له لوري راوړې ده په هغې کې له برخمن کېدو غوښتنه لرم او اسلام ته غاړه ږدم.
صحابه رضي الله عنهم د خوښيو له اوښکوسره د الله اکبر چيغې وهي، لږ وروسته چې د لمانځه وخت کيږي، صحابه رضي الله عنهم هملته د لمانځه لپاره چمتووالی نيسـي، خو عمر رضي الله عنه وايي: اوس عمر څلوېښـتم سړی دی چې مسـلمان شـوی، نو ځئ چې په حرم شريف کې لمونځ وکړو، حرم شريف ته له راتلوسره ســم دا اعلان کوي، اوس عمر دلته ولاړ دی، مســــلمانان به د ټولو په مخکې خپل لمو نځونه کوي، څوک چې خپله مېرمن کونډول او بچيان يتيمانول غواړي، نو د عمر مخې ته دې راشي، چا دا جرئت کولای شوای؟ د عمر رضي الله عنه په مســلمانېدو اسلام ته الله پاک ځواک ورکړ، دلته هم د يو بريالي او پياوړي انسـان تر شا د يوې ښځې قرباني، زړورتيا او پر خپل دريځ ټينگ درېدل د خور په ښه ليدل کيږي چې په پايله کې يې د اسلام د برم او دبدبې لوړوالی راځي.
**د عکرمه رضي الله عنه د مېرمنې رول:**
عکرمه چې د ابوجهل زوی و او له اسلام مخکې د کافرانو د لښکر مشـر هم و، هغه د بدر په غزا کې د کافرانو له لوري په جنگ کې گډونوال و او د نبي صـــلی الله عليه وســلم په اړه به يې ناسـم توري کارول، کله چې مکه مکرمه فتحه کيږي، هغه له دې وېرې تښتي ترڅو يې د وژلو حکم ور نه کړل شي.

هغه په یوه کېښتۍ کې سپور روانېږي، د هغه مېرمن نبي صلی الله علیه وسلم ته راځي اسلام قبلوي او وایي: اې د الله رسوله! زما مېړه ته امان او پناه ورکړه! نبي صلی الله علیه وسلم ورته فرمایي: امان مې ورکړ. هغه یې په خپل مېړه پسې ځي، کله چې هلته رسیږي، ګوري چې مېړه یې په یوه کېښتۍ کې سفر پیل کړی و، هغه په بله کېښتۍ کې په تېزۍ پسې ور روانېږي، ور نېږدې کیږي، خبرې ورسره کوي چې بېرته راوګرځه: هغه په ځواب کې وایي: زه به ووژل شم، دا ورته وایي: زه مسلمانه شوې یم او په خپله مې له نبي صلی الله علیه وسلم څخه امان درته اخیستی دی، همغه و چې عکرمه را ګرځي، اسلام قبلوي او یو تکړه مجاهد ور څخه جوړیږي، نو دلته هم د یو بریالي انسان تر شا د مېرمنې په بڼه د یوې ښځې منډې او هلې ځلې لیدل کیږي.

**د ام سلیم رضي الله عنها رول:**

نوموتی صحابي انس رضي الله عنه وایي: مور مې له کوچنیوالي دا خبره را ښوولې چې زه باید له نبي صلی الله علیه وسلم سره مینه ولرم او خدمت یې وکړم، هغې به په خپله دومره مینه ورسره لرله چې کله به په ګرمۍ کې د غرمې د خوب پر مهال د نبي صلی الله علیه وسلم له بدنه د خولو کوم څاڅکي راتلل، هغې به یې بوتل کې ټولول ترڅو یې له عطروسره ګډ کړي چې خوشبويي لا په زیاته کړي، انس رضي الله عنه د نبي صلی الله علیه وسلم خدمت کوونکی شو، نبي صلی الله علیه وسلم هغه ته د روزۍ د پراخۍ او په اولاد او عزت کې د برکت دعا وکړه، دلته هم د یو بریالي انسان تر شا د مور په بڼه د یوې ښځې هڅونه او روزنه لیدل کیږي .

## غزل

ما کړی بغاوت و له هجرانه یوه ورځ
ناوې ته تښتېدمه له بارانه یوه ورځ

وژل د شب قدر تاته ښکاري مسخره
قصاص ته دې ولاړه ده انسانه یوه ورځ

له کور د ارمانو څخه جنت جوړوي یار
تېرېږي ایا دلته بې ارمانه یوه ورځ؟

راغلې یوه شپه ده د سپېڅلي محبت
راغلې ډېره وروسته ده جانانه یوه ورځ

پر مونږ ګناهګارانو قیامت وي ستا بېلتون
روانه وي روانه وي روانه یوه ورځ

د ښار شور خو تکله دی فرهنګ د بې صبرۍ
کاش زده کړي خاموشي له بیابانه یوه ورځ

عبدالدیان تکل



# عملي مېړانه

لیکوال: مفتي وقایت الله وقار

دیني نصـــــوصو ته په کتنې داسې معلومېږي: هغه څوک چې یو نعمت ورکړل شوی وي او ترې ګټه نه اخلي، یا یې شکر نه کاږي، تر هغه کس ناغوره دی چې نعمت پرې نه دی شوی.

افغانستان له بېلابېلو شتمنیوسره د الله تعالی یو لوی نعمت دی، پر همدې بنسټ ددغه لوی نعمت شکر هلته ویستلی شو، کله چې په ټولو شکلونو یې داسې کړنو ته مخه کړو چې ښې وي او د انسانیت په خیر وي.

علم په خپل ذات کې یو پاک نوم دی، مګر تاثیر او فضیلت یې تر هغې پورې نه وي، تر څو چې پرې عمل شوی نه وي.

د معاصر افغانســـتان د ویښـــتابه په وړاندې لوی خنډ شاید دا هم وي چې دوه پر درې برخې ولس مو پوهه نه لري او کومه درېیمه برخه ولس چې اوس پوهېږي، هغوی په عملي لحاظ له خپل علم څخه په فاصـــله کې دي او اســـلامي شریعت په صریحه توګه ددې اعلان کړی: هغه علم چې عمل ورباندې ونه شي، نه یوازې دا چې ثواب پکې نه شـــته، بلکې وبال او ګناه ده.

یو نوی او پرمختللی افغانســـتان تر هغه پورې موجودېدای نه شي، څو چې ورته په عملي لحاظ متې رانه‌وهل شوې نه وي او څو چې په عملي لحاظ مونږ په خپل ځان کې د بدلون او تغییر راوستلو هڅه نه وي کړې.

دا تر اوسه پورې چې د خوږ هېواد کومې غوښـــتنې ذکر شـــوې، تر هغې پورې به یو خیال پلاو وي څو چې عملي جامه ورته وانه غوستل شي او عملي ډګر هماغه ډګر دی چې نن پکې مونږ تر نورو ګردو یې زیات تر پوښتنې لاندې یو.

زمونږ دعوتګر کله چې په منبر ولاړ وي، ډېر خوږ خوږ غږېږي او د خلکو زړونه اخلي، مګر کله چې لږ له مسجده راووځي، بیا نو هغسې خوږ نه وي، لکه څنګه چې بې ځان ښودلی دی، په عملي لحاظ بلا مشکلات لري.

د پوهنتون استاذ، ډاکټر، انجنیر، خټګر، مزدور، غریب او شتمن، امي او عالم ټول په عملي لحاظ په ستونزو کې ګېر یو او دا ستونزې دومره سخت حل نه غواړي، یوازې د هوډ او عزم تشــــه ده چې نه مو پرېږدي هغه څه چې پکې بد نام یو، له منځه یوسو.

استاذ په ښوونځي کې زده کوونکو ته هره ورځ دا ویلی شي چې ښه اخلاق خپل کړئ او له نوروسره ښه چلند کوئ، مګر په عملي لحاظ ډېر کم داسې دي چې زده کوونکي له ځانه متأثره کړي او هغوی بې په نقش قدم لاړ شي.

پلار او مور خپلو بچیانو ته روزمره ددې یادونه کولی شي چې په ټولنه کې د اوســـــېدو آداب زده کړئ، مګر په عملي لحاظ هغوی ته نه شي ښودلی چې ګډ ژوند باید څنګه وشي؟

لیکوال او شاعر په لیکنه او شعر کې ځان د دین او هېواد تر ټولو ستر خیر خوا ثابتولی شي؛ خو په عمل کې چې کله هم د چور او چپاو فرصت ورته برابرېږي، دده عمل بیا هغه غوړ اقوال له یومخې هېر کړي وي.

مونږ چې په دا خپل نږدې تاریخ کې څومره تجربې لرو، شاید ډېر کم ملتونه بې ولري، ولې له دې ټولو تجربوسره بیا هم مونږ تیند کونه خورو او هغه وګړي چې دغه تجربې اصلاً د همدوی د خامیو په وجه ملت ته ورسېدې، ګورو بې چې هماغســــې بلکې تر هغې بې هم وضعیت زیات خراب دی.

مونږ په خپلو ټولو مجلســـونو کې د یو پر ځای دوه او درې سلامونه اچولی شو، مګر دېته متوجه نه یو چې د سلام معنی خو د امن او ډاډ ده، د مینې او احترام ده، له یو بل سره د همکارۍ او خواخوږۍ ده... او ډېر کله په داســې چا سلام اچوو چې تر ټولو زیات ورته په زړه کې ګوړې ماتوو.

کله چې د افغانستان د شته بد حالت یادونه وشي؛ نو ټول بیا پړه په هاغه او دغه اچوو او ځانونه د دوی له منځه داسې وباسو، ګویا که مونږ فرښـــتې او یا پیغمبران یو او هیڅ ګناه راڅخه نه کېږي... خو له دې سره سره هم کله چې د وطن د تخریب او تعمیر ترمنځ تصادم راشي او په تخریب کې بې زمونږ کومه شخصي ګټه وي، بیا تر ټولو ور کې مونږ مخکې یو.

ولې داسې وشي چې مونږ د خبرو اتلان او د کار او عمل تر ټولو کمزوري خلک شو؟

په مونږ کې به کله دا احســاس را پیدا کېږي، چې له مخلوقه وېره ونه لرو او له خالق تعالی ووېرېږو! زمونږ کارونه، خدمتونه او فعالیتونه ټول ولې نمایشــــــي شي؟ رسمي مأمورین او چارواکي ولې د ځان ښه ښودلو په نیت څو د ریا کارونه نمونې ته را وړاندې کوي او بیا د پردې تر شا په هره ناروا او فساد بریک نه نیسي؟

دا ټولې پوښتنې په حقیقت کې د عملي مېړانې د نه شتون دي، مونږ زورور او اتلان یو؛ خو کله چې مو شخصي مصلحت وي او ډېر تنبل او کمزوري یو کله چې ټولنیزه ګټه وي اوزمونږ برخه پکې نه وي.

دلته هیڅ داسې ساده پیدا نه شو چې ډاکټر ته ورغلی وي، هغه بې تشـــــخیص کړی وي او دوا بې ورته لیکلې وي، مګر ده نسخه راخیستې وي او له ځانه سره بې چېرته پټه ایښې وي او د «خیر به راپېښ شي» په نیت همداسې د الله تعالی هیلې ته ناست وي.

داسې نه کېږي، ځکه ناروغ په دې قانع دی چې پرته له دوا رانیولو بله لاره نه شته، همدغسې یو قناعت زمونږ په ولس کې په دې اړه هم په کار دی، چې پرته له عمل څخه د خلاصون بله لار نه شته.

په غوږو او زړو خبرو یوازې هغه خلک دوکه کېږي چې د عقل کمزوري ولري، نننی بشـــر ځان ډېر هوښیار ګڼي، له همدې کبله نو په اسانۍ خبرو ته نه تسلیمیږي، دوی ته باید په عملي لحاظ مونږ بېلګه شو.

دا نن چې د پلار خبره بچی نه مني، د استاذ خبرې ته شاګرد غوږ نه ږدي، د مشر او سپین ږیري احترام نه شته، آمر او مامور سره په ټکر دي، ورځ تر بلې له یو بله واټن او بې باوري زیاتیږي، لامل یې د عملي میړانې نشتوالی دی، پلار که د زوی، استاذ که د شاګرد، مشـــر او سپین ږیری که د کشـــر او ماشوم او آمر که د مأمور لپاره په عملي لحاظ نمونه شي، دغه هر څه ورسره ختمیږي.

قرآن کریم مؤمنانو ته خطاب کوي او هغوی یې له دې وېرولي چې عملي میړانه ونه لري خوصرف خواږه وغږیږي، فرمایي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ، كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللَّهِ أَنْ تَقُولُوا مَا لَا تَفْعَلُونَ. الصف/۲، ۳

ژباړه: ای هغه کســـــانو چې ایمان یې راوړی دی، ولې هغه څه وایئ چې نه یې کوئ، د الله تعالی په وړاندې خو دا کار چې وایئ او عمل نه کوئ، د ډېرې غوسې سبب دی.

کله چې قیادت د ولس لپاره عملي میړانه ښکاره کړي، ولس هم د عملي میړانې ننداره وړاندې کولی شي، د حضـرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه په خلافت کې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د هغه وزیر هم وو او د مدینې منورې قاضي هم، حضرت عمر رضي الله عنه یو کال د قضـاء دنده په داسې شکل وکړه چې هیڅوک ورته حاضر نه شول، له امیر المؤمنین ابوبکر رضي الله عنه څخه یې وغوښتل چې د اړونده وظیفې په اړه یې استعفاء ومني، ابوبکر رضي الله عنه ورته وایي: آیا د قضـــــــاء له سختۍ څخه استعفاء ته اړ کېږې؟

عمر فاروق رضي الله عنه ورته فرمایي: نه ای د رسول الله صلی الله علیه وسلم نائبه، مګر ما ته د مسـلمانانو اړتیا نه شته، هر یو خپل حق پېژندلی، زیات نه غواړي، خپل مســؤلیتونه پېژني، په هغې کې نیمګړتیا نه کوي.. هر یو نورو ته هغه څه خوښوي چې ځان ته یې غواړي، کله چې تري یو غایب شي؛ نو نور یې پلټنه کوي، که مریض شي، پوښـــتنه یې کوي، که فقیر شي، مرســـته ورسره کوي، که یې څه ته ضرورت پیښ شي، ورسره ملاتړي کېږي... د دوی دین سراسر خیرخواهي ده، د دوی اخلاق دا ګرځېدلي چې په نېکۍ امر او له بدۍ منع کوي؛ نو دوی به څنګه له یوبل سره جګړه وکړي؟

سهل بن عبد الله رحمة الله فرمایي: علم د دنیا له لذتونو څخه یو دی؛ خو کله چې پرې عمل وشي، د اخرت لپاره شي.

یوسف بن الحســـــین رحمة الله فرمایي: په ادب سره علم حاصلولی شې، په علم سره دې عمل اصلاح کېږي، په عمل سره حکمت لاسته راوړی شې، په حکمت سره په زهد پوهېږې او توفیق یې درکول کېږي، په زهد سره د دنیا له مینې لاس اخلې، کله چې دې د دنیا مینه پرېښوده، د اخرت مینه دې په زړه کې ځای نیسـې او کله چې دې د اخرت مینه واخیســـته، بیا نو د الله تعالی رضا لاسته راوړې.

صالح بن رستم رحمه الله فرمایي: ماته أبو قلابه رحمه الله وفرمایل: کله چې الله تعالی نوی علم درکاوه؛ نو عبادت (عمل) کې دې هم نوی والی راوله او ستا قصد باید دا نه وي چې یوازې خلکو ته یې ووایې.

عبد الله بن المعتز رحمه الله به فرمایل: بې عمله علم د بې مېوې ونې په څېـر دی، همدارنګه دده قول دی: د منافق علم یوازې په خبرو کې وي او د مؤمن علم په عمل کې څرګندیږي.

یونس بن میسرة رحمه الله فرمایلي دي: علم وایي: ای د آدم زویه، ته زما په لټون پسـې یې، مګر ما په دوه حرفونو کې موندی شې: د کوم خیر په اړه چې پوهېږې کوه یې او کوم شر چې پېژنې، ځان ترې ساته.




# د افضل خان خټک ژوند او علمي هڅې

لیکوال:اکاډمیسین دوکتورسید محی الدین هاشمي

افضـــل خان خټک د خوشحال خان لمســـی د اشرف خان هجري (۱۰۴۴-۱۱۰۶هـ ق) زوی و، چې په (۱۰۷۵هـ ق یا ۱۰۷۶هـ ق) کال یې د پښـتونخوا په اکوړه خټک کې سترگې نړۍ ته پرانیســتې وې .ښوونه او روزنه یې د خټکو د کورنۍ په علمي – فرهنگي چاپېریال کې د خپل نیکه (خوشـحال خان خټک) په ځانگړې پاملرنه ترسره شـوې وه. وروســته بیا د یو نومیالي سیاسي، علمي او فرهنگي شخصـــیت په توگه را څرگند او له لوړ نوم او شهرت څخه برخمن شوی دی. هغه مهال چې نیکه یې له اورنگ زیب سره په وسـله واله مقابله او مبارزه بوخت و، پلار یې د گورگاني مغولي چارواکوله خوا بندي هند ته ولېږل شو (۱۰۹۲هـ ق). د ده عمر دا مهال د شپاړس یا اوولسـو کلونو و، د سرداری د ډېروچاروپه سمبالولو کې یې فعاله ونډه درلوده. په (۱۰۹۸هـ ق) د مغولي حکومت له خوا کابل ته یرغمل راوستل شو او دوه کاله دلته پاتې شو.

په (۱۱۰۴هـ ق )کال یې د خټکو مشري،سرداري او جاگیر داري تر لاسه کړه. له یو لړ کورنیو مخالفتونوسره یې لږو ډېر پنځه لسیزې او په ځینو روایتونو شپږ اووه لسیزې په ډېرتدبیر د مشرۍ اوسردارۍ چارې ترسره کړې.

د افضـــــــل خان خټک د مړینې د کال په ځینو منابعو کې ۱۱۶۱ هـ ق او په ځینو کې(۱۱۸۳ ) ښودل شوی دی. استاد پوهاند عبدالشکوررشاد د گلشن روه په تعلیقاتو کې (۱۱۵۳ هـ ق) کال بللی دی.

له موضوع سره په اړیکه کې د نوموړي د سیاسي او ټولنیز ژوند پېښو په اړه د زیاتو څرگندونو کومه اړتیا نه وینو، یوازې د ده په فرهنگ پالنه او د علمي – فرهنگي څېرې په توگه د ده د شخصــــیت په اړه څېړنیز بحث تر دوو ځانگړو څنگزنو سرلیکونو لاندې کوو. لومړی د ده خپل لیکلي او ژباړلي آثار درپېـژنو او بیا د هغوآثارو څو ښیلگـې هم معـرفي کوو چــې د نوموړي په غوښتنه یا سپارښتنه لیکل شوي، ژباړل شوي او یا خطاطي شوي دي. دغســـې به وکړای شو چې د نوموړي علمي فرهنگي څېره ښه دروپېژنو.

**لومړی - د افضل خان خټک آثار:**

افضـــــل خان خټک چې د خټکو د علمي فرهنگي کورنۍ په چاپېریال کې زوکړی، را لوی شوی او روزل شوی و، د علمي ټولنیزې سیاسي ښوونې او روزنې چارې یې د خپل نیکه په ځانگړې پاملرنه ترسره شـوې. د خپل وخت دودیز دیني، ادبي علوم او فنون یې لوستي او د خپل نیکه او پلار په څېر یې د مشـرۍ اوسرداری تر څنگ قلم هم چلولی او ډېر ارزښتمن آثار یې لیکلي او ژباړلي دي. تر اوسه یې څلور منثور لیکلي او ژباړلي آثار تر لاسه شوي، چې دلته یې په ډېر لنډون سره درپېژنو:

**۱) تاریخ مرصع:**

یو ډېر ارزښتناک تاریخي اثر دی، چې افضل خان خټک د (۱۱۲۰ هـ ق ۱۱۳۶ هـ ق) کلونو تر مینځ لیکلی دی. دا کتاب لومړی ځل د بېلابېلو قلمي نسـخو له مخې په (۱۹۷۳) کال د دوست محمد کامل مومند په مفصلـه سریزه او تعلیقاتو په ۱۵٦٦ مخونو کې د پېښور یونیورسټي بک ایجنسي له خوا چاپ شوی دی.

د تاریخ مرصع په لیکلو کې افضل خان خټک د خواجه نعمت الله هروي له مخزن افغاني، خوشحال خان خټک له بیاض او د اخوند درویزه د «تذکرة الا برارو لا شرار» او «مخزن الاسـلام» او «طبقات اکبري» آثارو څخه ډېره اسـتفاده کړې، د «مخزن افغاني» او تذکرة الابرار والاشرار ډېرې برخې یې ژباړلي او د بیاض ډېرې برخې یې کټ مټ را اخیسـتي او د خپلې زمانې پېښې یې پخپله لیکلې دي.

**۲) علم خانه دانش:**

دا اثر د لرغوني حکایتي او داستاني اثر «کلیله و دمنه» پښـتو ژباړه ده . دا اثر اصل کې په سانسـکریت ژبه لیکل شوی او بیا وروسته د پېریو په اوږدو کې د نړۍ نورو ژبو ته ژباړل شوی دی. په دري ژبه له عربي ژبې څخه د دې اثر څو ژباړې شـوې دي، خو افضل خان خټک دا اثر د ابو الفضل له ((عیار دانش)) څخه پښتو ته د (علم خانه دانش) په نامه را ژباړلی دی.

افضـل خان خټک د دې اثر د ژباړې چارې د (۱۱۲۸ هـ ق )د صفرې په لومړۍ پیل کړې او په (۱۱۲۹ هـ ق) کال د محرم د میاشتې په ۱۳ نېټه یې بشپړې کړې دي. دا اثر تر اوسه نه دی چاپ شوی، خو قلمي نسـخې یې له افغانسـتان او پښـتونخوا سربېره د نړۍ د نورو هېوادونو په موزیمونو او آرشیفونو کې د خطي نسخو په مجموعه کې شته.

پروفیسور ډورن پخپل اثر پښتو منتخبات او میجر راورټي په گلشـن روه کې د افضـل خان خټک د دغه اثر ځینې برخې چاپ کړې دي.

**۳) منثوره باز نامه:**

د پښـتو نثر اته سوه کاله « اثر لیکوال د افضــل خان خټک د آثارو د پېژندنې، په لړ کې (منثوره باز نامه) هم را پېژني چې په (۱۱۲۱ هـ ق ) کال لیکل شوې ده. د افضل خان د دې اثر یوه قلمي نسخه، چې د پېښـور د پښـتو اکیډیمۍ په کتابتون کې شته، په )۱۲۹۲ هـ ق( کال خطاطي شوې ده، د همدې نسـخې له مخې همیش خلیل په زیار او سریزه په (۱۹۹۴ م) کال د اداره علم و فن پاکستان له خوا په ۷۱ مخونو کې چاپ او خپره شوې ده.

**۴) عرفاني تفسیر:**

هانری جارج راورټي د خپل مشـهور اثر (پښـتو گرامر) په سریزه کې لیکلي چې افضـل خان خټک د قرآن کریم پښـتو تفسیر هم لیکلی دی. پیاوړی څېړونکی حبیب الله رفیع د پښـتو د قلمي نسـخو د لټون په لړ کې د دې اثر د لومړیو پنځلسـو پارو تفسیر په زنځیری یا «خط نامه» د خوشحال خان خټک ایجاد نومي اثر کې په ډېر لنډون سره معرفي کړی دی.

د استاد حبیب الله رفیع د څرگندونو له مخې دا په پښتو ژبه د قرآن کریم یو لرغونی تفسیر دی چې افضل خان خټک له کوم دري تفسیر څخه پښتو ته را ژباړلی دی. د دې تفسیر لومړۍ برخه پنځلس پارې تر لاسه شوې، چې ۴۲٦ پاڼې لري او کچه

يې ۲۳×۳۱ سانتي متره ده، ليک يې نســتعليق او ليکدود يې د ختيکو د کورنۍ ليکدود دی، خو دا چې وروستۍ برخه يې تر اوسه نه ده ترلاسه شوې، دا نه څرګنديږي چې افضــل خان خټک دا تفســير کله را ژباړلی دی. دا يو عرفاني تفســير دی، عرفاني نکات او تشــريحات لري او ګڼ شمېر عارفانه او لاربنود شعرونه له عربي او دري څخه پکې راغلي او په شلګونه بيتونه او قطعې په پښتو ترې را ژباړل شوي دي.
افضـــــل خان خټک پر ليکوالۍ سربېره شاعر هم و، ښايي د شعر ديوان به يې هم درلود، خو تر اوسه نه دی ترلاسه شوی. ځينې منظومې ټوټې يې په تاريخ مرصع، علم خانه دانش او عرفاني تفســـــير کې خوندي دي، خو د يادونې وړ ده چې د شعرونو هنري اړخ يې کمزوری دی.
دويم: د افضل خان په هڅونه او سپارښتنه ليکل شوي او ژباړل شوي آثار :د افضل خان خټک د ژوند او آثارو په هکله د ترسره شويو څېړنو او د ده د خپلو آثارو له مطالعې څخه جوتيږي چې ستر فرهنګپال شخصـــيت و او د خپل نيکه خوشحال خان خټک په څېر يې د پښـتني فرهنګ د ودې او پرمختيا له پاره ډېرې هيلې درلودې ، چې د هغو په عمل کې د پلي کولو له پاره يې ډېرې علمي او عملي هلې ځلې هم کړې دي. برسيره پر دې چې د خپل نيکه (خوشـحال خان خټک) آثار يې را ټول او پرخطاطانو يې څو څو نسخې وليکل، ډېر پښـتانه عالمان او اديبان يې وهڅول چې په پښـتو ژبه کتابونه وليکي او يا يې له عربي او دري ژبو څخه را وژباړي.
د خوشحال خان خټک زوی ګوهر خان خټک، چې د خپل وراره (افضل خان) په غوښتنه او سپارښتنه يې د «قلب السير» په نوم له دري ژبې څخه د اسلام د ستر پيغمبر حضـــرت محمد صلی الله عليه وسلم يو سيرت را ژباړلی دی، د سيرت په سريزه کې د افضل خان خټک فرهنګپالنه او فرهنګي هڅې داسې ستايي:
((بل سبب د کتاب دا و چې افضل خان زوی د اشرف خان مرحوم لمسی د خوشحال خان خټک کرلاڼي غفر الله له چې سن د هجري زرسل شل دی... نور مساعي که د پښـتو کتابونه له هره قسـمه، لکه فارسيانو کړي دي، مرتب شي، د نيکه شعر يې واړه په بياضـــونو ځای په ځای متفرق و، د ده په تالاش چې څو مدت په دا ســـعی کې و، له هر چا به يې جمع کړ، ديوان يې مرتب ، بلکه کليات د شـعر يې چې څه و په نظم په نثر، لکه دسـتار نامه، فراقنامه... وغيره کتابونه يې واړه په کاتبانو څو څو ځله و کښـــــل. په اطراف يې د شهرت له پاره و هر چا ته واستول، حق تعالی يې توفيق د نيکې رفيق کړه. په مجلس به يې هميشـه ويل چې که د چا څه طبيعت قوت وي چې که پښـتو کتابونه، لکه فارسيانو له عربي په فارسي ترجمه کړل څوک يې له فارسي ترجمه کاندئ...))
د دغسـې آثارو شمېره ښايې ډېره وي، چې افضـل خان خټک په غوښتنه او سپارښتنه ليکل شوي، ژباړل شوي او يا خطاطي شوي وي. دا موضوع د پښـتو قلمي نسـخو دقيقه کتنه او پراخه څېړنه غواړي. موږ دلته د بېلګې په توګه څو هغه آثار په ډېر لنډيز درپېژنو چې څېړنپوه زلمی هېواد مل په خپل اثر (پښتو نثر اته سوه کاله) کې په لږو ډېر تفصيل معرفي کړي دي:
**۱ـ قلب السير:**
د اسلام د ســتر پيغمبر د ســيرت په باب، دا لو ی اثر د خوشــحال خټک زوی ګوهر خان خټک د خپل وراره په غوښـتنه په (۱۱۲۰ هـ ق) کال ليکلی دی. نوموړی د سيرت په سريزه کې د افضل خان خټک د فرهنګپالنې له ستاينې وروسته (چې د هغې متن مود مخه ولوست) په دې هکله داسې ليکي » :و ماته به يې اکثر اوقات مخ را وجار يوست. اګر چې زما قوت هونيره نه و، ليکن چې نظر مې په تصـــنع د اوقات وکړ، ومې ليد چې څه عمر ګرانمايه ضايع درومي. په هر حال مې دې محنت ته ملا وتړله، نور مې اکثر کتابونه مطالعه کړه چې که يو په قال په حال مضـبوط او معتبر وي له فارسي ژبې يې په پښـتو ترجمه کړم، دا کتاب مې بيا موند....»

گوهر خان خټک دا نه ده ښودلې چې د دري ژبې د کوم لیکوال لیکلې سیرت یې پښتو ته را ژباړلی دی. د معنا او حجم په لحاظ دا لوی او پنډ کتاب د دوکتور محمد زبیر حسرت په سریزه او تعلیقاتو د بلوچستان کویټې اکیډمۍ له خوا په لویه کچه په (۲۰۱٦) م کال په (۵۷٦) مخونو کې چاپ شوی.

**۲ـ اختیارت بدیعي:**

دا اثر عبدالحلیم نومي لیکوال، ژباړن او خطاط، چې د افضل خان خټک معاصرو، د نومورېي پر غوښتنه، په (۱۱۳۰ هـ ق) کال له دري څخه پښتو ته را ژباړلی دی. په دري ژبه د دې اثر لیکوال زین الدین علی بن حسین انصاری و، چې په زین الدین عطار مشهور و (۷۳۰ هـ ق کال زو کړی)، په (۷۷۰ هـ ق ) کال یې دغه اثر لیکلی دی. عبدالحلیم د دې اثر د ژباړې په باب د افضل خان خټک غوښتنې او سپارښتنې ته داسې اشاره کوي:

((خانصاحب چې د بخت دی، بخشنده د دولت د تخت دی، عقل کامل لري، رانجه د ستر گو د بینایۍ، توتیا د کسور دانایې، دعا گوی عبدالحلیم ته وفرمایل چې اختیارات بدیعی که په پښتو ژبه په آسان عبارت ترجمه شي...))

اختیارات بدیعی یو طبي اثر دی، د دارو درملو په باب ښه په زړه پورې معلومات لري، تر اوسه نه دی چاپ شوی، یوه بشپړه نسخه یې چې ۸۰۴ مخونه لري او په (۱۱۹۱ هـ ق) کال د کاظم خان شیدا له پاره خطاطي شوې د هند د رامپور په رضا لایبریرۍ کې خوندي ده.

**۳ـ معارج القصص:**

د پیغمبر صلی الله علیه وسلم کیسې د ي چې پورتني یاد شوي عبدالحلیم په (۱۱۲۰ هـ ق) کال د افضل خان خټک په غوښتنه له بېلابېلو کتابونو څخه را ژباړلي او تألیف کړې دي. په دې پنډ کتاب کې چې ۱۲۳٦ مخونه لري او له حضرت آدم (ع) څخه تر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم پورې د پیغمبرانو د ژوند پېښې او معجزې بیانوي، د پښتو نثر یوه ستره زېرمه پکې خوندي ده. دا کتاب تر اوسه نه دی چاپ شوی، یوه بشپړه قلمي نسخه یې د پېښور په آرشیف کې خوندي ده.

**۴ـ د تاریخ اعثم کوفي پښتو ژباړه:**

دا اثر په عربي ژبه ابو محمد احمد بن اعثم الکوفي (۳۱۴ هـ ق مړ) د فتوح ابن عثم لیکلي او محمد المستوفي الهروي په (۵۹٦ هـ ق) په دري ژباړلی او بیا محمد مظفر نومي شاعر او لیکوال د افضل خان خټک په غوښتنه او سپارښتنه په(۱۱۲٦ هـ ق) کال پښتو ته په نثر را ژباړلی دی. دا کتاب د راشدینو خلیفه گانو پر احوال برسیره تر حضرت معاویه او د هغه د زوی یزید تر واکمنۍ پورې د اسلامي فتوحاتو تاریخ بیانوي. ژباړونکي د افضل خان خټک غوښتنې او هڅونې ته داسې اشاره کړې ده:

په مدد د پاک سبحان — په اقبال د عالیشان
چې تاریخ اعثم کوفي — په پښتو شوله فارسي
که قبول د خانصاحب شي — مفتخر به یې کاتب شي

دا کتاب تر اوسه نه دی چاپ شوی. یوه معلومه نسخه یې د افغانستان په ملي آرشیف کې هم خوندي ده، چې ۳۴٦ مخونه لري.

**۵ـ د کیمیای سعادت پښتو ژباړه:**

د نومیالي دیني عالم امام غزالي د کیمیای سعادت پښتو ژباړه د افضل خان خټک په غوښتنه ترسره شوې، خو دا چې تر لاسه شوې نسخه یې د پای له خوا نیمگړې ده، د ژباړونکي نوم یې نه دی څرگند او نه یې د ژباړنې نېټه جوته ده. دا نسخه چې ۸۲۲ مخونه لري، د پېښور په آرشیف کې خوندي او د خټکو په لیکدود لیکل شوې ده.

**٦ـ افضل نامه:**

دا د یوفارسي فقهي کتاب پښتو ژباړه ده چې ګوهر خان خټک په (۱۱۲۳ هـ ق) کال د افضل خان په غوښتنه ترسره کړې ده، نو ځکه یې ژباړن افضل نامه نومولی ده، د دې کتاب یوازینی معلومه خطي نسخه په پښتونخوا پېښور کې د میا طارق شاه کاکا خېل په ځانګړي کتابتون کې خوندي ده.

د پښتو قلمي نسخو په ژوره کتنه ښايي داسې نور ډېر آثار هم ترلاسه شي، چې د افضل خان خټک په غوښتنه او سپارښتنه لیکل شوي، ژباړل شوي او خطاطي شوي دي. دا او داسې نور علمي – فرهنګي فعالیتونه افضل خان خټک د خوشحال خټک دا دبي مکتب د پیاوړي استازي په توګه را پېژني او کولی شو چې د یو علمي فرهنګي ټولنېز او سیاسي شخصیت په توګه پرې په خپل ادبي تاریخ کې داسې قضاوت وکړو:

د افضل خان د سیاسي، ټولنېز او فرهنګي ژوند او کارنامو له مطالعې څخه جوتیږې چې نوموړی د دې تر څنګ چې یو مدبر سیاستوال او پښتون مشر و، لوړ علمي او فرهنګي شخصیت هم و چې د خپلې ژبې د پرمختیا له پاره یې لکه د خپل نیکه (خوشحال خان خټک) ډېرې هیلې درلودې او د خپلو دغو هیلو په عمل کې د پلې کولو له پاره یې ډېرې علمي او عملي هڅې او هلې ځلې کړې دي. د مشرـۍ اوسرداری له درانه مسوولیت سره سره یې قلم له لاسه نه دی غورځولی، هم یې پخپله آثار لیکلي او یا ژباړلي دي لکه: )تاریخ مرصع، علم خانه دانش، منثوره بازنامه او عرفاني تفسیر په نومونو ترلاسه شوي آثار( چې د مخه مو په ډېر لنډیز دروپېژندل) او هم یې نور هڅول چې په پښتو ژبه کتابونه ولیکي یا یې وژباړي او له دغې لارې د پښتو ژبې فرهنګي زېرمه بډایه کړي، چې د بېلګې په توګه د ګوهر خان خټک قلب السیر، د عبدالحلیم اختیارات بدیعي او معارج القصص، د محمد مظفر تاریخ اعثم کوفي او نور نومونه یادولی شو، چې د افضل خان خټک په غوښتنه او سپارښتنه ژباړل شوي دي. او تر ټولو مهمه دا چې د خوشحال خټک او د خپلې کورنۍ د نورو غړو او هم مهالو منظوم او منثور آثار یې پر خطاطانو څو څو نسخې ولیکلې او هرې خواته یې خپرې کړې. همدارنګه ځینې داسې نورې پښتو منظومې او منثورې نسخې مخې ته راځي، چې د خطاطۍ چارې یې د ده په غوښتنه، سپارښتنه او پاملرنه ترسره شوي. چې دا ټولې چارې موږ ته افضل خان خټک د یو پیاوړي علمي او فرهنګي شخصیت او د خوشحال ادبي مکتب د استازي په توګه را پېژني

**ماخذونه**


۱. رشاد عبدالشکور(پوهاند) د ګلشن روه سریزه او تعلیقات، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، ۱۳۵٦ هـ ق کال، ۲۱ مخ.

۲. بختاني عبدالله (خدمتګار) سر محقق، خوشحال خان او یو څو نور فرهیګیالی خټک، په بلجیم کې د افغانانو د تفاهم او د پیوستون ټولنه، ۱۳۸۰ لمریز کال،۲۷۳ مخ.

۳. پوهاندرشاد، د ګلشن روه سریزه او تعلیقات، ۲۲ مخ.

۴. رفیع، حبیب الله، د دبیر دانش، سریزه او تعلیقات، پښتو اکیډیمی پېښور،۱۹۹۴م کال، ۴۸ مخ.

۵. رفیع حبیب الله،زنځیری یا خط نامه د خوشحال خان خټک ایجاد، پښتو اکیډیمی پېښور یونیورستی، ۱۹۸۵م کال، ۱۵۵ مخ او د سپېدې مجله، ۱۳۷۰ کال څلورمه ګڼه، ۱-۱۰ مخونه.

٦. پښتو نثر اته سوه کاله، ۳۲۸-۳۲۹ مخونه.

۷. پروتنې اثر، ۳۲۹ مخ.

۸. پښتو نثر اته سوه کاله، ۳۳٦ مخ..

۹. پورتنی اثر۳۳۵-۳۳٦ مخونه.

۱۰. همدا اثر، ۳۳۹ مخ.

۱۱. یاد شوي اثر ۳۴۰-۳۴۱ مخونه.

۱۲. قلب السیر، د ګوهر خان خټک ژباړه، د ډاکټر محمد زبیر حسرت سریزه، بلوچستان کویټه پښتو اکیډمی، ۲۰۱٦م کال، ۳۵مخ.